
Ketabton.com

ښاغلی قیام‌الدین خان « خادم »
د «روهي ګلاونه» مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتو ټولنی له خپرونو څخه :

دخپرونو نمبر ( ۷۱ )

# روهی گلونه

مؤلف

قیام الدین « خادم »

دپښتو ټولنی ددائرةالمعارف دترجمې دڅانگی مدیر

۱۳۲۵

دکابل

عمومی مطبعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زیری

بلبلان پسی ناري وهي رحمانه ! دبهار گلونه شویدي که نه دي ؟

«رحمان»

* * *

دسوندك موندك سپلي اخري کیږي په بلبلو زیری وکړه : بیا بهار دی

«خوشحال»

* * *

د گلونو قدر چا زده ؟

دبلبل یا دبو را زده

«خوشحال»

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ:

# روهي ګلونه

هرطرف ته نو بهار دی غوړ يد لی
ستړ ګی وخوره چه‌به دا ننداره نه کا
( خوشحال )

دا ښکلي ګلونه چه دښاغلي خادم په زيار راغونډ شوی دی او د پښتو ادب مينانو ته دسوغات په توګه وړاندی کيږی ، هغه ګلونه دی چه پښتنو د پخوا نيو شاعرانو دزړه په وينو روزلی شوی دی .

ښنګه چه تر اوسه پوری د پښتو ژبی‌په ادبياتو کښی داسی يو جامع منتخبات نه و ، او ښاغلي خادم (چه دپښتو يو پيا وړی اديب دی) په دې کارګوتی پوری کړی اوبريالی شوی دی ، نوپښتو تولنه داخپله وظيفه ګنی چه ددی فاضل دادستايلو وړ خدمت وستاينی اوپه دې انتخاب ده ته تبريك ووايی اوهم په‌دې ګلونوسره دهغو برد يسانو روح ښاد اوياد کړی چه دوی به د خوازه وطن په بيلتون کښی‌ويل :

قاصدان له روهه نه راځی مدت شو
سلا م باد را رسوی منت ئې تم دی

اوله خدايه غواړی چه داسی ډېر آثار پښتنوته وړاند ی کړی .

( عبد الرؤف « بينوا » )
دپښتو تولنی عمومی‌مدير

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تهدیه

زه دا درنگ رنگ تا زه گلونو دسته هغه چانه به مخکښې ږدم چه تر هر چا اوتر څه دروه په گلانو مین دی !

دشاهانو ور کړه لعلو چواهر وی
دادب دخاوندانو ؛دزړه وینی

« خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

داوي څښتن حمد اوثنا وايو . او دده په هغه لا استاځي چه تر ټولو غوره دی ؛ او په آل اولادئي ، درود لېږو او ددي شکر کوو چه په لږه موده کښي مونږ دخپل ملت (پښتو اوښتو ټولی ) په خدمت کښي «چه زمونږ دمشرانو او خصوصاً دګران ټولواك اعلیحضرت محمد ظاهرشاه رضامندی هم په دي کښي ده »
خومره چه کېدی شوه دهغې نه ډېر کامیاب شو . یعنی په کوم وخت کښي دپښتو خدمتګارانو زیات آثارولیکل ؛ چه لږله دغو څخه چاپ شوی دی ؛ او ډېر لاپاتي دی په فرصت کښي به چاپېږی او دذوق خاوندانو ته به وړاندی کېږی .

یوله دغو آثارو څخه چه دپښتو په ادب کښي ور ته ډېره اړتیالیدی شوه دا کتاب دی چه د «روهی ګلونو» په نامه نن له چاپه راووت . دا کتاب دډېرو پخوانو هغو شاعرانو دا شعارو انتخاب دی ، چه نن یې آثار ډېر لږ کېږی ، دا اشعار او ددغو شعراؤ دیوانونه ماپه ډېر کوښښ پیدا کړیدی . اوپه ډېر زحمت سره مې تري دا مجموعه جوړه کړېده ؛ چه په خپل ډول اوترتیب کښي دنورو ژبو دیوي ، انتخابا تو ته هم نده ورته .

او داله دي کبله چه دپښتو شعراو ادب ځانته روح او ځانته لاری لری . مادغه روح او دغه اسلوب په نظر کښي نیولی دی ؛ اوهغسی مي د کتاب دترتیب نقشه جوړه کړېده . اوبیا مي دا کتاب لیکلی دی ددي کتاب په ترتیب کښي نوي خبره داده چه دتهجی تورو یادردیف او قافیي په لحاظ ندی ترتیب شوی بلکه په ترتیب کښي موضوع اومعنی ته زیات اهمیت ورکړی شوی دی ، نوهر خومره چه دا مجموعه یوه ادبي مجموعه ده ؛ او دا دادب اوشعر دنزاکتو او شاهکار یو څخه ډکه ده ؛ هغو مره دژوند او زندګی داسرارو خزانه هم ده !

په دغه شان سره دپخوانو کلا سیکی شعراؤ شعر په شپږو بابونوویشل شویدی چه په هرباب کښي فصلونه دی ؛ اوپه فصلونو کښي هم ځا نته ځانته عنوا نونه دی . او دهر عنوان لاندی د مختلفو شا عرانو اشعار لیکلی شویدی . امید دی چه دقدر دانانو په نزد به زما دا خواری ځای و نیسی ؛ اوپه درنه سترګه به ورته و ګوری !

کابل - تسند وز سازی - قیام الدین خادم

# لومړی باب

## مینه او محبت

لويه خدايه ، لويه خدايه ! ستا په مينه په هر ځايه
غر ولاړ دی درناوی کښېږي توله ژوی په ځارې کښېږي
د لته دی د غر و لمنی زموږ کښېږدی دی پکښېږي يلني

داو ګړي ډېر کړی خدايه !
لويه خدايه ، لويه خدايه !

دلته لښ زموږ اور بل دی وړه کور ګی دی، ووډ بورجل دی
مينه ستا کښېږي موښ مېشته يو د بل چا په مله تله نه يو
هسك او ځمکه نغښته ستا ده د مهر و وده له تا ده

دا يا لنه ستا ده خدايه !
لويه خدايه ، لويه خدايه !

« بيت بابا »

❀ ❀ ❀

پرلويو غروهم په دښتو کښېږي په لوی سهار په نيمو شپو کښېږي
په غاړه ژغ او په شپېلکو کښېږي ياد وير ژليو په شپېلو کښېږي

ټول ستا ديا د ناري سوري دی!
دستا د مينې ننداری دی !

جنډی زرغون که په ښديا دی ډېر ښې خواته په خندا دی
ترناك چه خردی په ژړا دی دا ټول اغېز د مينې ستا دی

توله ښکل دی ستا له لاسه
ای دپا سوالو پا سه پا سه !

که نمر روښانه مخ يې سپين دی يا دسپوږمۍ تندی ورين دی
که غردی ښکلي پرتمين دی لکه هنداره مخ يې سپين دی

ستا دښکلا د اپلو شه ده
دا يې يو سپکه ننداره ده

---

لغات : هسك آسمان . مېشته : ډېره . ځاري : عجز . جنډی : ګل . ترناك : ديورود نوم دی .

دلته لوی غرونه زرغونېږی — دړونه وږمې پکښې چلېږی
بوراوې شا وخوا کړېږی — ستړ گی لیدو ته یی هېښېږی
لویه خاوندہ دا ټوله ته یی
تل دنړ ی په ښکلیدہ یی

خاوندہ! ښکلی ستا جمال دی — ښکاره یی لوریه لور کمال دی
کهورځ کهشپه کهپېړی کال دی — ستا دقدرت کمکی مثال دی
ستا د لور ونو یوه ر نیا دہ
دلته چه جوړه تما شا دہ

زړه مې دا ستا دمینی کوردی — سوی دعشق په سوځندا وردی
رب یی وتاته یه هر لوردی — بیلهدې هیڅ دیورك یی پلوردی
ستا دجمال په لید و ښاد دی
که نهوی دغه نور بر باد دی

یهغرو کښې ستادعشق شپېلکی دی — ددې نړ ی په عشق سمی دی
کهغټ که ووړ کهپنډه نری دی — ستا د جمال بحری هر شی دی
چهپردنیامې ستر گی پرې شوې
ستا دجمال په ننداری شوې

نه هسك نه مځکه وهتورتمۀ — تیا ر ه خیره وه ټول عدم ۀ
نه دا ابلیس نه نبی آدم ۀ — ستا د جمال سو چه پر تم ۀ
چهشوښکاره ښکلی دنیاشوه
دپنځ پر لوری یی ر نیا شوه

زه چهخرگند پردېدنیاشوم — د ښکلی مخ په تما شا شوم
ستا پرجمال باندی شیداشوم — له خپلی ستهی را جلا شوم
په ژړا ژړام چه بیلتون دی
یمه پردیسی بل مې تون دی

وگړیو ، ولې «متی» ژاړی — سورې یی اوری غاړې غاړی
خهغواړی،خهوایی، خهباړی — خپل تون او کورو کیلی غواړی
چونهی چه بیل شی نیمه خواشی
تل یی دبڼ په لور ژړا شی

« شیخ متی : کلات بابا »

۞ ۞ ۞

---

لغات ـ هیښ : حیران ۰تون : ځای ۰ چونهی : بلبل ۰ بڼ: باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی ! د محبت سو زو گداز را
تن پروربلبل دي عیش کاندی پر گلو
که مي نزموږی په ویاړ دوزو ستر گو
چه نظر له ناتوانی و چا ته نه کا
چه مي نوی سر کوزی چاته بي‌ښکلیو
اضطرا ب د حرص‌مي کړي‌له‌زړه گی‌اري
که مي نه فاشوي سرزيډ و عمرته
خو بـه گورم د قیامت و ورځو شپو ته

چه‌خپل‌بر گئ په آب‌دچرخ نکړم‌سرسبز
چه مدام وی په چشمه د آفتا ب ولسی
چه‌کباب يې په گرمی ، زما ځیگرشی

چه بلبل يې و دیدن ته انتظار کا
که مي نه محتاجوي د صبا باد ته
سرخرو يې زما نصیب لکه لاله کړه

په اوبو کښي يې د کاملی گوټ‌پیدا کړ
په سجود يې مځکي سردی لگولی

الله مي رب د ی زه يې مربوب یم
غرق په اوبو کښي کله اوبه وینی

د د ه په حکم با لا پستی شی
نه تل بهار و ی نه تل خزان و ی

چه زما په چمن راشی گستاخی کا
چه آزاد ه د منکر تر سره پربوځی
چه کشور د افغا نا نو معطر شی
الهی ! د خپل حبیب له بر کته

په داور کښي دستی(۱) سمند رساز را
پروانه لره په اور ز ما گداز را
می د عیش په میخانه کښي د مجاز را
د هغو بیمارو ستر گو نازو نیا ز را
له دولت د عشقه هسی کبر و ناز را
قنا عت قوی لنگر دد ي جها ز را
خپل زانو لکه نرگس محرم راز را
دا انجام په دم قدم کښي د آغاز را
«عبدالمجید مهمند»

د همت علو پشان د کهکشا ن را
د سحرپشان درست عمرسپین دامان‌را
دلاله غوندی په‌جام مئی‌جوشان‌را
کاظم خان «شیدا »

تن و ماوته گلشن د هغه با غ را
بوی د یار د تورو زلفو په دماغ را
پرسینه له محبته هسی دا غ را
«شمس الدین کاکړ»

ده ور کړی پکښي اورلره مکان دی
هم يې زوړندپه‌ر کوع سره آسماندی
«عبدالرحمن مهمند»

بنده دده یم که خوب نا خوب یم
نعمت يې نه و ینم په نعمت ډوب یم
«عبدالقادر ختك»

مستی خما ر شی خما ر مستی شی
هستی نیستی لر ی ، نیستی هستی شی
«خوشحال ختك»

د شبنم په څیر يې عمریوزمان کړي !
د فلك په څیرمې توره د زبان کړی !
دهر بیت‌مصر ع‌مي زلفي د خوبانکړی !
دا : ساده انشارنگینه درحمان کړي !
«عبدالرحمن مهمند»

---

(۱) په اکثرونسخو کښي د (ستی) پځای (سهی) لیکلی شویدی ؛ خوموږتریي په معنی نیوهیږو «خادم»

روحي گلونه (۵۲۵) ب سردار محمد : ح سراج الدين : ر محمد الامين : ن محمد نعيم : اجرائيه پښتو ټولنې ليل ۱۸ : ۸-۲۰-٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهی د مینی درد را      کرم دل آهو نه سردرا
خلاص کره ما له بې دردی،      له دې هسې د لسر دی،
زړه په شان د غنچې را کړه      آتشی زما مینا کړه

«کاظم خان شیدا»

پر هر ځا چه حق یاد نشی ناتمام دی      پر کاغذ اول دده ثنا م.قلم ږده

«دوات لوانی»

## ب : داستاځی په مینه

که رنا ده پیروی د محمد ده      گنه نشته په جهان بله رنا

«عبدالرحمن مهمند»

ړندی ستر گې چه دزړه مې پرې بیناشوې      یم پید بن د محمد آخر زمان خوبن

«عبدالعظیم رانیزی»

توره تاریکی تو له لدې جهانه لاړه      نوردپاك‌رسول‌چه‌په‌جهان کښې شه‌پیدا

«میانعیم متی زی»

ما مختار یکښې مذهب د حنیفه کړ      چه مختارؤخود په ستورو کښې مهتاب

«پیر محمد کاکړ»

راغلم ووجود ته د حبیب له بر کته      شوملکه ذره هسې په نمرسره اظهار

«پیر محمد کاکړ»

توره تاریکی تو له له دې جهانه لاړه      نوردپاك‌رسول‌چه‌په‌جهان کښې شوپیدا

«میانعیم متی زی»

په زرگونو انبیاتردنیا تېر شو      محمد غوندې بل نه ؤ پیغمبر هیڅ

«دولت»

## ج : عشق . . . ؟

هسې یې گرځم دا زیړرخسار له خلقو      لکه زرچه خوك له خلقو پټ پنهم ږدی
راحت نه دی بې زحمته چا موندلی      کوم‌طبیب‌دی‌چه‌په‌روغ‌صورت‌ملهم‌ږدی
زه هر گوره خپل صنم پورې شرمیږم      برهمن چه سر په پښو دخپل صنم ږدی
وآسمان ته لاس د عقل نه رسیږی      داخوعشق‌دی‌چه‌په‌عرش کرسی‌قدم‌ږدی

«عبدالرحمان مهمند»

که د سربښندل دشوار په ما و تا دی
اندېښنه سري بيدار کاندي لـه خوبه

دا په عشق کښې سهل کاردي دشوار ندی
کم اندیشه که بیدار دی بیدار نـدی
«عبدالرحمان مهمند»

که په کاردي دسر وشوندو شیرینی وی
درحمان په عاشقی کښې سترگې وشوي

د خپل ځان په وینو سو رلکه انار شه
څوك چه وايي عاشق ږوند دی هغه خوار شه
«عبدالرحمان مهمند»

عشق د نفس لـه خاصیته منـز ه دی

کاردستر گو به څوك څرنگ پدهانکـا
«عبدالرحمان مهمند»

څه حکمت دیار په مینه کښې رب کېښود
دا باران نه دی چه اوری له آسمانه

چه عاشق لره همدر د او همدوا شوه
د مرغانو په رحمان باندی ژړا شوه
«عبدالرحمان مهمند»

چه په زړه باندی زرداغونه جوړ شی

چه دیـار لـه داغه آه کاهغه گر م دی
«خوشحـال ختـك»

زه تر عشق جار ېږم : تر هغو چه عاشقان دی
رایشی له کومه ځای په څوو کا په زړه کښې
هی دخدای دیاره تفحص رایسی مکره

واړه عشق یکـار دی حقیقت دی که مجاز دی
هیڅ پری نه پوهېږم عشق یو څه سوز و گداز دی
پلار ته وایه نشي عشق یو هسی مخفي راز دی
« خوشحـال ختك »

عاشقـان دعشق له کاره انکـار نه کا

فاسقان به په خپل زړه کښې لری غلا
« خوشحـال ختك »

ځینی هـوس کامینـه پـه باغ لـری
داد واړه گرو هـه بوالهـو سـان دی

څوك مي پسر ستـه حب دا یـاغ لـری
عـاشقـان مینه د زړه په داغ لری
« عبدالقـادر ختك »

لیونی غوندی دعشق په کارو بـار کښې

دخپل ځان په سودو زیـان نه یم هر گز
« عبد الحمید مهمند »

که هرڅـو مي تندتېزه تـوسن دعقـل

عـاقبت شوپـه دنبـال د مینـی پـا تـی
« میـا نعیم متی زی »

دعشق یو سبق کـافی دی

نور ددرست جهـان دفتر هیـڅ
« صدرخان ختك »

عـاشـق گرم او شوقـی وی
چه دعشق پـه لاره درو می

زاهد سوړ بی حمیتـه
خالی ند ی لـه تهمتـه
« دولت لوانـی »

خام خاطر مې مشوش و په هجران کښې — چه تمام دعشق په اور وسو متين شو

«دولت لوانی»

معرفت ځنې پيدا شو — عشق د عقل پلارو مور دی

«مرزا خان انصا ری»

دغه عقل چه په عشق با ندې شيدا شو — دعر ب په مينه گو ره چه عجم مری

«مرزا خان انصاری»

وقبلې د عشق مخ د کل عالم دی — ودرياب ته ځی که سيل له هر جا پاڅی

«مرزا حنان»

په هرداغ مې دخپل زړه هسې باوردی — چه په مر گ به راته شمع شی په گور کښې

«عبدالحميد مهمند»

که شهيد نکړی خپل ځان دعشق په توره — نوش به کله جام دحوض کوثر نکړی

«عبدا لعظيم را نيزی»

دسيماب په شان په لاس کښې نيوی نه شم — عشق را هسی گر م هم نرم هم لطيف

آئينې غو ندی هر و لی هر نا و لی — شی مهمان ځما په کور کښې بی تکليف

«شمس الدين کا کړ»

هر يو زړه چه شی بيدا غه پکار نه دی — چه بی مهره شی بر ات هغه با طل دی

«مرزا حنان»

ته دعشق په لذتو نو خبر نه شوې — په سراب دځان مشغول کړ ، له دريابه

هغه چاری چه دعشق په جذبه کېږی — کله کېږی په لښکرو په افواج

«خوا جه محمد بنگښ»

جريده د عشق په لار ځم همراه نه لرم بې عشقه

بی ر فيقه ، بی پناه ځم ، پناه نه لرم بی عشقه

هرساعت چه پيلتون ياد کړم په خپردادو فرياد کړم

څکړم چاو ته فرياد کړم ، نيکخو اه نه لرم بی عشقه

مدام غوښې د زړه خورمه ، دزړه وينې به تل څښمه

څکړم څکړم چرته ځمه ، همراه نه لرم بی عشقه

معتقد يدا خپل رزق يم ، مبرا په زړه له فسق يم

واړه سرتر پا په عشق يم ، پو گاه نه لرم بی عشقه

دافقير دولت نفسی يم ، و گناه ته هوسی هم

خدای مې بيامرزه عاصی يم ، گناه نه لرم بې عشقه

«دولت لوانی»

عشق دی دا که پوفساد دی نه پوهيږم — په جهان کښې چه د اشورو شر پيداشه

بيا به روغ دعاشقی له رنځه نشی — په هر تن کښې چه د غه ا ثر پيدا شه

«عبدالرحمان مهمند»

باد شاهانو که قصرونه کړه آباد          ماد عشق عمارتونه کړه آباد (۱)
نوم د کوم یوه بادشاه هسی یادېږی          لکه نوم دی دمجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یوهسی پیر استاد دی          چه به نه دی بل دا هسی پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقی دی          چه څوک غوث کاندی، څوک قطب څوک اوتاد

« عبدالرحمان مهمند »

درحمان شراب له عشقه          نه انګور (۲) نه له عنبه

« عبدالرحمان مهمند »

عاشقی ده خدای له اوره پیدا کړی          چه په اور کښې یې وطن وی څه به خوب کا

« عبدالرحمان مهمند »

مدام ناست یم وچ کو ګل ستر ګی په نم کښې          عشق را او ښود بحروبر په خپل حرم کښې

« عبدالرحمان مهمند »

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم          خواب وخیال دی که افسون دی نه پوهېږم
دېښنګ او د بلبل ترمینځ حیران یم          مخ دې اوردی که ګلګون دی نه پوهېږم
عشق په هسی رنګ مقام باندی قائم کړم          چه وصال دی که بیلتون دی نه پوهېږم
درحمان څهره یې زیړه زعفرانی کړه          خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

« عبدالرحمان مهمند »

خودخر ګنډوی لکه صبح په جهان کښې          هر ګېروان چه په یاری کښې دریده شی
بی مطلوبه یې هیڅ فهم په چا نه وی          هر طالب چه په طلب کښې فهمیده شی
یا به قند یا به نبات او یا به شهد وی          هر کلام چه له رحما نه شنیده شی

« عبدالرحمان مهمند »

سر اومال مې شو تالا په تور د عشق          لا مې ندی لاړ له سره شور د عشق

« عبدالقادر خټک »

چه د عقل په تدبیر مې عاشقی کړه          پوهېدلی په تدبیر وم د د بیر کج
هیڅ مدد له عقله مه غواړه په عشق کښې          د دغه طبیب دارو لری تا ثیر کج
راهبران دعقل واړه رهزنان دی          لېږ د عشق له لاری مه بیا یه بهر کج

« عبدالحمید مهمند »

په هر ځای کښې ناست ولاړ زانګم له غمه          مینی مخ راته د ځمکی ګهواره کړ

« عبدالحمید مهمند »

ته چه ما له عشقه اړ وی نا صحه!          دا عبث دی پول د سحر په دریا زدی

« شمس الدین کاکړ »

عشق دعقل په تدبیر چلاوه نشی          په دې ناوې نه جوړېږی پسول د چا

« عبدالحمید مهمند »

---

(۱) په مجنونو نسخو کښې (بنیاد) راغلی دی (۲) دانګور په ځای که (خورما) وای، ښه به وای «خادم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی، د جمله ؤ مخلوقا تو پلا ر دی د ا
تر عشق غوره بل څه کار په دنیا نشته تر همه کارو نو غوره کار دی د ا
« عبدالرحمان مهمند »

بل به هسی سر گردان په جهان نه وی یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
ته چه ز غوري سرومال په عاشقی کښې عا شقی دا هسی کله ده و یړ یا
چه یی کسب عا شقی ده د دلبرو نظر نه کاندی په کسب د کیمیا
« عبدالرحمان مهمند »

بیدردان دعشق له درده خبر نه شول براهیم ځکه منت بار د ا هل درد یم
« ابراهیم »

هیڅ می نزده محبت که او ر دی دا یه اور سوزم یه رضا که زور د ی دا
چه په تله د سرو مال راځخه نه ځی وا قعی د تورو ستر گو تور د یٔ د ا
چه یی زه له بله غمه په امان کړم دعشق غم دی که زما غمخور دی دا
چه می ولیدو «حمید» دعشق په کار کښې لیونی د مجنون کشر و رور د ی دا
« عبدالحمید مهمند »

یاد شکلیو دیا ولیو شرنگها ر د ی یا د عشق د لیو نیو د ز نځیر
« عبدالحمید مهمند »

بی رهبره یون دعشق په لاره گران دی دلیه بویه چه پید ا کاندی رهبر څوك
« عبدالرحمان مهمند »

خپله مینه یی ر هبر پیر کا مل د ی عا شقان ځکه طلب دبل پیر نه کا
« مطیع الله پیرخیل »

آرام زړه په عشق کښې نشته سرله سره خوب محال په هغه ځکه چه توده شی
« عبدالله پوپلزی »

چه اثر د مینې نه وی بانديٍ شو ی هغه زړونه گویا کا ڼی د بیدیا د ی
« ملا جمعه »

---

# غزلیات

که څوک یار یه جهان غواړی یار دی دا — یار دی دا که دجهان سنګار دی دا
خیال دز افو یی زما لـه زړه چا پـیـر شو — که تر ګنجه چا پیر شوی مار دی دا
دا جهان دی خدا ی له عشقه پیدا کړی — د جملو ؤ مخلو قا تـو پـلا ر دی دا
تر عشق غـو ره بل څه کار په دنیا نشته — تر همه کا رونو غـو ره کـار دی دا
بل بـلبـل بـه د ګـل نـوم ا خستـی نـه ؤ — که خبروی چه ګـل نه دی خار دی دا
بیـا را تلـه و دی جهان ته بل وار نشتـه — بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
د حباب عمـر دي وګـو ری چـه څـه دی — که څوک شمار کاندی دعمر شماردی دا
د مجنون صورت په زړه کړه رحمان ګوره — ستا په عشق کښي هسی خوار زاردی دا

« عبدالرحمن مهمند »

چـه یـی و لیـد و ستـا حسـن بـیـحسا ب — له دي قصد ه تـاو پیدا شو د آفتاب
په آرزو یي د نرګس ستر ګی خلور شو ي — غنچه سره دزړه به و ینو شوه غرقاب
ستاپه غم می دواړه ستر ګي سري ناغی شوي — که خیمی د ی سیاه پوشي سره طناب
که دي زلفي په مخ پیچ و تاب شوي ښایی — وبښته څه طـا قت لر ی د اور له تاب
در حمان بخت بـه هلـه له خوبـه ویـښ شی — که ستر ګي ورته پورته کړي له خواب

« عبدالرحمن مهمند »

کـه ساقی تـلخـه یا ده در یا ی شور کا — د فلـك په جام به مست کله مخمور کا
آرا سته وی تل محـفل د خنـد ه ر و یـو — زمانه به د ګـل جام څرنګه نسکور کا
چه په لاس کښي یی تل چوب لـکه شانه وی — بی افسونه به نیو ل د تور منګور کا
د لتنګی کـړم لـکـه ګـل بـه خنـدا ور کـه — که می بل دصبا باد به خونه اور کا
چه په سریی سبز آسمان زری دستار زدی — عا قبت یی لـکه شمع بیـا سر تور کا
لـکه ګـل کـړی ګـران بـار تـر دا منـڅی — باد دي څه لـکه غبار په کتف سور کا

« کـاظم خان شیدا»

کـه ښکـا ره زما خا طر د لاله داغ کا — په زړا به ستر ګي سري د ګـلو باغ کا
د حباب غونـد ي مي ډك بـه آه سرد کړ — څوك زما به ګور به بل څرنګ چراغ کا
افرو ختـه یی و ی محـفل بـه شان دشمـع — چه سوخته دبل په کـار کښي خپل دماغ کا
د ګر دش نـو بت یی هیـڅ په ما د ا نشی — که سا قی د ز ماني ، فلك ا یاغ کا
ز نګ که هر کـله «شیدا» دتیغ جوهر خوری — د مګس به بال به څرنـګ استفراغ کا

« کـاظم خان شیدا»

چـه مـی ولیـد ه ا بـرو پـه مخ دیار کـج — له تعظیمه ور ته زه شوم په تـلوار کج
کنږي ورو ځی کوږ با نه کنږي یی ز لفی — منا سب دی له کنږو سره رفتار کـج
مار به دا سبب مـد ام کـمر فتـا ری کـا — چه یی ولید ه دا ستا د زلفو مار کج

هسې ژړا خلې اتر له همنشینه — په سبب د کنړي ښې شي سم بازار کج
چه معما ري اول ښته کنړه کښېنږ دي — بيا ترسره پوري ځي هغه ديوار کج
ژړبه وا چوي بار دار چار پاي په ښا کښ — که يې يو ځله خوك وځکوي مهار کج
هيڅ جواب د پيغام نه را ځي ديار ره — بسې زما شوه توړليمه په انتظار کج
« شمس الدين کاکړ »

خوږ ژوندون راپوري هسې کړه هجران تريخ — لکه حال وي پربند پانود زندان تريخ
نو خطان چه د عاشق له ژړا بد وه دي — پرسبزه باندې نا وخته وي باران تريخ
په وصلت کښې له رقيبه نه خلا صيږم — پرموسم د ګل اوقات شي دباغبان تريخ
مې حرام دي په مجلس کښې چه يار نه دي — بي له ګله وبلبل ته شي بوستان تريخ
چه مې نوم ستا د هجران په ژبه وا خيست — لاتر اوسه مې په هغه دي دهان تريخ
که فرهاد ته شيرين غم د شيرينې دي — داستا غم کړ شيرين عمر پرحنان تريخ
« مرزا حنان »

چه مې يار وليد په سيمه د اغيار ګه — له غيرته مې ليمه شوه په خو نبار ګه
د غه حق د بلبلا نو په جا نب دي — خداي دنه کا مښګير کښې په لاله زار ګه
په اميد د زلفو و نښتم په دام کښې — رو هيلي وم ساده دل په هندو بار ګه
دديدن په ګدائې کښې مې ننګ نه شي — د رو يز ګريم د بتا نو په با زار ګه
د وفا د ګلو پيا نهي پکښې نشته — کاشکې نه وي زه ددهر په ګلذار ګه
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم — چه په کلي په کوڅه شوم د خپل يار ګه
« عبدالرحمن مهمند »

دا تور خط را غې په مخ د ګلعذار — که غا لب شوه په کشمير باندي کفار
سپين رخسار يې په تور خط کښې هسې ښه شو — لکه ښه چه معنی وي په اشعار
زما نه به يې سپين مخ دا هسې تور کا — چه غرض اری د بل په کا رو بار
هر کارساز ني په خپل کار کښې درمانده دي — او به کله وداي شي ګرځ دخپل رخسار
« شمس الدين کاکړ »

او ښو د فراق دستر ګو خواب را ښخه يووړ — کور زما دصبر دي سيلاب را ښخه يووړ
رنګ په رنګ ژړا کړم لکه نې ديار لغمه — زړه مې په يوه نفس احباب را ښخه يووړ
نه مې را برسېره کړ ګوهر دعشق له بحره — زيات يې لاآرام لکه حباب را ښخه يووړ
تل چه يې هوس کاندي سره لاس وخونريزي ته — سري د هغو ستر ګو قصاب را ښخه يووړ
يو طرف ساقي شو بل طرف شو جام دمېو — عقل يې له ميانه په شراب را ښخه يووړ
وا چولم يار د جدائي په سره ديګ کښې — روح يې زما ځان لکه ګلاب را ښخه يووړ
هيڅ يې نظرونه کړ زما و خاکسارۍ ته — زړه مې سيا چشمو په شتاب را ښخه يووړ
سينه خوله ديار چه په خواست زه شمس الدين غواړم — خواست د هري ورځې دمخ آب را ښخه يووړ
« شمس الدين کاکړ »

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما زړه گوره چا یووړ — په دوه زلفو لیلی یووړ
ځکه د ی شوبی ارامه — چه د زلفو بلا یووړ
چه په خپل قوت غره وم — زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب زما دستر گو — سیلا بو د ژړا یووړ
خه بازار چه مي د زړه ؤ — نن ستاحسن په غلا یووړ
حسن باج ؤ چا ورنکړ — ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نهٔ کړم — زړه بېوا که شهپا یووړ
قراری دزړه مي نشته — بیقرار زلفو ستا یووړ
داتمام عالم ښادی کا — احمد غم دا شنا یووړ «احمدشاه ابدالی»

ستا د زلفو خیال چه زه افگار ساتم همیش — هسې په سینه کښې گویا مارساتم همیش
زلفې دي سنبل مخ د گلاب ستر گي نرگس دي — زه باندي باغبان یم دا گلزار ساتم همیش
داله تلو سي نه چه پر قلب مي ېېرزو نه شي — ځکه په ځیگر کښي ستا ازار ساتم همیش
خلق زهیر ېنزی چه مجلس لره ور دروم — پس له دي به زه نور ځان کنار ساتم همیش
عکس درخسار چه دي زما په زړه کښي گرزی — زه په خپل ځیگر کښي سورا نگار ساتم همیش
زړه مي ستا له غمه همیشه آه و فغان کا — زه په خپل وجود کښي دا بیمار ساتم همیش
ستر گي مي خلورشي ستا پر خواچه وعده و کړي — زه حنان له غیرو داستالار ساتم همیش
« مرزا حنان »

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کښي — دایی غابن په خوله کښي زیب کا که ژاله شوه په لاله کښي
هسي رنگ سحروجادو کا په نظر د شهلا ستر گو — نه یي سیال په هند کښي شته دی نه ثانی په بنگاله کښي
لکه ونېلي مرغی په سست دام د سلو لومو — هسي زه پر ښانو زلفو کښي یستم په کشاله کښي
دازما له غمه شین زړه یکښي خیال د یار دلبو — هسي رنگ زیب وزینت کا لکه می په شنه پیاله کښي
ماویل عین گټ گلدی دغنچي په لمن لښتي — کهمي کوت یو گل اندام ویروت په سبزه دوشاله کښي
شکلي مخ کا ولي ناسته، په مجلس د رقیبانو — په جوار دسپو کښي نه وی هیڅ ارام په غزاله کښي
ستر یاپه تیغ دهجر لکه نی سوری سوری کړم — ځکه یم مدام داهسي په فریادو په ناله کښي
که یار غوادي هومره ژاړه خودرځی عبدالحمیده! — دایه دا چه درموند ه شي په دریاب نه په ناله کښي
« عبدالحمید مهمند »

زه داهسي دیوا نه او مجنون چا کړم — له رواج او له رسومه بیرون چا کړم
نه پوهېږم چه داهسي چاري څوک کا — لیونی د خپل نگاه په افسون چا کړم
کومي ستر گي کوم بانړه کومه غمزه ده — دوب شهید غوندي په خاکه اویه خون چا کړم
توان توفیق چه دفتنو را څخه نه ؤ — په فتني د تورو ستر گو مفتون چا کړم
رحمان هیڅ له خپله ځانه خبر نه یم — چه دا هسي رنگه زبون او محزون چا کړم
« عبدالرحمان مهمند »

زه دیدار په دردوغم کښي شادمان یم — لکه گل دیر ښانی په وخت خندان یم
نه زما و بېکسي ته نظر مه کړه — خدای ساتلی لکه گنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنگل په مېوه یو زه — په ویرا نه ویرا نی کښي ابادان یم
یو ښتنه مي دصورت بی عشقه نه دی — څو کیدار په هر نفس دخپل کار وان یم

دو صال مارغه داو ښو دا نه را کړه      لکه لعل ودر په غاړه د خو با ن یم
د کا ملي عقيد ي لـه بـر کـتـه      دروهی په غـاړه نـاست شاه جها ن یم
روښناني مي په‌طلب کښي شوه حاصله      شپه اوورو‌ځ لکه آفتاب په‌لار روان یم
چه صفت دتو رو زلفو د اشنا کړم      یلی ، سر په لو یه لار د هندو ستان یم
بی مینه می هیڅ حا ل د صورت نشته      لکه بي مال ومتا عه تش د کـان یم
دهوس بلبل ويسا را با ند ي نه کا      دافلاس په کـبل بـو ټـی د خزان يـم
دلبرانو ته خـا ك تر تـلـی لا نـد ي      د دي نور جهان په سر لکه اسمان یم
چه دیـار پـه ديدن سرو مـال ښندمه      خلقو واوری زه هغه عبدالر حمـان یم
«عبدالرحمان مهمند»

زه‌دیار په‌درو غم کښی‌غرقاب خوښ‌یم      په دااور کښي بيطاقته بيتاب خوښ يم
تر دا‌پوچی گـفتـگوی چه زه يی‌اورم      په نغمه په تر انه د ر بـاب خو ښ يـم
چه دیار دخط وخال ښی پکښي وی      زوړ ند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
د ر یا تـر نـا قـبـو لـه عبـا د تـه      دساقی په میو‌مست او خراب خوښ یم
چـه نـه علم نه تسبیح نه تـلا و ت وی      له‌دي‌هسي بيداری‌نه په‌خواب خوښ یم
دطوبی دونی سوری مي خوښ نه دی      ستا دمخ‌په لمبو سوی کـباب خوښ یم
خا موشی که هر خو لـو یه مرتبه ده      زه دیار سره په سوال وخوب خوښ یم
دیار دهري غمخوری يـم عـاجز کړی      رحمان‌ځکه په‌خوردن دشراب خوښ یم
«عبدالرحمان مهمند»

خوك چه بد راسره کا ورسره ښه‌يم      هم په دا ښو دبد انو تـو ز لپـمه يـم
له‌هغو مي‌څه اندوه چه‌په خوی اوردی      په‌خپل خوی کښي سوند اونرم ترا‌وبه یم
چه وماته وزما عيب پښکښې را وړی      ددی هسی یا ر له خدا یه په غو ښته یم
نور زما دی ، نار زما دنو رو څه دی      دیتنـگوغوندي مـخ خبر دڅان‌په سوه یم
په ایرو یې‌مخ سپېره شی‌چه نفاق کا      آینې غو ندي مخ سپينه تور په زړه يم
چېړي نه وی چه به بل مخ وته گوری      په‌هجران کښي‌خوښ دستر گوپه واته يم
له نور چا کله گله عبد القادر کړم      زه‌خوار کړی خپلو ستر گويم خپل‌زړه يم
«عبدالقادر ختك»

مخ‌دي لکه‌نمر دي‌ورته څير کـتلی نه‌شم      ځـکه يې دمدحې تر‌عهدي وتلی نه شم
زړه يي‌راغلبيل کړ دهجران په ناو کيو      راز پکښي ديار د محبت ساتلی نه شم
اوس‌مي‌په‌معنو کښي ښه مين دستر گو کسی      کسی به د خلقو په ويـل ايستلی نه شم

زه یې د زنخ په څاه کښې بند لکه یوسف کړم      بې یې د زلفینو د رسی ختلی نه شم
بند یې د حواس په ځنجره زه عبدالقادر کړم      زده مې پرواز غواړی ولې الوتلی نه شم

«عبدالقادر خټک»

د خپل یار له مینې هسې دیوانه یم      چه خبر نه یم په کعبه په بتخانه یم
که بې آهه بې ناله بې ږغه سوزم      پر څراغ دمخ یې هغه پروانه یم
دخال خیال یې ماضعیف لره کافی دی      دمینې په دود قانع په لږ دانه یم
چه یې خیال ساتم د سرولبو په زړه کښې      دا په دا مدام د لعلو خزانه یم

« مرزا حنان »

په جنت نه یم خوښ هر گز په درد یار مې قسم      خوښ په لذت یم دخوارۍ په اعتبار مې قسم
زړه مې له نا وعده د وصل هر گز و نه لیده      په ناامیدګۍ د تورې شپې دانتظار مې قسم
پر وایه گل ویه خار نه کړم د جنون له قبضه      په سینه صافه آئینه د نو بهار مې قسم
که مې سرولاړ شی ستا په مینه لاخوشحاله یم زه      په تېره تیغ داستاد جور جوهردار مې قسم
تور بخت مې و نه لیده هیڅ ستا د کتا کل شب قدر      په تورو مینګو ستا دزلفو په هر تار مې قسم
ستا د گلگون رخساره شوقه زه حنان دا وښو      گلان کړم هره گړۍ په لاله زار مې قسم

« مرزا حنان »

زه چه مین دیار پر مخ یم نوبهار څه کوم      تماشه بې دیاره مخه د گلزار څه کوم
چه وعده و کړې دمعقتی ترمیان کړې تېر گلونه      بې له وصاله تش دخولې خالی اقرار څه کوم
رضا د ځان مې په رضا دخپل اشنا ور کړې      دا که مې ټول دیار په لاس دی خپل اختیار څه کوم
چه مې زړه وړی په منگوله هغه یاردی زما      نور حسن داره بې له ده دقندهار څه کوم
که د وصال په هوا را شی یکتنها دلبره      نور منتونه زه جمعه په د ربار څه کوم

« جمعه بارکزی »

سپین رخسار دې وای سپین صبا شو قم      تور کاکل دې وای توره شپه دتم
د صبا او د بیگا تر منځ حیران یم      نه پوهېږم چه عمر و کړم په کم
سیر ینده دې څوندې قی کړی کوملې ناست یم      دهجران لاس مې و کاږی زړوبم
گنجینه شوم ستا د مینې له دو لته      اژ دهار را باندې گرزی دمبدم
چه میرا در سره نه وی قلندر ره !      تهچه صوات لره ورځې عذردی کم
قلندر په کومه بوزه لاړ شی صوات له      چه میرایی همراه نه وی هوس کم
د میرا صاحب له جوره قلندر ره !      دا یو ، لاړو ، السلام علیکم

« قلندر »

مغنی گوتې په ځیر ز دی په بم هم      هم ساقی شته هم بهار و صنم هم
ستا دعشق دغشی هسې ځای پرهار دی      چه رېښه پرې اینودای نشی مرهم هم
ستا د زلفو مار چیچلی نه رغیږی      په ستا نوبه زیار تو نو په دم هم
تاچه مخ ورته ښکاره کړو لیونی شو      پاتی د غرو نو په سر گرزی په سم هم
هغه راز د محبت چه پټ له تا دی      زړه خبر ور ځنې نشو قلم هم
دخوښۍ پیاله په لاس کښې نن زما ده      درد زحمت را څخه و تښتېده غم هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لذت دي دسروشونډو کوثر هيڅ کړ
د يوه لاس نغاره دا سي آواز کا
که ناستي ديار کوي په خاورو مومي

د شبنم دا نه که تخم شي د ګلو
چه يې نشه لکه ګل ښه رخسارونه
حال دسوي طالع څه بيان کړم چاته
معطل په دا رضه د شام غريب ندي
داسمان په شان يې تيز دفتنو تيغ کړ

يسرلي مي دخزان په تاتار تېر شو
اوس که ځان وهم که خاوري په سر اونم
لا مي غټور ته په څير کتلي نه وو
لکه ډېر پري پيکر هم پري رو وو
يوه ورځ په دا غنز و شي عايخا نه

بې له ياره راښکاره ژوندون ذبون شو
چه دعشق په مکتب ما دغه داستان اوست
دقلم په دود به چا که سينه ټوټې کړم
دحسرت ګوتي په غاښ کړي طبيبانو

سور پېزوان ده سروشونډو ځسي زبر کا
دسرو ټيک دشهزاده په جبين پروت دي
دواړه ليچي دي وښکلي مصري نوري
ستا له غمه په ځان زړه در حمان سوزي

پارساڼي يې د پارسا له لاسه يووړه
چه مي کړي وه توبه له مي خواري
معجزه چه د احياده په دوه لب يې
دلبرانو چه دعوی د دلبری کړه
را ته پاتي دا يوه مسلماني وه
ماوي زړه به دعشق رازلرم په زړه کښي
چه د زړه صبر ديار له مخه غوا ړم
که دنورو هوښياري په عشق کښي پس وړي

د حيات او به لا هم د زمزم هم
دا افسر کلا به ستا نه دي دم هم
باغ بهار د سکندر دی ارم هم
« سکندر خان خټک »

زړه به سوړ به ديدن نشي د بلبلو
څوك به څه کاتوري زلفي دسنبلو
لکه نمر زما جبين دی د داغلو
که مي زړه به حلقه بند شو د کاکلو
صبح و شام ګرزي ښکاره په سرومنګلو
« کاظم خان شيدا »

ما لا ګل بوی کړی نه وُ بهار تېر شو
په هيڅ رنګ په پېر ته نه راځي وار تېر شو
لکه برق رخشنده په تلوار تېر شو
هم هغه رنګه تېز رووړی وار تېر شو
چه فلاني هم لکه ګرد و غبار تېر شو
« عليخان خټک »

اشتياق مي دزړه مرګ وته افزون شو
هك حيران را ته فرهاد دويم مجنون شو
د مرجان په طور روڼي مي اړ ون شو
له قانون اوله شفي رنځ بېرون شو
« حمد »

لکه جيم په قلم ښکلي کاتبانو
شينکي خال دي محاصل په بند يوا نو
در پوهېږم سر به پرېکړي دخوارا نو
لکه شمعه په زيارت د شهيدانو
« عبدالرحمان مهمند »

داناڼي ئي د دانا له لاسه يو وړه
په چشمانو يې زما له لاسه يو وړه
لاس په لاس دمسيحا له لاسه يووړه
دا دعوی يې دهر چا له لاسه يووړه
دا مي هم هغه ترسا له لاسه يووړه
دا خبره مي ژړا له لاسه يووړه
محبت مي دا دعا له لاسه يو وړه
دخوشحال يې لا په خوا له لاسه يووړه
« خوشحال خټک »

سنا د زړه سخنی مې سر تربایه و لید نه
نو ره دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه
یار مې هغه وخت وي چه بشیه به سره ناست وو
ګل چه شګفته شي عندلیب باندی ناري کا
تل ګونه و هلی هر زمان ساده اهو نه
سري لمبي بي بلي دخوشحال خټك په زړه کړي

سنګ به سینه دور کړی ستاله هسی سخته دله
وار په وار مې واده په دلبرو و ښند له
شمعی به ژړا کړه صراحی به خند پد له
نشته پو ه ښکلي چه ی ي و بو لم بد له
ما چه عاشقی کړه خود به ما به دا کېدله
سور خت یی اغوستی په دا لاري تېر بدله
«خوشحال خټك»

مست یم مې پرست یم رندی کړمه کړمه کړمه
نور شراب مې واده تور عالم و تـه بخښلی
موړ به نخني نه شم زه د مېو مستسقی یم
لار د محبت زه تـل بـه روغ سلامت نه وم
څه وایي وماته حال دڅه و په هجران کښي
خلق راته وایی رنګ دي بیا زیړ شو عاشق شوي
دور دعاشق دادی چه په عشق کښي ملامت وی

واوره محتسبه ! باده خورمه خورمه خورمه !
لام و ی مي مجادلی پسي مرمه مرمه مرمه!
تـل که هسي د کي پیالی چښمه چښمه چښمه !
زه چه په دا هسي لاري تلمه تلمه تلمه!
نور خبر دار نه یم په زړه سومه سومه سومه !
هیڅ منکری نکړم خلقه شومه شومه شومه !
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وشړمه !
«خوشحال خټك»

توره چه تېر یېزی خو ګذاره اره کنه !
ولی راته وایی چه په ښکلو نظر مکړه
شیخ دي نمو نسخ روزه کاره بهد کي پیالي اخلم
نا وي چه زما د خولي بوسه اکه دا روده
وینې مې دزړه خوری مګر نور څه لره نه دی
څه ژړا فریاد کړي دشپې د تورو زلفو
خو د به ستا دمخه د ګیاه غوندي خر کندشی
مې شته چنګ وني شته دخپل یار سره خوشحاله؟

زلفی چه ول ول شی خو خپل یاره لره کنه !
ستر ګي چه پیدا دی خو دیدار لره کنه .
هر سری پیدا دی خپل خپل کار لره کنه!
غواړم دا دارو د زړه پر هار لره کنه !
زړه زما پیدا دی تا خونخواره لره کنه !
نور تلی پخپله دی ښا ما ر لره کنه !
ګل دلاله را وړه خپل رخسار لره کنه !
خپل باض په لاس کښي ځه ګلزار لره کنه!
«خوشحال خټك»

اکه مخ زما د یار دی نمر خوهسي وی کنه!
دعالم د بري خبري لور به اوز توري لښکر یي
بی دعشق له شور وشره چه هر ګز زما له سره
چه یی ریم عمل لا کا چه یی ورك کړی ځان پېد کا
تاوي درومه لوم مې زبر کړه بل سبق له زړه لرکړه
وهغه ته مې سر کوزدی چه معلوم ورته رموزدی
چه آزاد مر بی وردرومې خپل مرادور ځني موې
په یوه زمان ته یار دور شی راشی خو ګذاره

که زه په عشق کښي زبر یم زیر خوهسی وی کنه!
زړه مې نه خوځی له ځایه غر خوهسی وی کنه!
نه ځی نور څه هر څه درومی سر خوهسی وی کنه!
ورځ دشپه داهسي کر کړم کر خوهسي وی کنه !
تل مې ته یی به خاطر کښي زبر خوهسي وی کنه!
په خبره نه پوهېږی خر خو هسي وي کنه !
په هیڅ هدی تـړلی ور خو هسي وی کنه !
دخوشحال خاطر تېر بردی پر خو هسي وی کنه!
«خوشحال خټك»

د وفا خبر پیدا ران دی بل خوا دروغی
مګر ځان وسپاری خدای ته په امان شی
هغه یار به زه و ګرمی خواته غواړم
دلبران که هر څو ډېر دی په جهان کښې
چه هم قد لری هم زلفې هم سرې شونډې
عشق عاشق لره یو هسې ګلستان دی
که مجنون غوندې په عشق کښې څوك صادق شی
دا نایان به د رحمان په قال پوهېږی

ستا به مخ کښې چه حساب د جمال نشته
ته د سرود مال وېره په ما مکړه
روښنائی می د چشمانو ستا دیدن دی
په جو یبار زما دستر ګو سروته یی
مخ دې بی له خط و خاله هسې زیب کا
ستا په یادو کښې رحمان هسې مشغول دی

ګنج و عقل زار شه د عاشق د څاځکی او ښې
تیغ دیار له لاسه په مری د عاشقانو
خدای لره به ورسم په سودا دیار له مخه
څه که زاهد زهد کا د یو جنت دپاره
ګوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه

په ګلونو اواز ورو ګوره بلبله !
عقل و هوښ عزیز تر هر څه بندل نه شی
خدای دی ه کاچېری چوخ بهدی به بېهوشی
ومطرب ته مینا وایی وایه و ایه !
صدقه یې هم تر پسل عبدالقادر شه

وینځه که اصیله وی که توره وی که سپینه
شهد که څه نبات دی که شته شیرینی نوری
خیال یی د زلفینو لکه مار و ربا ندی پروت دی
سل زخمه که و خوری توی به یو څاځکی برې نولحی
خرب به یې بدل په بیداری خوښی پری و یرشی
یار په هوا دندی که د زړه مینه پیدا کړی !
څه عبدالقادره ! په خوله مینه مینه وایی

دا متاع د زمانې په دکان نشته
ګنه بل خوا ته د هیڅ امان نشته
چه یې هیڅېږی منزل او مکان نشته
زما یار غوندې د نبر په جهان نشته
دغه هسې رنګه آفتاب په آسمان نشته
چه وباغ و ته یې لار د خزان نشته
د لیلی په دروازه کښې دربان نشته
داته کار د هر نا اهل و نادان نشته
«عبدالرحمان مهمند»

څکه ما څخه د صبر مجال نشته
وېره ما څخه د سر او د مال نشته
په دا کور کښې بل چراغ او مثال نشته
په دا نهر باندی بل څه نهال نشته
چه یې هیڅ حاجت په خط و په خال نشته
چه په زړه کښې یې نور هیڅ غم و خیال نشته
«عبدالرحمان مهمند»

نه خبر وار د عقل ـه د عشق یوه دانه
هسې لذت کا لکه د میو پیمانه
بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه
سر بلند لی نه شی په ور بل د جانانه
مکړه دا د عشق خبرې مې ستا رند انه
«عبدالرحمن مهمند»

پر ښیا نه پېژنی ستا د شوره له غلغله
ته یو څه رنګه ډېر ګران یې دمل جله!
قدم ورو ږده دراپیلو په ګل ګله !
دا معنایی پیدا کېږی له قلقله !
څه قدرت لری چه و وایی اه دل دله !
«عبدالقادر خټك»

کښلې شی له حورو چه پری و رشی د زړه مینه
مینه کډنی ګوری چه تر هر څه د ه شیرینه
نه پرېږدی و زړه ته بله مینه چه ور ځینه
هسې رنګه و چه د صورت کا مینه وینه
هر چه یې په زړه کښې د دلبرو مینه وینه
مینه هسې څیز دی چه نـ زدی لری کوینه
څو دې لاو ـ چاره نده مینه نده مینه
«عبدالقادر خټك»

چه له خپله اشنا نه لري ګيله  له نور چا به په نور څه لري ګيله
انګوري ترخه شراب ور اره بويه  ميخواران له ګبينه لري ګيله
چه بې تا يې ځوروم د بل و مخ ته  په دا خوی له ما نېمه لري ګيله
هيڅ ايستادي ښکښي ونکړتړي پر بوت  له ناوکه يې مي زړه لري ګيله
چه جارو مي ستا د در د خاورو نکړه  ډېر زما له ما بيا نه لري ګيله
بد و بدو ته ښکاريږي ښه و ښه ته  ښه له بد و بد له ښه لري ګيله
ښه که سرۀ تري قربان عبدالقادر کړ  بيا تري ولي يار له ده لري ګيله
«عبدالقادر ختك»

ننداره لره راځي چه پسې ځو نه  په اختر به ځلمي جونه کا سيلونه
ته به وايې مخ يې ګل د پيغمبر شي  چه يې د ... په مخ ووهي خالونه
چه په سيل د بهار د ګلو ګرځي  ځلمي ګل به پګړي ږدي په اوربل جونه
ځيني دواړه زلفې ډکې کا له ګلو  څوك په غاړه د ګلونو کا هارونه
زېړ او سره نمري اغوستي ګلرخانو  وا يې سبز و نې د نيول ګلونه
چه ګلو نه ټولوي سندري وايي  شرمنده کا د بلبلو اوازونه
درست صحرا په خوشبويي سره خوشبوی کا  په هغه ځمکه چه کيږدي قدمونه
چه له سيله را روانه شي و کور ته  ګل لمن، بلبل يې نسي آستينونه
چه له هسي ننداره نه ځان وساتي  شيخه ورك دي شه په خپه خلوتونه
ده ليدل د ښايسته و ښکښي نه وي  چا به څه کړه اته واړه جنتونه
که اوازدي که ليده د روح خوراك دي  نفساني دي باندي نکا غرضونه
نېر شو وار عبدالقادره را به نشي  که ژړا کړي که فرياد کړې که آهونه
«عبدالقادر ختك»

څه افسون دي په ما وکړ پريزاده  چه پوه دم نه يم خالي د تا له ياده
زړه مي ډك لکه سپند دی شعله بويه  که د زړه په فرياد و کړم څو فرياده
بهانه ددي غرض مګر شانه کړي  ته يې لاس وروړي و زلفو ته شمشاده
چه اواز دي د تېشي په کهسار نشته  د شيرينې په طلب لاړي فرهاده
په اسباب کښي مي زړه بند په اسباب ندی  د چمن په قيد سرو ده آزاده
مهيا ورته قفس د ښاخ د ګلو کړه  که څه رحم په بلبل کوي صياده
چه په هرمنزل کښي سرخوری لکه شمع  د هغه لاري څه نفع ده له زاده
په سختی ګله امساك د دولت کيږي  جوهر نه ځي په هيڅ وخت له فولاده
هميشه يې پيچ و تاب لکه جوهر وي  چه شيدا راځي تر دا حيرت آباده
«کاظم خان شيدا»

زه چه مست په لب د يار يم هيڅ حاجت د شراب نشته  اور د عشق مي زړه کباب کړ و هيڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مي وچ لرګي شو، رګ څه مي تار دو باندي پر بوت  زير و بم اواز تري خيږي هيڅ حاجت د رباب نشته
پر پرهار نمك پاشي کړي چه پرسش کړي له ما نه  حال مي خود ور ته معلوم دی هيڅ حاجت د جواب نشته
لکه مرغ نيم بسمل يم تپش کړم په ځمکه باندي  ځان مي ور کړ ستا په عشق کښي هيڅ حاجت د قصاب نشته
«خوشحال شهید»

سحر دا آوازمی غوږ پرست له بلبله
ستا خندا په ژړا کښې پستلم گله !

ترمستی یې لا لذت د خمار ډېر دی
ستا د ستر گو مستی بده ده ترمله

ښا پسته د زمانې د نیا پرست وی
په کوڅه کښې یې پل مه کښېږده بې پله

په چغلی مې ستا ؛ په یار مینه زیاتېږی
څو دې زده هومره چغلی کوه چغله !

ساقی مې چه را کوی یې په قهقه خانده
زده کړه دا د صراحی له قلقله

د لیدونکو په نظر کښې تفاوت وی
او که نه وی خبر جدا نه وی له کله

په پریشانو اندېښنو خاطر پریشان شی
جمعیت مومی خاطر له تو کله !

چه ستا مخ ورته حاضر وی گل به گوری
دغه ستر گی دې دخدای نکابې گله

د مجلس روښنائی ته یې ته دی استې
کوم نقصان دی که صبا کړه دېوه گله

دا دنیا په مثال پل د آخرت دی
تېرشه زر **عبدالقادره** لدې پله

«عبدالقادر ختك»

سرو که لیده شی د چمن تازه تازه
ستا حسن ترې ویشم ماه من تازه تازه

زلفې دې سنبل دی یا ښامار دی په چمن نو
یا دواړه نافې دی دختن تازه تازه

گوره ستا له مینې زړه یې ټك دی ویښې ویښې
رحم کړه شیرینې په کوهکن تازه تازه

ساز دی ښه مجلس دی ښه یاران دی سره جمع
وایه ای فاضله ! هر سخن تازه تازه

«فاضل»

❀ ❀ ❀

زه اول هم دېوانه وم ، دېوانه یم لا تراوسه
له دلداره همخانه وم ، همخانه یم لا تراوسه

له طفلی نه عاشق وشوم ، غم طلب او بلا کش وم
د دلبر د مخ په شمع ، پروانه یم لا تراوسه

زه هلك هم افسانه وم ، له عالمه بیگانه وم
ترخلو ښځو کالو تېر شوم بیگانه یم لا تراوسه

چه عاشق په جانانه شوم ، له اغیارو کرانه شوم
تورو ښتو مې د سر سپین شو ، کرانه یم لا تراوسه

چه داخل دیار په صف شوم ، د تهمت د نیر هدف شوم
عام و خاص مې وائي ولې نښانه یم لا تراوسه

تل راضی یې په قضا وم ، هم صابر یې په بلا وم
عذر نلرم له حکمه ، بې بهانه یم لا تراوسه

د شیرین دلبر له لاسه ، ما شراب د عشق بې قیاسه
څو بې حده مې ډېر وڅښه ، فرزانه یم لا تراوسه

دا فقیر دولت یو مست یم ، د اشنا په مینه مست یم
په ازل مې شراب څښلی دېوانه یم لا تراوسه

«دولت لوانی»

❀ ❀ ❀

ناست یم ستا له لاسه زړه یاره سینه افگاره
ته له مانه څه غواړې فلکه ستمگاره

ته یو موش گیرك یې لایق نه یې د گلو نو
ولی بلبلان شړې کمبخته ! له گلزاره !

یار دې له ما بېل کړ تا خو هیڅ ښادی و نکړه
وایه څه دې وگټل رقیبه دل آزاره !

یو دې د هجران په تنا ره کښې لوغړن کړم
بل دې د رقیب سینه رایخه کړه دلداره !

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو گل یی خار شی په لمن زما څو خېږی
نه چنه د و فا طمع کوي له سر و قد ه
غوځ وي قلندر په تیغ د هجر کړی نیا زه!

سیر د گلو نو چه کوم یې له خپل یاره
سروبه هیڅ لید اې نه ري میوه داره
مه کوه میرا ! نوره جفا درب دپاره !
« قلندر »

خوك چه ستا په مینه کښې وما ته کا پند ونه
زده مې که نادان په لاس کښوومات لکه شیښه شو
او ښې دبا نو په سر چه را شی نه در پېژی
نه شی خوك سا تلی سره بڅری په گریوان کښې
نه دی چا مو ند لی ښاپېری په دو شا لو کښې

واده بېفائدی زدی ابا سینه لره بندونه
نه شی خوك ایښو دای وښیښو ته پیوندونه
ندی چا بند کړی په گیا سره سیندونه
ومې سول پاه سره د صبر در مندونه
وا خله قلند ره! په میرا پسې کندونه
« قلندر »

چه صبا یی په هر گل بنا ندي طوا ف کا .
د پتنگ په دود د ځان په سو و ر ضا یم
همیشه د گل په بو ی زه شمس الدین ځم
میل نکا را ته با ز د یا ر د ستر گو

زه هوس د هغه باغ لرم له شو قه
ځکه مینه پر څراغ لرم له شوقه
په خپل یار پسی سراغ لرم له شوقه
تل په لاس کښې پردی زاغ لرم له شوقه
«شمس الدین کاکړ»

خوښ له و صله نه شوم د هجر ان له غمه زه
خلق را ته وا یی چه ز حمت دي لاد وا دی
سر دي په جها نکښې د همه وا دو ښا دیو
لوس په اه دي ورو سته دخپل یارپه غم اخته شم
غم د ي له از له په نصیب د عا شقا نو
ما عبدا لقا در چه دا غزل د فر اق و وي

نه کړم په گل مینه دخزان له غمه زه
لابه چه بی خلاص شوم د درمان له غمه زه
نه دي شم بېغمه د جانا ن له غمه زه
ډېر په زده زهیر شوم دجهان له غمه زه
ځکه ته خلا صېږم یو زمان له غمه زه
رشك به کړم په اوښو دباران له غمه زه
« عبد القا در خټك »

یو غوا ړم له یا ره ښه دید ن تا زه تا زه
ځکه بلبلا ن چغا ر کوی په تا زه گلو
یو ز مان له مد حې د د لبرو مه د ر پېژه
ز ړه چه در قیب ز ما په بد سره ښه کېږ ی
آه کوی له د له په فر یا د له ز یړ گلمه
بل فکر مې نه کېږ ی بی ستا له گفتگو یه
په کړ ه په جفا سره از ار د بلبلا نو
ستر گی مې خیره شوی چه ولاړ یې زه دي گورم
ز ړ ه د یو نس چو ی ستا د هجر له سختۍ

بل در قیبا نو ځا نکندن تازه تازه
نه به مدام گل وی نه چمن تازه تازه
تل دیارله وصفه کړه سخن تازه تازه
مکړه په ازار زما د ښمن تازه تازه
وا وره له بلبله ښه گفتن تازه تازه
ښیر شکري وا یه له دهن تا زه تازه
شه خوږه وفا کړه انجمن تازه تازه
و کړه په دا لوری آمد ن تازه تازه
شه خوږه خیل مهر کړه غمجن تازه تازه
« یونس »

روهي گلونه (۵۲۵) ب: سردار محمد ح سراج الدين – ر محمدامين ل. محمدنعيم

ښه مې وليدل په سترګو واړه ښکلي — چه تر واړو لاتېرې کا جمال ستادی
د دنيا په مخ به ډېر وي ښه مخونه — چه ترهر څه ډېر لذت کا وصال ستادی
د واړه زلفي د حلقه کړې لکه لومي — چه دانه دی په دا لومه کښې خال ستادی
دواړه ښې ګلګونې سرې په دماغ درومې — ګوره بيا څو مره وګړی پايمال ستادی
ته کشتن د غمزې کړه مه ودرېږه — مقتولا نو قبول کړی وبال ستادی
که همه دخلقو ښکلې سره ټول شي — خسته زړه مې به ټولي کښې لېوال ستادی
چه دې څوك به کوڅه تېر شي نور مېن شي — چه تمام له عشقه روغ دی دېوال ستادی
که مثال د صورت غواړې ګوره مياشت ته — چه پوره د دوه هفتو شي مثال ستادی
چه صبا بېګا بې لوندېرم په اوښو — يادګاري را څخه پاتې رومال ستادی
څو ريبار درسره نه بيا يې دوړاندې — چه په چم به يې تېرېږي محال ستادی
که په قهر يې شړې په لطف يې بولې — چه يې نه پرېږدې په هيڅ کښې خوشحال ستادی

« خوشحال ختك »

مخ د يار شمس و قمر دری واړه يو دی — قدې سرو صنوبر دري واړه يو دی
حاجت نه لرم په شهد و په شکرو — لب د يار شهد و شکر دري واړه يو دی
که بې ياره په بستر د پاسه پروت يم — نار و خارو دا بستر دري واړه يو دی
چه و دراو و دېوارته يې نظر کړم — باغ بوستان اودغه در دري واړه يو دی
چه غبار يې د کوڅې را باندې راشي — دا غبار مښك وعنبر دري واړه يو دی
خدای د يار له هجره هيڅوك خبر مکړه — تاخت وقتل و دا خبر دري واړه يو دی
هغه دم چه سړی دروميی له جهانه — تورې خاورې سيم وزر دري واړه يو دی
قلندر که په رښتيا قلندري کا — خان سلطان او قلندر دري واړه يو دی
په دکان د نابينا ؤ جوهريانو — خرمهرې لعل و ګوهر دري واړه يو دی
دا پيران دې عار زما له عشقه نکا — پاك عشق پير و پدر دري واړه يو دی
په سبب د ظالمانو حاکمانو — ګوراو کور وپښور دري واړه يو دی
غزا وشوه که خان ستانې ورحمان ته — بې هنر وګاو خر دري واړه يو دی

« عبدالرحمن مهمند »

تور ګيسو د بې چندن باندې ښامار دی — تورې زلفې دی سنبل دنو بهار دی
تورې سترګې دې هوسۍ دی خطا شوی — چه وځروته پرتې په سنبل زار دی
تورې ورېځې دې ليندې با نه دې غشی — عاشقان يې زخمي شوی په ګذار دی
مصفا تندی دې ښه دی تر بلوره — بېدلان يې په سرونو خريدار دی
د غه خال چه دې دو رو څو په پيوند دی — دخطا دملك اصلي نافې ترې جار دی
سپينه پوزه دې غوټې د زنبق ده — چه چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دی
ښنا ګوښ د نسترن دی غوړ بدلي — د چنبې تر ګلو به د واړه رخسار دی
سپينه خوله که دې غنچې سره نسبت کړم — د غنچې غوټې کله شکر بار دی
دواړه سرې شونډې دې ښې دی د سرو لعلو — سپين غاښونه بې بها در شهوار دی

ښایسته زنه د سیب د سمرقند دی
چه خوږه یی تر ښاتو نه بسیار دی

صراحی د سپینو زرو سپینه غاړه
سیم اسا اوږې دې هم په دغه شمار دی

واړه تن دې د حلب تر ښیښی صاف دی
چه راڅونه دد رون تري نمودار دی

سپینی لیچې دې و ښکلی مصري توری
چه خونونه یی په غاړه سل هزار دی

د یاقوتو نیگینی دې سره نوکونه
ځای په ځای دې په اوږو باندې قرار دی

چه مې ستا د تیو ښه ننداره وکړه
هغه کلك په لذت ډك خوازه انار دی

د نامه غوټی دې گل دی د گلابو
کیږ اوښی د گلو پاڼې پرې انبار دی

د نامه د ښکته دم و هلی نه شم
هم هغو زده چه خبر په دا اسرار دی

د پنډو یو تر صفت دې نه ز سپنږم
ولې سپینې په سپینو الی تر چنار دی

سپینی پښې دې د زنبق د گلو پاڼې
دیښو گوتې دې گلو نه دانار دی

تمام قد دې په مثال د صنوبر ونه
در پرده یی سم په مثل د چینار دی

سر تر پایه نندا ره بی ځان دې جوړ کړ
ترتا جار واړه را نمی د هند و بار دی

ستا مثال په هند و بار کښې را ښکاره شو
د لوبیا دانه یوه پتر خروار دی

نه خوږه پر مهر کوی عمر دې ډېر شه
دخوشحال ختك دې تش لیدل په کار دی

« خوشحال ختك »

عاشقی را باندې سوری کړې مری
هیڅ مې نه د رومي بې باره تر مری

څه اثر به یی د عقل وی په سر کښې
د هغو په سر چه کښېنې ښا پیری

د مژگانو په پنجه مې زړه وکا ږی
خدای د تر کو مستې ستر گې کړې مرزی

علوفه به یی بې غمه نور څه نه وی
هر چه کاندې دخو بانو چاکری

لښ د صبر سبق ما لره هم را کړی
که په عشق کښې څوك دغه طاقت لری

خدای په څه دې د کوټوال په لاس کښې ورکړم
شپه او ورځ مې غږ وی لکه تو ری

په صورت مې نری تبه شوه ولاړه
تاچه دواړه ستر گې تورې کړې نری

د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم
چه بندی شوم د هجران په کچری

نور د شمعی په فانوس کله پټیږی
تاچه وا غوستې دخیال جامې نری

زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو
چه یی ملاوې د و ښته په دود نری

« عبد الرحمان مهمند »

دا چه مست په میو راغی یار د چا دی
بیا به تاخت کا په کوم غولی وار دچا دی

چه زړه سوی یی د حرم په صید هم نشی
دا بید رده بیصر فې گز ار دچا دی

ما خو نه دی څوك پیو جهی از ار کړی
دا چه ما از ار وی از ار د چا دی

چه یی د رست جهان د مخ په رڼا زیست کا
دا آفتاب غوندې روښان رخسار دچا دی

چه بلبل یی رسیدی تر گلو نه شی
دا د ننه په حرم گلزار د چا دی

چه هیڅ ترس په زړه کښې نه لری رحمانه
دا نا ترس اوبی پروا گزار دچا دی

« عبدالرحمان مهمند »

سپین رخسار او مشکین خال یی سر خم دی
یا محمود او ایاز ناست سره همدم دی

که دې مخ په زلفو پټ دی باك یی نشته
د حیات اوبه هم پټې په تور تم دی

ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو
پیدا شوی شام ، شفق او صبحدم دی

په دهن کښې دې غاښو نه تجلی کا
یا غوټی چه په غنچه کښې د شبنم دی

نه چه اوس زما زړه غوټ ستا په غمزو دی — چاره، غوټې له قد یم سره په غم دی
بې ژړا اچا ته نه گوري سیاچشمه — د نرگسو غوږ یې د جوی په نم دی
راحت ندی چا موندلی بې ز حمته — ستا جفا او وفا دواړه منقسم دي
ستا د حسن د تعریف له بر کښته — د رحمان د شعر کوکې په عالم دی
«عبدالرحمان مهمند»

❀ ❀ ❀

زه که پرنګ بدیم ښکلیه! عارولی له ما کړې — چارې د قسمت دی، زه یې زشت ته یې زیبا کړې
یو ځله بیا راشه په ګلونو ګذر وکړه! — ای د صبا باده! چه بیا نغښتی غنچې وا کړې
ګل دې په هجران کښې سل ټوټې خپله سینه کړه — سرې دې له فراقه لاله ستر ګې بڼډا کړې
ولی له شیدا بلبلی مخ جار باسی ګله! — ته په دا خوبې هم دده نار و رسوا کړې
لاخوشبوئی ور کا چه یې واچوی وا ورته — زه به تنا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړې
ته د حسن نمر یې دانور ښکلی لکه ستوری — ګل به کالعدم شی که ښکاره خپله لقا کړې
«عبدالقادر خټک»

خوښ یم تر ابده د ساقی له میخانې — خورم شراب د مینې ډ کې ډ کې پیمانې
قدر د بلبل چه پاتی نه شو به ګلزار کښې — جوړې شوې په باغ کښې د زاغانو اشیانې
سپینو ستر ګو د ر راوښو واړل په خاورو — نه یې وساتلې په پنبه کښې د ر دانې
هر ساعت چه ډمه کا سنګار د یار د زلفو — وخېژی تر زړه زما غا ښونه د شانې
هیڅ حاجت مې نشی په شیخانو ملایانو — ور کې شه پیخایه د پښتون د برې ستانې
تل مې لیونی عوندی څوك نه پرهیزدی و کورته — ځای رالره نشته یې د یار له استانې
هرچه په ازل وی هغه دی زما په برخه — څه لره نور زه کړم شکایت د زمانې
مر ګی د شمس الدین چه ددلبرد یاده نه ځی — شپه ورځ بې تړلی دی په ګوتو نښانې
«شمس الدین کاکړ»

ما په خوب کښې ځان ملنګ لیدلی دی — د زړه رخت مې په عشق رنګ لیدلی دی
اوس له وېرې په کوڅه ورتللی نه شم — ما د مستو ستر ګو جنګ اییدلی دی
غم و ښکلې توري راغی که مې پرهیزدی — ما خلاصی د ستا ترڅنګ لیدلی دی
ما بیګا شپه د یار مخ لید لکه شمعه — دا خپل ځان مې پرې پتنګ لیدلی دی
دا مطیع په سحر ځکه ځکه ژاړی — چه خپل حال یې ډېر بدرنګ لیدلی دی
«مطیع الله پیرخیل»

مینه د خوبانو نام و ننګ لرې کوی — تش دیدن د ښکلیو د زړه زنګ لرې کوی
تل آرزو لرم چه به پټ حال و یارته وایم — ګله سپی غماز له یاره څنګ لرې کوی
خوښ د معشوقو هغه عاشق وی چه بې ننګ دی — ځکه هر ملنګ له ځانه ننګ لرې کوی
خدای په دواړو کونو هغه رونده په نورلیمه کړه — څوك چه ستا له شمعې ما پتنګ لرې کوی
یار مې په شړل ندی راضی زه پرې پوهېږم — سپی غماز له دره ما په جنګ لرې کوی
بس کړه ای ناصحه! تور ځیګر را باندې مه خوره — ګله مست بنګی له ځانه بنګ لرې کوی
بل شغل مې نشته په زړه بې دیار له مخه — عشق یو هسې رنګ دی چه بل رنګ لرې کوی
«مطیع الله پیرخیل»

زړه مې د دلبرو تورو زلفو ته هوس کا
ګوره دا په ځان خونې تورمار لره وردرومي

مرم د خدای د پاره په شتاب شتاب رادرومه
چېرې هم طبيب ورو ورو بیمار لره وردرومي

ځم د یار په لوری په هواهوس خوښي کړم
ذوق کاندې بلبلې چه ګلزار لره وردرومي

هر څوك چه طلب کا پته نه ده دا خبره
هر کله مطلوب و طلبګار لره وردرومي

«خوشحال ختك»

خوږې شونډې دې شکرې نه دی څه دی
ښکلې غاښ دې مرغلرې نه دی څه دی

چه تسخير په تورو سترګو کا د زړونو
سیه چشمې سحر ګرې نه دی څه دی

چه د زلفو په زنځير یې زمری بند کړل
هوسی سترګې زړورې نه دی څه دی

چه د باغ سرو یې پسته تر قامت ده
ښېښتنې په قامت سترې نه دی څه دی

وایې نورې میني لرې کړه د زړه نه
ستا د مخ په دور لرې نه دی څه دی

«خوشحال ختك»

یار په ستمونو د خپل یار نه زهیر ینږی
سترګې د ښو په درانه بارانه زهیر ینږی

څو کبر لو یی ده و خوبانو خدای ورکړی
هیچېرې بی زړه په عاشق خوارنه زهیر ینږی

څه شو که ترې سله ځله ځار ینږی په ساعت کښې
ګل د بلبلانو په چغار نه زهیر ینږی

ښه رنګ یی بدرنګ کا چه پری والوزی پوخته
زړه د خزان ګوره په بهار نه زهیر ینږی

ګرانې دی هر ګوره نوې چارې نو آموزته
هرچه مدام مې خوری په خمار نه زهیر ینږی

زردی چه خبر به شی د سترو له احواله
هرچه د ویښتلو په آزار نه زهیر ینږی

سرغواړه له خدایه خولی ډېری دی فاضله
هرچه غم د سر کا په دستارنه زهیر ینږی

«فاضل»

چه خدای په بت مین کړم که داعیب دی هم وی دی
سجود که روشن کړم که داعیب دی هم وی دی

عالم وایی عاشق شوې زه سو ګند خورمه چه کله
درست خلق دروغجن کړم که داعیب دی هم وی دی

کافر یم که یی و باسم هغه ساعت له زړې
ستانوم چه ځنکندن کړم که داعیب دی هم وی دی

که ستا کوڅه جنت سره څوك سمه راته کښېږدی
کوڅه به دې وطن کړم که داعیب دی هم وی دی

چه ځوان وم دایم زوړ شوم په رښتیار ښتیا خبرو
عالم د ځان دښمن کړم که داعیب دی هم وی دی

شیخان او زاهدان واړه په پسی شا ویل کا
په مخ یی مبرهن کړم که داعیب دی هم وی دی

که نور په صهبا مست دی زه خوشحال په خرابات کښې
مستی یی په دیدن کړم که داعیب دی هم وی دی

«خوشحال ختك»

په ما غم دی واړه ستا د مینې مینې
زړه مې درست پاره پاره شو وینې وینې

اندرون ګو ګل مې درست دو ینو ډك شو
ظاهری جامې اغو ستې سپینې سپینې

بیا دې نوی پرها رو نه په ما روغ کړه
لرغونی مې لا روغ نه دی ځینې ځینې

په ژوندون یی څه احسان را سره نکړه
څه پکار دی که یی کړی په مړینې مړینې

زه دې درست له باغه واپستم دلبره
تورزاغان پکښې میوی خوری خوړینې خوړینې

تورو زلفو دې خوشبو په کړه ملکو نه
د واړه ګلو ښتی دی دمېنکو چینې چینې

خماری سترګې دې د واړه ښنه زمری دی
د خواجه محمد و مرګ ته وړینې وړینې

«خواجه محمد بنګښ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه به څوك بې نا چاري وطن پرېږدي
كه ستا مخ يوزلي وويني په ستر گو
د يوسف غوندې به څو ځنې بېروون كا
كه دې وليدې سرې شونډې جوهريانو
كه د لبر په دا ښايست لاړ شي چمن ته

نه به روح هرگز په خو ښه بدن پرېږدي
بت پرست به نور سجود دو شن پرېږدي
كه د زنې چاته زلفې رسن پرېږدي
په يا قوت پسې به تله د يمن پرېږدي
د خو لئې دعوى به گل دچمن پرېږدي
«كامگار»

چه يوه گړۍ په جمع زړه ښه مخ وته و گورې!
داخوى زماقديم دى څه ماوس ندى راوړى
د خلقو تهمت يوسر دجهان غم نه بل سر
دا اور چه په مابلدى دخپل يار له جدائى
اشنا ته وايه نشى نا اشنا به څه خبر يږى
ناوك يې دمژگانو دابرو په كمال جوړ كړ

كه درسته دنيا ستاشي هم څه نده دا تر پورې
چه بې دزيبا مخه راته خس دى چار ې نورې
هم ته به مې لاهسې رنگه سختې بلا ژغورې!
نه گرم نه ملامت يم كه تل وينې ژاړم تورې
دا راز چه لامانه دى اور يد لى خپلى مورې
خداى زده چه به دچا ترزړه گى وزى پورى وورې

ښه باز دې دخوشحال ختك خاطر په لاسو كبوت
په قد رى خبر شه چېرې نه په لنړى پلو رې!
«خوشحال ختك»

شنه خال و نه چه د پاسه پر جبين ږدې
د عشق اور مې ويلوى د زړه گى شمع
مادې خيال اره فرش كړى تور ليمه دى
په شپه حال د مهجورانو په ياد راوړه

دا زما پر زړه دا غونه آتشين ږدې
بيهوده مې پر موم نقش دنگين ږدې
ته بې نيا زه قدم ولې پر زمين ږدې
په راحت چه سر له نازه پر بالين ږدې
«پير محمد كاكړ»

❀ ❀ ❀

## ه: موضوع گانې

### (۱) - مخ:

باديې لاس په پلو كښېښږدى سره رېږدى

گل بې مخ وته نظر كا خوله پرېږدى
«خوشحال ختك»

د پرې ښكلې جوه ماليدلى دى په ستر گو
زور دغاښو مكړه مخ يې صاف تر آئينې دى
عمر به يې لنړ شى كه ئې تاردزلفو كم شى

روند شم كه به تا غوندې په حسن بله وه
زخم به پرې وشى په ورو ورو يې ښكلوه
فهم كړه اى دمى! زمنځ ورو وروچلوه
«عبدالقادر ختك»

اى چه په مخ و ړ ې خو ئې له ور ده
ته بې آ سيبه بې، سيب او سى

خالى يو دم نه يم د ستا له درده
كه تر نارنج مې ځېر ده زر ده
«عبدالقادر ختك»

كه مخ دې نمر كړم دنمر كړه وړه نشته

كه يې سنبل كړم سنبل مشكين ندى
«عبدالقادر ختك»

د پر هوس لرم د ا ستا د مخ و گل ته

زه بلبل پرې الوته كړم كه بد نه وړي
«شمس الدين كاكړ»

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپین رخسار دې ستا کعبه د عاشقانو — تورې زلفې غلافونه د اطلس
«میا نعیم متی زی»

دا په خوب کښې را ښکاره شو د دلبر مخ — که په ابر کښې ښکاره شو د قمر مخ
چه یې ولیدو دا ستا جوهر د ښا ښو — پټ له شرمه په خپل آب کښې کړ گوهر مخ
له حیا دې غټو مخ ته کتی نشم — کله لید په خوږو سترگو شي د نمر مخ
« قلندر »

دا دې یار خو دی، خو له نیو لی — که لاله گل دی پر خپې و هلی
دا دې سرې شونډې که سپین غاښو نه — که لعل و در دی سره پیېلی
«خوشحال ختک»

ډېر مې ستا و مخ ته وکاته موړ نشوم — نور به څو پردې نابوده دنیا و یادم
«شمس الدین کاکړ»

لکه مخ زما دیار دی ای باغوانه ! — په درست باغ کښې یو نسرین هسې نری !
«خوشحال ختک»

مخ وته یې، گوره چه په مخ لری خاونه — څه عجب زیبا دی لکه گل د پیغمبر
«خوشحال ختک»

## (۲) شونډې او زنه:

د خولې ویل دې واړه نبات دی — خواږه دې لا د کنځلو زبات دی
څوك یې چه ښکل کا سخ د هغو دی — شونډې دې دواړه آب حیات دی
«خوشحال ختک»

بوی به ستا د محبت څخنې روان شی — که یاره مې د نافی په دود تتر کړې
په ناز کو شونډو یار د پانو مه زده — خدای چه شونډې سرې یې پانو درته در کړې
«عبدالقادر ختك»

غنچه خوله چه یې نقطه موهومه ده — څه عجب که په خندا کښې شی دوه نیمه
«پیر محمد کاکړ»

په سرو شونډو کښې یې روز دی هم اوبه دی — دواړه زیست کا په یوځای کښې بی جداله
«دالپوری حافظ»

که څوك و وینی د استاذ نخ پر آب — زړه یې و وزی د سینې لکه حباب
«عبدالله پوپلزی»

چه یې خیال د زنخدان وزړه ته تېر کړم — په کوهی کښې گذار کاندې اسکورلا
«میانعیم متی زی»

هغه شونډې چه ځائی د پانو سرې دی — هغه شونډې څه حاجت لری و پان ته
«خوشحال ختک»

چه په خیال د سرو ابو د شونډې خملم — هر سحر ځا څی ځما تر بستر و پسنی
«عبدالله پوپلزی»

(۳)- بوسه:

چه بوسې د جفا جو یو د خولې اخلی
څوك مایوس څوك په امید دیار دوصل
زه خوشحال د آهو چشم مینې سر گرم

گویا اخلی د یا غیانو قلنگو نه
څوك پراته غاړه غړئی په پا لنگو نه
د غرڅه غوندې په هسې کړ سکو نه
«خوشحال خټك»

چه د یدن دمین و کړمه تازه شم
په ارمان د هغه و خت یم د ریغه د ریغه

لکه حکمت چه په باران سره اوبه شی
که د زنې سبب یې بیا زما په خوله شی
«خوشحال خټك»

څوك چه زور ـ ه ښکاره کا وزیاتیږی

که پخپله بوسه راکا زور به نشی
«خوشحال خټك»

مگر تا سره سامان د سلطنت دی

چه په هوډ مې سپینه خوله غواړې خټکه
«خوشحال خټك»

څو مې یاد دهغې خولې دمچې خوند دی

نور مې کل له د له هېر دی تلذذ
«خوشحال خټك»

سر به درکړم مچه راکړه ښه سودا ده

که یې ته په بها پېرې زه یې پلورم
«خوشحال خټك»

په رښتیا ړ ماته و وا یه طبیبه!
سپینه خوله که بې ریباره وزپیشکش کړم

چه د رنځ به یې صحت وی که به نه وی
په خوشحال به مې منت وی که به نه وی
«خوشحال خټك»

دادی هغه اوچه په هجران کښې پسی ته مرې

اوس یې په وصال کښې دواړه اوریه ښکلوه
«خوشحال خټك»

دصبا باده! گزر په چمن بیا کړه
زه خوشحال کمزوری نه یم چه به دار کړم

په چمن کښې رنگا رنگ گلونه وا کړه
په شکار ناړې وهم چه خوله یې را کړه
«خوشحال خټك»

زړه مې تخمخ کیږی دسپین مخ وښکلول ته
زه چه ځنې سوال د بوسې و کړم راته خاندی

لاس یې لر بر کیږی دزلفینو ونیول ته
یا به زړه راضی ده یا پروانه کاوینه ته
«مطیع الله پیرخیل»

چه یې تل دمخ ثنا وایی خوشحاله

په صله مې سپینه خوله درته بخښلې!
«خوشحال خټك»

د بوسې وعده دایم صبا برات کا

زړه به څو کاندې تازه په دا وینا کښې؟
«اشرف خان هجری»

بیا حانث په سپینه خوله شوم د خو با نو

قسمونه مې نا صح گڼل عبث
«میا نعیم متی زی»

هغه چا چه ستا دلبو خوازه نوش مکړه

په خوزو یې د حلوا نشته غرض
« یونس »

که هر ار لحله شیخی کوی خوشحاله

که ښه ښکلی درنژدی شی نو یې ښکل کړه
«خوشحال خټك»

## ٤ ـ ستر ګې :

مست دهغه مخ یم چه مخموری اری ستر ګې
هسی یری غوځیږم وایی توري لري ستر ګې

یار مې په ښایست ګڼېږي بې نظیره بې مانند دی
لا په درست صورت ګڼېږي د پرمشهوري لري ستر ګې

ناست دی لکه ځری رقیبان وخوار عاشق ته
ځکه ستاله مخه هوري دوري لري ستر ګې

هرچیرته چه ته یی هغه اورته مې نظر دی
هرچرته چه زانی شاهین هوري لري ستر ګې

« خوشحال ختك »

ما یی خیال لره ابلق د ستر ګو زین کړ
قدم تنز دی په رکاب زما د ستر ګو

« عبدالرحمن مهمند »

خار بندی مې د ښو کړه تري چاپیره
ګوندي خیال دیار په ستر ګو کېښي حصار کړم

« عبدالقادر ختك »

ځکه ما دعشق په تیر ځان شهید کړ
چه مې نه رسی د صبر په کفن لاس

مر ګئ دړوند زما پو ښته له مړاوو ستر ګو
په رسا ګذار یو هیښږی د تور زن لاس

« عبدالحمید مهمند »

کښږی وروځی کوزبانه چه دې را یاد شی
کابزه غشی مې تر زړه لوښږی آزاد

« پیر محمد کاکړ »

نیمګښو دی د غمز و تورې تېرې ستا
پرې به غوځ شی هرچه کاندي ننداري

« میا نعیم متی زی »

باز دیار دستر ګو دمږګانو په پنجو کېښي
دی لکه تنزری په چنګ و زړی زما روح

« میا نعیم متی زی »

د اشنا دتورو ستر ګو په تعریف کېښي
نده کمه شاعری له اجتهاده

« میانعیم متی زی »

خو، دیار بیماري ستر ګې خدای خونی کړې
ګڼه خون کله کولی شی بیمار

« عبدالرحمان مهمند »

خپلو ستر ګو فتوی در کړه چه مې وژنې
حیرانی ده پر دا لو ستو د مکتب ستا

وکوثر ته حاجت نه لری د ښپلو
چه جام نوش کا څوك دمیو لبالب ستا

« مرزا حنان »

زړه مې رم خوری له سینې بې خبر نه یم
دا د ستر ګو باز مې بیا راځی وښکار ته

« مرزا حنان »

یل یی په جهان کېښي مـو ندی نشی
عاشق تله د یار په لوری په لیمه کا

« عبدالقادر ختك »

بې د یار له مړاوو ستر ګو چه کج ګوری
ګڼه نکا رنځورا چا ته جواب سخت

څوك د صبر ارام نه غواړی په عشق
د ازل کاتب دی ښکلی په دی باب سخت

« عبدالحمید مهمند »

عجب نده که وحشی د کوه و دشت شی
هرچه زړه د آهو چشمو سره مل کا

« پیر محمد کاکړ »

روهی ګلونه (٥٢٥) ـ سردار محمد ، ج سراج الدین ، ر فتح محمد ، ن محمد نعیم ، ه اجرائیه پښتو ټولنه ١١-١٠ ـ ٤٢٥

## ۵- غابښ

په آرزو دسپينی خولی يی په بوستان کښې
نرگس پاس پر سر نيولی دی پيا الله

چه يې وليد خندا د سپينو غابښو
له شبنمه لمن ډکه کړه لا له
« شمس الدين کاکړ »

په رڼا د سپينو غابښو يې خرم وم
وا قف نشوم د هجران د شپې له دا چه
« پير محمد کاکړ »

## ٦- غوز اوپوزه :

در په غوز کښې د مهرو هسې زيب کا
لکه بر ښنی په سحار کښې ستا ره
« مرزا حنان »

چه الماس دلمندرو زا نگی په غوز کښې
کوا کب کا په اسمان لرزان حبيب
« ميا نعيم متی زی »

چه له غوزونې مقصود مومی لښتی ده
چه له پوزي يې مراد مومي لونگ دی
« خوشحال ختك »

سپينه پوزه دی غوټۍ د زنبق ده
چه چاپير تري نور گلونه د گلدار دی
« خوشحال ختك »

## ۷- خال :

مخ وته يې گوره چه په مخ لری خالونه
ته عجب زيبا دی لکه گل د پيغمبر
« خوشحال ختك »

زه حيران د اعتقاد ورځو په نور خال يم
کافر څه رنګ سجده کاندي په محراب کښې

گل ده يري بار يکی په شبنم خور شي
نازك زړونه بد وي په صاف جواب کښې
« عبدالرحمان مهمند »

مشکين خال دي په سروليو هسي زيب کا
لکه مهر په مخ ون د در مرجا نو
« عبدالرحمان مهمند »

لکه عکس د اسمان چه او به شني کا
زړه مي شين شوستا دشنه خال له لاجورده
« شمس الدين کاکړ »

چه ز خال و خط خبری يکښ نه وی
د عشاق يکبار دا ترانه نه ده
« قلندر »

شنه خالونه چه د پاسه پر جبين ز دي
دا زما په زړه دا غونه آتشين ز دي
« پير محمد کاکړ »

شينکی خال د وروځو منځ د مهر و يانو
هم محراب دی ؛ هم منبر دی هم خطيب
« ميا نعيم متی زی »

زده می ځکه په سل ژبو گفتگو ی کړی
چه شا نه وهی په زلفو د نگار لاس
« عبدالله پوپلزی »

په لښکر د تورو زلفو یی تالا کړم
خدای دی نه کا حال کما ن کفر د چا
« میا نعیم متی زی »

خیال د زلفو د رخسار زما په زړه کښی
زر عو نه کړه تر سنبل او سره گلاب
« میا نعیم متی زی »

زانگی ی‌کښی زړو نه د عاشقو سره په وینو
نه چه چیری کیږدی سره گلونه په اور بل
« میا نعیم متی زی »

کفرستان د شاه د تورو زلفو گوره
چه په څه شانی تاوینږی وایمان نه
« خوشحال ختک »

که څوک وایی چه مار کله په کټ خیږی
زه خوږ لی یم په کټ د زلفو مار
« عبدالرحمان مهمند »

که اره لکه شانه شم پری نه یی نږدم
که د تورو زلفو تار په لاس را کښیوت
« مرزا حنان »

توری زلفی دی په لیچو باندی زانگی
ښامار ان دی د چندڼو په ښاخو نه
« خوشحال ختک »

دار بل په هر یو تار یی زړو نه بند دی
مشاطه ور باندی نور یسی په تارو
« خوشحال ختک »

که دد یدن حج اکبر کوی تلوار راو که
چه پر سپین مخ باندی د زلفو تور اطلس لرم
« صدیق آخند زاده »

## ۸- زلفی:

که بل مار چیچلی په لاس یا په پښو کاندی
په زړه خو له لگوی مار د تورو زلفو
« عبدالرحمان مهمند »

رحمان ستا په مخ بی خنمو وهم مین دی
بیهو ده د ویر نه کښینو د ارام په څه
« عبدالرحمان مهمند »

د ک می د نشه لړمون په اور شیو
ز ړه سمند ور دی ی‌کښی یی کور شو
چه ستا د تورو زلفو په رنگ دی
له بخته خو بی یم چه بخت می تور شو
« عبدالقادر ختک »

په لیده یی پیچ وتاب شم نه پو هیږم
څه بلاده د شوخ چشمو په کاکل کښی
تر حلقو د زلفو مخ نی معلو میږی
که گلاب را ته ښکاره شو په سنبل کښی
« مرزا حنان »

زه مین په هغه زلفو په رخسار شوم
چه سنبل ورته خجل دی گلاب هم لا
« پیر محمد کاکړ »

خو دیه څو دی کله زلفی په مخ زانگی
واړه زهر دی چه څوزی په تور مار کښی
« پیر محمد کاکړ »

خیال د زلفو یې دزړه نه جدا کیږی — دی کیبی پوښ پښکته شی تور حجاب
« عبد الله یو یلزی »

## ۹ـ خندا:

په بار بار د خندا منت را باندی — چه په مادی نظر وشوی په خندا شوی
« خوشحال ختك »

کله کله په خپل قهر ئې کښې مسیږی — لکه خو کله په هندو بار کښې دینداري کا
« شمس الدین کاکړ »

تبسم یې له دښنا مه سره زیب کا — قدر ز یبات لری ترخه چه شی شراب
« مرزا حنان »

## ۱۰ـ لاس:

د ا محما د قاتل لاس دی نه یو هینزم — که تر باغ وتلی لاس دی د سرو گلو
« عبد الرحمان مهمند »

کوم دلبری زړه په سرو منگولو وړی — چه لرمیو ن د وینو د کې دی د حنا
« شمس الدین کاکړ »

سره نوکان دی د سرو گلو په څېر زیب کا — د واړه لاس چه دی رنگ کړی په حنا
« پیر محمد کاکړ »

## ۱۱ـ حسن:

ته په دا حسن د گل غوندی پیدا ای — بوری مور که بنا پیرئی یی راوړ ی
« خوشحال ختك »

زه رحمان د هغه حسن تنا خوان یم — چه جرگه دعا شقا نو وی پر پند ه
« عبدالرحمان مهمند »

ستا د حسن د آفتاب له گرمه خو یه — لکه گل یه نمن یت تازه شبنم ودم
« شمس الدین کاکړ »

یوبکښې مخی د ننه هار د کنبلبو نشته — کنبلی د کشمیر که دلا هو رو د کابل
زړه د شمس الدین په حساب سره دری ځای کړ — یو طرف دي تیك شوبل دی ته بل چار گل
« شمس الدین کاکړ »

خو بروئی بی دلبرئی څه په کارنده — لکه ونه بی میوی په بیا نو یورو ه
« عبدالرحمان مهمند »

توری زلفی نشته خالونه سره رخسار — بشفه طوطیان دی سره گلونو تور ښامار
« یونس »

## ۱۲ـ جامه او گانهٔ:

ارغوانی جامي یی واغوستي رحمانه — بیایي جوړ کړه ستا دقتل اسبابونه
« عبدالرحمان مهمند »

دعقیق د آب په رنگ یی تن معلوم دی — هره ورځ چه جامه واغوندی گلنار
« مرزا حنان »

نور دشمعی په فانوس کښله پټیږی — تا چه واغوستي د خیال جامي سپری
« عبدالرحمن مهمند »

درسته‌دي له‌خيل غريو وا پستم خوشاله — يودغاړي هارمي د ګلونو مه‌شلوه
« خوشحال خټک »

## ونې

داهلال دی چه‌ليدل‌شي په‌شفق کښې — که‌په‌لاس د ګل‌اندامي سپين‌ونې‌دی
« عبدالرحمان مهمند »

## ۱۳- عيش ،اودعشرت‌سامان:

دنيادار کړه چه نه‌وی ښې دلبرې — اوردې پورې ددنيا په‌ملک ومال‌شی
ارمان دادې چه به زه هميشه نه‌وم — هميشه به‌سره ګلونه کال په کال‌شی
د ګلونو وخت‌تېرېږی‌ساقی! ګرم‌بی — که دجام په د کولو دې اهمال شی
« خوشحال خټک »

* * *

ساقی ! پورته شه‌دميو جام تيار کړه — عمرهيڅ معطلی نه کوی‌تلوار کړه
که‌غمخوارغواړې‌په‌غم‌اوپه‌اندوه کښې — ښېښه د که د شرا بو اختيا ر کړه
هغه‌خوک دی‌چه‌تهمت پرې واپه‌نه‌شی — غوز په‌هيڅ‌پاندې‌مه‌باسه‌خيل کار کړه
« عبدالرحمن مهمند »

* * *

غنچه‌غټوه‌شراب‌ساقی!بيابه‌ارمان کړې — عندليب ناری وهی چه‌بهار دروی
« عبدالقادر خټک »

* * *

ساقی وخت دنوبهاردی شراب راوړه — دشرابو سره نقل دخولې مل کړه
« خوشحال خټک »

## رباب

په‌آواز مې‌پی دزړه پرهار ګانه‌شی — مين ځکه د رباب په زيرو بم يم
« عبدالقادر خټک »

له مزينه زړه مې نرم اواز خېژی — ځکه‌خوښ لکه‌رباب په‌زيروبم‌يم
« عبدالقادر خټک »

باغ د ګلو نو ګنج د کتاب وا ی — رودوسرو دو نقل‌و شر ا ب وای
ښې‌ښې محبو بې ښه ښه احباب وای — خو پی د عمر وخت د شباب وی
« خوشحال خټک »

## شراب

زمايار په‌خوب ويده دی چه‌ويښ نه‌شی — به‌پياله کښې ساقی! مې‌تر پوه‌ورو
« عبدالقادر خټک »

ګله ! ته چه د بلبلی مخ جار باسې — مګرستاپه‌خيل‌ښايست اميدمدام‌دی
نور چه تل د کې پيالې تشوی ښه‌دی — په‌يوه‌پياله خوشحال‌خټک بدنام‌دی
« خوشحال خټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا گلگون شراب د کومې میخانې دی
چه صوفی یې په جرعه سره مدهوش دی

بیا به دا گلونه نوی میخواری کړه
د بلبلو په اواز کښې دا سروش دی

« خوشحال ختک »

د رحمان شراب له عشقه
نه انګور نه له عنبه

« عبدالرحمان مهمند »

د گلو نو میو ناوې را سته نا سته
زنگاری کمیس اغوستی د مینا دی

« عبدالرحمان مهمند »

شپه او ورځ په دا زه مستغرق یم د شرابو
وینم یکښې هر دم د خوبانو انعکاس

« قلندر »

په تاخیر کښې افتونه پیدا کېږی
معطل مه کوه ساقی! په داد ومل شه

« عبدالقادر ختک »

بو نفس دیاد پیاله له لاسه مه ږده
دا شراب حقیقی نه اری خمار هیڅ

« دولت لوانی »

نن هغه شراب حرام دی
چه یې کا نزی له انگوره

« شیخ دولت »

ای ساقی د جام په ور کړه سستی مکړه
کاشکې بو هم پاتې نشی هوښیار دریغه

« دولت »

## ۱۵- بیلتون :

گیځ رنا د نمر خپره شوه
زما یار کور د ویر ناره شوه

د بیلتون ورځ توره تیاره شوه
غېږ شونا څا په چه بیلتون راغی

زړه می له دی ویر نی سین دی
په زړا ژاړم څه ماورین دی

زرغون له او بو می سا دین دی
په نول نولیږم چه تاخون راغی

❀ ❀ ❀

نه به بیا یم نه به بیا راشی
نه به تیاره شپه زما رنا شی

نه به شگی را ته پخلا شی
بیلیږی پیر یی اوس دیون راغی

❀ ❀ ❀

د ښبتن یار دی هیر مو نکری
آ غلیه مخ چه په یا نه کړې

اور بل دې پر ینو وی وا ته کړې
په ما دبل اور کړوون راغی

« دا شعر دشیخ تمین بڼ کا کړ دی چه د ۵۲۵ ه په حدودو کښې ژوندون کاوه »

❀ ❀ ❀

ویر می زده سو ری سوری کړ
را ته وگوره ملو کې ! !

په بیلتون کښې دې وباسم
له خوږ مینه زندگی کو کی

را ته وگوره ملو کې !

را ته وگوره ملو کې !

د بېلتون اور نه بل دی    هر ګړی مې زړ ګی سوځي
لیو نی یمه د مینی !    سو ځم زه لکه پتنګی
راته وګوره ملو کی !
راته وګوره ملو کی !

غوږ ولی دی اور بل دی    اور زما په زړ ګی بل دی
زه « بختیار » خاوری ایری شوم    په اور سوی مې ګو ګل دی
راته وګوره ملو کی !
راته وګوره ملو کی !

❀ ❀ ❀

« قطب الدین بختیار »
« متوفی : ۱۳۳۳ ﻫ »

جدائی دما په زړه کاهغه چاری    لکه بازی په تارو یا په دراج کا
دوه مېن چه په هواد وبلـه بېل شی    خدای یی څه شکل دتش سلام محتاج کا
زما اوښي د ګوګل په جوش پیدادی    لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوك چه دقضا لـه شسته خېژی    زمانه دخوشحال زړه ورته آماج کا

« خوشحال خټك »

که داستا ستر ګي راوجا ربا سم لحانته    له بنیادی په یی نور شا کرم وجهان ته
یوزمان مي که داستا لیدل نصیب شی    نور به ستر ګي پورته نکړم ګلستان ته
طبیبان دخپل دارو درسره کېږدی    تاو یشتلی مینه نه کا و درمان ته
چه په ما باندي تېر ېږی ستا په عشق کښي    خدای دي هسي حال پېښ نه کا مسلمان ته
په فراق دښو یارانو چه ډېر ژاړم    دواړه ستر ګي مي پیغور کا و باران ته

« خوشحال خټك »

اوس یی درد د فراقت زغملای نشم    لکه نی یم وهرچاته په فغان کړ

« پیر محمد کاکړ »

دفراق په درد کښي شوق د بوسي څه کړم    خوږ شربت په حال د مرګ د بیمار نښلی

« پیر محمد کاکړ »

مو نږ لـه هواده تنها راغلی یو    دبڼ طوطیان یو ، په دام و تلی یو
غمازه ظلم را باندي مکړه    دښو یارانو فراق نتلی یو

« پیر محمد کاکړ »

دسحر چر ګه خوږ شي په کومی    چه تا ناري کړي دلبر مي دروم ی
یوم ي دلبر ځی بـل رانه زړه وړی    زړه مي بدا وړی چه دلبر نوم ی

« اخوند ګدا »

دهجران دغم راتله په توره شپه وی    په هر چاورم شه بېوخته مېلما نه
د فراق اوښکو دصبر تیمم مات کړ    په دریاب کښي نشته نمونځ په تیبا نه

« شمس الدین کاکړ »

وخت دنو بهار دی زه جدا لـه خپله یاره    دریغه دریغه دریغه چه بی یاره ځي بهاره!
ژاړی غاړي غرونه په احوال دعاشقانو    سیل د اوروندی چه رادرومی له کهساره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوردخوزو زړودی چه‌دغره په‌ونوبل شو
غوابدی چه‌احوال‌دفراق جنودرمعلوم‌شی
نوري ناري نشته خو ناري د بېلتانه دی
رنځ‌مې نه کمېږی په‌زمان زمان‌زیاتېږی
مرگ د رقیبا نو بل ژوندون د حبیبانو
څه‌شو که لادموهی په شماردی دژوندیو
هسې‌خواروزارشوم‌زخوشحال‌په‌عاشقکښې

چه‌په‌وخت‌دتلوراتلو کاچیغارو نه

که هر څو دبېلتانه له غمه وا یم
په‌قد کوز په‌تن‌ضعیف گوښه یولی

له ښکیه وچاوده وخت دصبا شو
راشه‌چه‌ښکل‌دي کرم‌اوس‌په‌بېلېږو

مین را یاد شو دا ستا له رنگه
که اشنا نه‌بی داشنا مثال لري

وخت د سحر شو پر یوتي تلي
د یار د راغلو وعده شوه تېره

د منې و خت ؤ ونې لېـد لې
خواري خسته وي وي‌مې سزایی

ودلدهجرپرما شرطمکره یعشقکښې

دزړه‌ویښي‌مې په کومه‌درشتي‌خوري
بېلتانه‌می‌هډوپوست‌هسې‌وچ کلک‌کړه

د هند بار را نه آ هسته وره !
د سا یې گل ؤ په نا ز لوی شوی

د هجرا ن له دېره غمه ولې نه مرم
چه یو یار له بله یاره جدا کېږی

سری ددوزی خېژی له نښتره له چیناره
گوره هغه زانهي چه جدائی ئحی له قطاره
راشه که بی اوري در باب له هره تاره
زر راځه طبیبه! گنه مرم د خدای د یاره
خدای‌زوبه‌هنگام‌دوصل کېږی دادوه کاره
رنځ چه‌لا دو اشی طمع پر بکړه له بیماره
خېل دی که پردی دی راته‌نه گوری له هاره
« خوشحال ختك »

دهوا دیاران را یاد زانهی‌ا کشر کا
« عبد القا در ختك »

خپل‌ژوندون‌مې دروغجن کاندي‌چه‌یا یم
په منا ل لکه ا بر و د لر با یم
« عبد القا در ختك »

په هر مسجد کښې ا ذا ن اد ا شو
په ځا ن ز مو نږ ه صبا بلا شو
« عبد ا لقا در ختك »

که یو د رنگ کښې زما تر خندگه
ځا ر شم قر با ن شم تر تا ملنگه !
« عبد القا در ختك »

له ډکښیه لو ر یسه را و ختلې
په دېر ډکتل مې ستر گې و تلې
« عبدالقا در ختك »

یو څو بلبلې چه ژړ ید لې
چه بې گلو نو و یا ښېد لې
« عبدالقا در ختك »

ز هر چا خو ډ لی ند ی په شر طو نه
« شمس الدین کا کړ »

هغه شونډي چه په شهدوشکر خوږ شی
دیار لاس مې په وهل دخنجر خوږ شی
« شمس‌الدین کا کړ »

یار مسافر دی د ږ سره بې ژ غو ره
و تلی نه دی هر گز له کو ره
« شمس الدین کا کړ »

له دي هسې رنگه ماتمه ولې نه مرم
د دې د هر له ستمه و لې نه مرم

چه په هر سحر زما په ژړا خاندی
چه‌په‌لمزه گرمی شا کاندي وگل ته

له دې هسې صبحدمه ولې نه مرم
له دې بېوفا شبنمه ولې نه مرم
« عبدالرحمان مهمند »

زاروخوار عاشق دی چه‌په‌شپه‌دجدائی

درسته‌شپه‌بیخوبه‌دامان ستوری شمېری
خوشحال ختك »

## کاغذ

مخ یې سپین ورق خالونه توری په کاغذ
دادی تماما د محبت کمال طور ونه
ته‌که‌نه‌رادرومې گاهی گاهی‌په‌خطیار کره
مه کوه ناتر سه د جفا ستم را باندې
وران به هرگز نه شی کښلی توری‌له‌ازله
ستوری د طالع هم له جبینه معلو مېږی
مه گوره یې خط قلندره د یار مخ ته

سرو مال په تا عاشقان پلوری په کاغذ
یار له جدا ئی چه یار ژغوری په کاغذ
نیم ملا قات وینم ستا له لوری په کاغذ
کله کله یاد کړه خیل‌غمخوری په کاغذ
هرزمانې که سترگې د چا اوری په کاغذ
څه گوری فالونه د بخت ستوری په کاغذ
بی تورو ندېږی چه‌څوك گوری په کاغذ
« قلندر »

## ۱٦ — ژړا

که گرېوان مې‌دسپوږمې‌دنمرمشرق‌شی
درحمان خندا په اجر دژړا ده

زه چه یار په سترگو نه‌وینم تورتم وی
تازگې د گل په قدر دشبنم وی
« عبدالرحمان مهمند »

ناخبر په ی له حاله شفق بولی

که دوینو په ژړلو کړم اسمان دوب
«عبدالرحمان مهمند»

بی دردان ئی‌لاس‌سرخی دشفق بولی

که په وینو کړم برجونه د آسمان دوب
« شمس الدین کاکړ »

زه دشمعې په خبر ژاړم تر صباحه

ته د صبح په شان خاندې له‌غروره
« شمس الدین کاکړ »

له ژړامې شوه تازه دزړه داغونه
دمادیار په‌زړه‌کښ جوروستم نشته

لکه تل چه شبنم اوری پر وښو
دروی ئی سپی رقیب را ته پرېښو
« شمس الدین کاکړ »

په سحر ژړا دیمنې نشا نه ده
که فریاد په زوره‌نکړم‌زړه‌می‌چوی

بلبلانو پر ې لوولی گواهی ده
که‌په زوره ناري کړ مه رسوانی ده
« مطیع الله پیر خیل »

هرسحر سترگې د گل له اوښوډکی

په دا باغ کښ ئی ژړلو خندا نشته
« عبدالقادرختك »

روهي گلونه ( ۵۲۵ ) ب : سردار محمد ؛ ح محمدعلی خان ؛ ر عبدالغنی ؛ ن رجب علی ؛ ه اجرائیه پښتو ټولنه تاریخ ۷ - ۱۱ - ۳۲۵ ع

۱۷ - او ښکي :

څه اثر به زما او ښي په تا کاندي

لا تازه شي او ر په او ښو د کباب
« عبدالرحمان مهمند »

هومره او ښي مې بهېږي په رخسار
په ګرېوان مې تل دا وښو باران وری

چه غرقاب مې هم ګرېوان دی هم کنار
نه ورکېږي در حسان د زړه غبار
« عبدالرحمن مهمند »

خدای پیدا کړم لکه او ښکي په ماتم کښې

ځکه برخه مې ژړا شوه له السته
« شمس الدین کاکړ »

پاکوم ستر ګې به او ښو دیار مخ ته

ناروا دی په قران وهل خیچن لاس
« مطیع الله پیرخیل »

په ناولی مخ دیدن د ښکلو نشی

چه څواوند نشی د اوښو په باران مخ
« پیر محمد کاکړ »

له حسرته خپلو او ښکو برسر پوهم

محبت په شان و شکل د حباب کړم
« عبدالله پوپلزی »

دا ورك زړه غواړم په او ښو یې تخلم

زخمی ښکار په پل دوینو پیدا کېږي
« میرزا حنان »

۱۸ - غم :

غم دې هسې غلبه شو په ما باندې
له زګېروی مې نور خلق په عذاب شوه
زه دستا په غم کښې شمعې غوندې ژاړم
زړه مې ستا په اوری هسې او ېزان دی
مادې ستا دانه ېښو په غم کښې سوې
داد ستور دی چه لوی غم په سړی ورشی
هرچه ما په نصیحت له تا جار باسی
سره لمبه ګوره چه څه کا په وچ د کی

چه مې ځای شی نه د نشه نه د باندې
تل دوچو له کبله سوزی تاندې
ته زما په غم کښې صبح غرندې خاندې
لکه زلفې دې په مخ دی او بزا ندې
د دنیا اند ېښنې واړه لکه سپاندې
نور غمونه ئې همه شی تر پښو لاندې
بیا دې ستا په اوری درومی له ماوړاندې
مخ دیار په رحمان هسې چارې کاندې
« عبدالرحمان مهمند »

هسې زه یمه دیار په غم تازه
ستر ګې وخورم که نې وچې کړم له نمه
زه به څه کړم د چا چارې بې دیاره
دیار نوی نوی غم زېږوی وصل
که دې زړه له غمه وچوی دلګیر مه شه
ښایسته یاران ګلونه دی رحمانه !

لکه وی هره ګیاه په نم تازه
که مې شی په دا ژړا صنم تازه
هر سړی دی پخپل سا په دم تازه
رفوی سوی پر هر مر هم تازه
کا تبان کړی په چول قلم تازه
بیلتا نه کړه اکثر مړا وی کم تازه
« عبدالرحمان مهمند »

لکه غم د بختورو له خاطره
قسمت هسې له ښادیو کناره کړم
« عبدالقادر خټك »

تل مطیع الله ځکه سرور په دود نه مې کا
دا مشهور متل دی فریاد غم پر ښادي نوی
« مطیع الله پیر خیل »

غم دیار مې په خاطر کښې محکم بیا موند
په کعبه کښې مې صیاد د حرم بیا موند
« پیر محمد کاکړ »

جای نشین وغم ته تل په انتظار کښې
د کالا پیا نه ی بندی یم د انګریز
« عبدالله پوپلزی »

لاله افسوس کاد زړه له داغه
پسر چمن نه دی خاطر فراغه
کفن ئې رنګه کړ د زړه په وینو
په ارمان ویست خزان له باغه
« شمس الدین کاکړ »

ګوتې چه پر نبض زما ز دی هغه په پرې سوځی
ځکه مې حیران شو و علاج و ته طبیب
« پیر محمد کاکړ »

۱۹ ـ رقیب :

سپی رقیب ئې کښېنولی دی په مخکښې
هر څوك زدی کوُدی په مخکښې د بابېز
« شمس الدین کاکړ »

عشق له عقله څخه کا خلاف کارونه
ګټه زه څوك اشنائې د زور ور څوك
بې هنره سپی رقیب هلته څه غوښت
که و یار ته رسېدای شوی په هنر څوك
« شمس الدین کاکړ »

د رقیب وسر ته وزی تېزی ناست یم
پرې بر ئې نېږدم که ئې پلار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

مافبول د رقیب ناز کړ ستا دیاره
سوداوزیان په دا جهان کښې خوراوورور دی
« عبدالرحمان مهمند »

۲۰ ـ جفا :

ستا د عشق حرفونه تورنه دی ګلګون دی
هم په دا چه نوشته په جګر خون دی
تش به نه شی هغه خم د عشق له میو
چه ئې خاوري د فرها دو د مجنون دی
د دنیا چاري همه وا ړه فانی دی
داد ستا جورو جفاو لې افزون دی
مقتولان ستا د غمزو دی لا له نه دی
چه په سره کفن له مځکې را بېرون دی
در جمان د زړه خوناب مګر قبول شو
چه مخونه د دلبرو پرې ګلګون دی
« عبدالرحمان مهمند »

له خو بانو چه کوم د وفا طمعه
کټوری غواړم د زانو له قطاره
« قلندر »

ن مې پیاله تورو ستر ګو سره جنګه دی
پر لبانو ئې د زړه د وینو رنګه دی
که پر هګری سر په لاس ورله راشم
لا په دائې باور نشی زړه ئې سنګه دی
« تیمور شاه ابدالی »

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج : بدیعي تشبیه گانې

خوله دې گل غنچه ده تور گیسو دې سنبل پانې    ښې ددې دزر کې سپینه غاړه دې دزانې
شونډې دې ژوندون ښې به ستر گو کړې خونه    ژبه دې شکرې ده د ننسه په زړه پانې
هیڅ پرې نه پو هیږم دا دې ژنه که منه ده    خال دې دې په رنه که دانه ده د ممانې
« خوشحال خټك »

کنده ولې د دوا ړو ستر گو ستا په طمعه    وهر لور ته مې نیولې کور په کور دې
چه مې خیال د تر کوو لید و په زړه کښې    د واړه کسې مې و زړه وته نسکور دې
« عبد الرحمان مهمند »

ما په خوا ست وزارې خوله له یاره غوښته    د ه په ناز لکه غنچه سره و نغښته
شه خو حال زما تر غوږه د یار وړو ړه    چه مدام ککا پرتا خواب د ناز با لښته
محبو با پر پا انګک و او ښته په خوب کښې    که هو ستی ده د بهار پر گلو ر غښته
ثمره د بد فرزند ښکنځل د پلار دې    پیدا مشه نا خلف د چا له پښته
« شمس الدین کاکړ »

چه له غنګه د گلرخ مې اغیار کښېښناست    په چشمانو کښې مې گل عوندې خار کښېښناست
« پیر محمد کاکړ »

آهو چشم پسر سبزه د چمن ر ام شو    یا پر تخت د زمرد شهریار کښېښناست
« پیر محمد کاکړ »

که عشاق جنگک وجدل کاباندې څه شوه    پر گلزار وی د بلبلو شر و شور
« پیر محمد کاکړ »

کوم یوله دوه ؤښه دې سپین رخسار که چنبیل گل    کوم یوله دوه ؤښه دې تور گېسو که سنبل گل
« پیر محمد کاکړ »

پر سینه د گلبدن گرېوان یاره شو    د غنچې له چا که رنګک د گل ښکاره شو
« پیر محمد کاکړ »

دا تور خط راغی پر مخ د گلعذار    که غالب شوه په کشمیر باندې کفار
« شمس الدین کاکړ »

چه مې ستا د مینې داغ په خاطر پوړ    زړ غو نه به مې لاله شي له تربته
« میانعیم متی زی »

میانعیم ناست دی ستا دغاړې الېلونه شماری    یکښې پراته دی هزاران زړونه پلیپلي صنم
« میانعیم متی زی »

گو تې تورې کړې په پای کړې دا پورې    زه حیران یم ستا د سپینو گو تو تور ته
« خوا جه محمد بنګښ »

زه دریسې درسته شپه پټ ژاړم لکه شمع    ته صبا خندان لکه گل واز گرېوان دچاپې
« علیخان خټك »

یون ئې د ټد رو ، در بدن ئې دی د سرو     پېر کوی په پلو کښې حمله ئې دسپاره ده
« علیخان ختك »

تماشا چه زه د خپل دا غو نو تل کړم     هم گلشن هم لاله زار په لاس را کښېوت
« مرزا حنان »

د گلرخ په هوا در ستنه شپه ر فتن کړم     دشبنم په څېر پښې پېلې سر سر تور تم
« شمس الدین کاکړ »

او ښې در ، ر نگ گهر با زېده لکه لعل     جنس مې ډېر ولې رونق د بازار ته نشته
« مرزا حنان »

د یار خیال ته مې خالی کړ د زړه غولی     مېلمانه لره تیار شی سرای د ستور دی
« مرزا حنان »

چه دي خیال په خاطر را شی مضطرب شم     لکه پیش چه د مفلس کره مهما ن شی
« مرزا حنان »

چه تا وو یننم تا زه غزل انشا کړم     پری بلبلې فریاد کاندی چه گلعذار وی
« خوشحال ختك »

پر خپل ځای با ندې ولاړ یم لکه شمع     تر فزل پوري رفتار کړم لکه شمع
« شمس الدین کاکړ »

وخت دی راغی دفدا که فدا کېږی     شمعه پلره شوه تازه پتنگه خوځه !
« جمعه بار کزی »

آفرین دي په ول ول تورو سنبلو     چه ئې ځای د پا سه ویښو په گلو
« خوشحال ختك »

## قبیح او ملیح

که یو ځله ئې په سرور باندې کښېنې     رنځ د هجر به شی دفع د بیمار
په مدار مدار به ئې کاږم چه خوږ نه شی     دبانو په ستنې ستاد پو ندې خار
« شمس الدین کاکړ »

# دویم باب ـ اخلاق او نصایح

## الف : ښه خویونه

### ١ ـ اخلاق

کـه د رنګ خوبی ئې ستایې بو دې نشته    په جهان کښې که باقی دې خو اخلاق دی
« خوشحال ختک »

په خو یو کښې ډېر فرق دی    کـه سړی پرې خبردار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا    چه خپل هم ځینې و بېزار شی
ځینې هسې خوی آغاز کا    چه پردی ئې خدمتګار شی
کـه څوک خپل خصلت ښه کا    تر سرو زرو به ر و پیدار شی
« خوشحال ختک »

ثنا د ګل شی له ښکلیه بویه    صفت د مرد شی له نیکه خویه
اهل به نه کا ستاینه هیچیري    د ګل له رنګه د مرد له رویه
« عبدالقادر ختک »

چه ګل همت ئې خوراک لباس وی    په تحقیق هغه ار ذال الناس وی
شرف په خوی دی په دیانت دی    که څوک شریف وی یا څوک کناس وی
« عبدالقادر ختک »

په ښه خوی د سړی قدر قیمت کېږی    بد خصلت سړی یا دیو دی یا پېری دی
چه ئې علم وهنر نه وی ځنې تښته !    بې هنر سړی که وګوري لاشی دی
« خوشحال ختک »

په ښه خوی باندې پردی عالم خپلېږی    په بد خوی باندې خپل واړه شی سوا
« قلندر اپریدی »

که دې رنګ، بو، لطافت واړه د ځان کړل    نور د ګل په خبری پاس په دستار ګرځه
« فاضل »

د ښه خوی ګټه ده ډېره    لـه ګڼلو ترانه تېره
هغه څوک چه اخلاقی وی    د هغه نوم به باقی وی
کـه دچا اخلاق ښه نه وی    د هغه به ژوند ښه نه وی
د اسلام دین دی راغلی    پیغمبر دی پاڅېدلی
چه پوره کی ښه اخلاق    او پر ځای کی دا میثاق
په خویو انسان انسان دی    که نه وی خو تش حیوان دی
مکارم انسانیت دی    رذائل حیوانیت دی
« عبدالکریم کاکړ »

هر طرف پري سره ځمکه سره پنډه شی
په نسب که خان ، نواب قاصی قضات وی

لکه کښت لره باران اوباد په کار دی

رب دي مکړه د اخلاقو پله سپکه
بد اخلاق سړی نه ارزی په کنجله
« احمد گل الـمی »

د عالم تولی په خلق په احسان شی
« خوشحال خټك »

۲ ـ په ځان باور « او » همت :

چه فلك سره سر باسی
کړه ئې ندی بی حکمته

په همت کښې هغه زه یم
زه خوشحال دده په کړه یم
« خوشحال خټك »

په تېرو تورو ور درومې يکسر ننگيان
په له بو باندې ځان ولې پتنگان !
د کنجکو قدر یو ، د در ویل دی
ننګیالو سره څه ژوی بې ننګان
ار تګي د زړه دلیل د جنتي ده
د دوزخ دا ور لایق دی دلتنګان
د باد شاه په سلطنت پوري خندا کا
په سپهر و اېرو اړ لې ملنګان !
نور ماهي ئې تار په تار درومي له مخې
ما تو ی لو اې بېړ ی، نهنګان
دهاتي دپاسه سپور ورته پیکه وی
چه د مېو پیالې آخلی سر هنګان

څه د ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پر ها ر ژ اې پلنګان
« خوشحال خټك »

چه په غوښو ئې روز گار هغه زمری یم
نه چه ولې ئې خوراك هغه مېږك يم
که عالم راته کل تا و کاغم مې نشته
په رښتیا ویل د ډېرو بو لیو لك یم
په دانش په شعور نده په همت ده
چه دا هسې سر گردان لکه پټك یم
هر پښتون چه د مغولو نو کری کا
که دی زر ، د هغو واړو بهترك یم
چه منصب مې د مغل خوړ یو ملك وم
چه منصب د مغل نشته اوس ملك یم
د فرمان د پروانې حکم ئې نشته
شکر داچه په خپل حکم په خپل وك یم
نه مې کار په خاص وعام نه په دیوان دی
نه په درو لاړ د هر یو ه مردك یم
نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر د سند نه د دستك یم
هر گیدی به چه له ما سر کوزی غوښته
د هغه د سر یا توره یا کوتك یم
پښتانه لره شړیء اندېړ مې بس دی
نه په فکر د مسندنه د تو شك یم
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښې
خلاص دغه د زر بفت اود میلك یم
د وښو جونګړي هسې راته ښې شوې
وایې ناست په محلونو د آهك یم
که او گره د بټړ شته په شړو مېو سپینه
د مغولو پلاو پاتې ډېر پري ډك یم
چه نیولی مې داهوډ دننګ ونام دی
که له خپلو هوده وا وړم کنیزك یم
په بل غشې تویك هیڅ ویشتلی نه یم
که و یشتلی یم خو بیا په خپل تویك یم
چه شهپر مې بتی خپل وو کنډ کیرشول
پر وا دار په لنډو پرونو دبارك یم
د کریز بڼې مې تونې لکه باز کړي
گمان مه مکړه چه بې پرو ښا پېرك یم
تف په زړه د همه وا ډو بار کو
لا زما په زړه هم که زه بارك یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دواړو پښتنو را ته تسلیم دی
زه خو بیا د سبا کې انا خشتك یم

نن خو قامرا سره ډېره جفا وکړه
کانده بیا د خدای وحکم وته څك یم

که څه حق یا دنیکی یا دووری شته
و پا داش وته په طمع د هر یك یم

مهمندی زما د کېډی لاس او پښې دی
راضی من دافریدیو په کومك یم

ډېر چینی چه تراوش و کا دریاب شی
چه ایده شم اوس خود ایم یو بولك یم

کر لانی څو بسنی څو چه پښتانه دی
زه د ننګ په کار دواړو مشترك یم

که مي عمر په شماره تر شپیته تېر دی
لا په کار د سوارۍ لکه از بك یم

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال ختك یم

« خوشحال ختك »

❀ ❀ ❀

حواله مې په تیشه د فرهاد ښه ده
تر هغه چه سرد جوشی د حنا وینم
تر هغه چه نا هموار لکه خارا یم
خو ش په طور د مك بې دست و پا یم
« کاظم خان شیدا »

بار دهر خس و خاشاك په خپل ګردن ږده
حو صله دې په مثال د لوی دریا کړه
« کاظم خان شیدا »

راته یو دی بحر و بر
په همت به ئې تسخیر کړم
که څه سمه وی که غر
په شا ها نه شا ن و فر
« احمدشاه بابا »

ای مرزا په خپل اختیار له ځایه پاڅه
دون همت اندېښنه مکړه بله بله
« مرزا خان انصاری »

که فلك ئې د زمری په خوله کښې ور کا
خدای دې نه کا چه عارف په کښې غارت شی
« خوشحال ختك »

څه هغه شهباز څه چه دې ځای په سردرو وی
نه لکه د کلی کارغه ګرزه غم د نس کړه
« خوشحال ختك »

که ئې ته په منت مومې وائې مه خله
که دچا په باغ کښې بوټی د کیمیا دی
« خوشحال ختك »

سر دې د رومی مال دې د رومی پت د نه ځی
چه یې خدای ور کاو چاشکرد کاندې ندی
د سړی د چارې ګل خو بی په پت ده
په جهان کښې لو یه بخره د همت ده
« خوشحال ختك »

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیایی په ښکته
د نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وی
یا عیسی اره وردرومه یاقارون ته ځان سپاره
خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر را اوږده پشتاره
« خوشحال ختك »

❀ ❀ ❀

هغه ژیست چه د عزت له مخه نه وی
اوریې پوری په منصب په نوکری شه
چه یې کا په هغه ژیست پوری هکه پکه یم
چه تر فهم و تر نظر د مغل کښکه یم

په خپل نام ونګ چه را شم لیونی شم    خبر دار کله په سود او زیان دلکې یم
چه په طمع د اوړ و زغلی و شست ته !    ګمان مکړه چه هغه نا پوه سمک یم
تر قضا پورې د هیڅ چا ره نشته !    او کنه تر زاړه ذئب لا زیرک یم
لکه باز په لوی اوی ښکار زما نظر دی    نه چه ګرځی ګونګټ نیسی بادخور ک یم
« خوشحال ختک »

❀ ❀ ❀

که د جام لکه حباب وه نه نیو سینه ته
آفرین دې په همت شیدا ختک ه
« کاظم خان شیدا »

❀ ❀ ❀

په خو غره په غره دباز غوندی پرواز کا    بیا به وانی د خوشحال ختک پر ښته
« خوشحال ختک »

ساقی جام دمیو مه پر ښږده له لا سه    خو دعقل خه زده وی لا به مست کښی
په بلند همت کښی پورته پورته درومی    ښکته ښکته ځی سړی په پست همت کښی
«خوشحال ختک »

چه همت د سړی خو قدری هو مره    د تمیز په تله هر سړی تا له شی
د و لتمن سړی هغه بلبلی بو یه    چه له سینده ئی جدا د چا واله شی
«خوشحال ختک»

نوره پښتو نخوا ه په ځای میشته ده    خو یو زه دی زمانی په کښی منصور کړم
که یی درست د ه تو زور راته ښکاره کړه    نه به بیا په قوم کښی کښېنم نه به هور کړم
عجب مار می جا ر وتلی تر دوه پښو دی    مګر لوی پاڅو پیداشی چه یه دور کړم
مست ها تیان خونی زمری په زنځیر کښېږی    بویه دا چه ځان فلك وته تر بور کړم
په خپل ا ه مې باور شته اثر به وکا !    ر قیبا ن به او ر لړ و نی د تنور کړم
یو دوه سړی ماړمی پروت په دوا ړو پښو دی    په دیدن یې له نشاطه نه نفور کړم
«خوشحال ختک »

کار په خپله تر دستی لکه حباب کړه    چه محتاج دخیاط نه شی پیر هن ته
« کاظم خان شیدا »

د با ښی دباز نصیب شوی تازه غو ښی    دوچ در بو بیخ نصیب شود سپهر کنندي
« مطیع ا لله »

وزی تېږی پروت په خپل پوز کی شه ئې    نه په تخت دپا سه نا ست دبل کره
دمنت پو لا و د ې ز هر شه که ئې مومې    د محنت سو ی سکرك د ساګ سره
« عبد الحمید مهمند »

که د توان رسی په لوی دریاب کښی ګرزه    په بیله کښی د ې زوا ل وینم نهنګه
عاقبت به ککری ور پا ند ی کښېږ دي    تر خراغ چه کیږ و ښی ګرځی پتنګه
هغه یار که په پا لنګ را سره نشته    دا هم شکر چه ئې بوی ځی له پا لنګه
دعمزې په تیغ ئې خوز شه ئې خوشحا له    مړ نی په روغ صورت نه ځی له جنګه
« خوشحال ختك »

که غوټۍ پسې وهې په لاس به در شي
که د جنګ په کار کښې ډېر دي حکمتونه
څه عجب باد شاهي لکه خور شید کړم
د منت دارو که مرم په کار مې ندی

را شه ګوره نامردان بلا و هلي
د آسمان د پاسه ګنبت ننداره نکاه
مړ هغه چه یې نوم نه یې نښان شته
څوك په خپل ځای کړل کا د اغزیو
پسینه کړنه هو مره فاڼیده نکا
چه محنت په ځان قبول کا راحت موی

بنسیا د د چارې په مصلحت دی
چه سره یو شي دا دولده نو که

مردان هغه دي چه همتناك شوي
کار چه آغاز کا انجام یې فرض ګڼي

چه په خپل دخپلو وینو سر خرو ګرزم
چه په وازه خوله موندنه شي مه یې وینم

که دمځکې غوندې کوز په تواضع یم

چه همت دې دپیوس دی ځان بازمکړه

هر سړی په موافق دخپل همت نظر اړینه

مردان هغه دي چه همتناك وي
چه غم پسې را شي پروا دغم نه کا

چه په شان د آفتاب ندی ګرم رو یه

چه همت مې نه کا ډېر په هسکو او
سوال مې خوی له در افشانه ابر ندی
د آفتاب په کمند نه خېژم آسمان ته

چا وی دا چه په دریاب کښې ګوهر شته
خو صبا پر نشي ز لمیه ظفر نشته
یکې تنها په جهان ګرزم لشکر نشته
که علاج لره مې را شي مسیحا هم
« خوشحال ختك »

د پرې میدان پر پېنز دي لرې تې زغلي
کوز د ځمکې د تلې په مینځ کښې هلي
تل تر تله په ژوندون پاڼې ښا غلي
چا په خپل ځای ګډو نه دي کړلي
چه په وخت کړ نه و کا پر آ خلي
رنج و ګنج سره دا دواړه دي ترلي
« خوشحال ختك »

پیا د مرد انو په نبه همت دی
واړه دولت دی حرمت عزت دی
« خوشحال ختك »

دننګې په کار کښې چست و چالاك وي
په زړه هم پاك وي په خوله هم پاكوي
« خوشحال ختك »

څه منت به دد و نانو د دینار کړم
که صدف غوندې حاصل در شهوار کړم
« عبدالقادر »

په همت تر واړه پاس لکه آسمان یم
« عبدالقادر »

ځان په رسم د جانباز و جان باز مکړه
« عبدالقادر »

په ورد و چار و هیڅ کله کاته نکاندي لوی چاري
« عبدالقادر »

په هره چار کښې چست و چالاك وي
خوازه له هر چا په زیست وژواك وي
« خوشحال ختك »

ستا په سر کې په سایه دهما خوښ یم
« کاظم خان شیدا »

لکه موج نکړمه بیم له پر هو تلو
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
په زړه دم بار لکه شبنم پر دوش د ګلو
« کاظم خان شیدا »

۳ ـ امید :

د شپې څپېتن دې سحر ته گوري
هېڅوك دې طمع امید پرې نه کا

له مقصوده نا امید مه شه پکلیخته

دادستور دی چه شپه و لوېږي په څمکه

په ژوندون به لکه شمع دا سرد نه شم

هر گره گره کشالری نیکبخته

گوندې پسرې و خېژي د صبا ستوري
باران په تېز و کېښتو نوا وري
« خوشحال خټك »

خدای په څمکه کامرغونه د هوا پیېنې
« عبدالحمید مهمند »

په شتاب ور پسې صبحدم را ځي
« عبدالحمید مهمند »

چه تر مرگ پورې زما جانگزاری ده
« کاظم خان شیدا »

نا امید له خدایه غو تـه جبین مه شه
« عبدالرحمان مهمند »

٤ عزم او توکل :

دهوشیارو نادان هومره تفاوت دی
که په ما باندې څرخ خوری پروایی نکړم

نه رسي تر یاره هرچه ډېرې اندېښنې کا

هغه باغ چه تل ما واده دبلبلو
دزړه راز و چاته ووایم حیران یم
تو کلت علی الله و ینا یوه ده

په پرېشانو اندېښنو خاطر پرېشان شي

خو دڅمکې د آسمان په مینځ کښې وت دی
دهر هر کله دانا سره په نښت دی
«خوشحال خټك

نورې کیسې پرېږده دعشق په تو کل هسې
«خوشحال خټك»

اوس په ده کښې د بلبلو آواز نشته
په هر اوری چه نظر کړم همراز نشته
د خوشحال دزمانې سره ساز نشته
«خوشحال خټك»

جمعیت مومی خاطر له تو کله
«عبدالقادر خټك»

۵ ـ جد وجهد :

په طلب کښې دې سستی وینم درویشه
نعمتونه رنگارنگ دی په هر لوری
څو طلب هومره موندل دی په دادور
د عسلو خوازه کله هغه مومي !

غشی چه ډېر ولی ښه تیر انداز شي
کار د محنت دی د مشقت دی

هر مرغه چه دبل غوښې خوري مردار دی
دزړې په خیر دلمر په طالب گرځه
کار په تش لستوني نشي بې دلاسه
چه تقوی د یانت نلری رحما نه

چه و تلی یی ددې خونې له ویشه
په غښتونی با ندې نده جفا پیښه
بلکه لا تر طلب بخره مومی بېشه
چه حذر کا د مچی له بده نیشه
« خوشحال خټك »

چه مشق دخط کړی وخط ته سازشي
ودو، ورو، په هر هنر ممتاز شي
«خوشحال خټك»

ځان حلال کړه لکه زانه شاهین مشه
لکه تېنزه هسی پروت په زمین مشه
لاس په توره کړه بې لاسه آستین مشه
د دې هسې همنشینو نشین مشه
«عبدالرحمان مهمند»

چه زمری خپلی منګولی نه کا کښلی ... هومره نه وی ځربې غوښې ورته تلې
مرجونړا درو مرجان هله ولجه کا ... چه قبول کاندی د بحر خونی چلی
عاشقان چه ترسره تېر شی هله ښکار کا ... د ابرو پسې خولې لکه جلې
بازچه والوزی له جالې هله ګوری ... د کبکانو ښایسته ستر ګی کجلې
چه داور بخری یاد سره رفیق شی ... بیا ماله کا په ملکو نو لمبې بلې
چه سیلاب دغره دسره نه روان شی ... بیا هاله بیانی په مخ دېرې خځلې
«خوشحال خټک»

* * *

په تحصیل پسې یې ځکه کوښښ بویه ... خپل هنر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
«خوشحال خټک»

چه توده ترخه قبول لکه دریاب کا ... هم هغه د قیمتی د ر و مآب شه
چه لمبه یې د آتش کړه په ځان تېره ... له هغه پسه د ګلا بو ګل ګلاب شه
د کمال کسب پا یه دسعا دت ده ... هغه ښه چه د کمال په اکتساب شه
ته هم زده مراد وغواړه له عمله ... چه په علم یې عمل وکړ کامیاب شه
«خوشحال خټک»

ښادی غم غو ندې آسانه مونده نه شی ... سور په خپلو وینو لعل د بدخشان دی
«عبدالرحمان مهمند»

زر ندوهنه څه حاصل کاندې چه ګرزی ... یو زمان قراری مه کړه له طلبه
«عبدالقادر خټک»

له آزاره چا بازار مو ندلی ندی ... له انګاره چا ګلزار موندلی ندی
تلوار مه کړه په خپل وار به برخه در شی ... بې له واره چا خپل وار موندلی ندی
په قصور مطلب موند نه شی پسی پاسه ... له ګفتاره چا کردار موندلی ندی
«مطیع الله پیر خیل»

کار کوه کار په کار هم کار دی ... تاوان په ځان باندې خالی ګفتار دی
عقل څه بل دی خبری نور څه دی ... ګوتره ګوینګه طرطا طرار دی
«عبدالقادر خټک»

لکه عامل شوه د خا ورو لاندې ... عمل هم ورك شو په مځکه باندې
او س په خبره برول و بل دی ... د ابیت بازی دی عالم یې کا ندی
«عبدالقادر خټک»

کله به لا دورومی له مهاې د سحر خوبه ... خوب بیغمه نه کا چه په مځکښ یې منزل دی
«عبدالقادر خټک»

چه منت په ځان قبول کا نو راحت شی ... چه عارف د مصیبت شی عافیت شی
«خوشحال خټک»

## ٦ ـ صبر او استقلال :

غشی چه د یږ ولی ښه تېر انداز شی ... چه مشق د خط کړی و خط ته ساز شی
کار د محنت دی د مشقت دی ... ورو ، ورو ، په هر هر هنر ممتاز شی
« خوشحال خټک »

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړ تېي د هر چا نندی سره سمي — دخرد بار د فیل په شا باندې مثقال دی
نه چه لافی د مردانو د میدان کړی — په میدان دی کوم راوړی استقلال دی
کا همه خلق یې سنز شه پخندنه — بیچاره خوشحال په خپل هنر خوشحال دی
« خوشحال خټک »

دمرد چه صبر چه استقلال نه دی — چه غم پرې راشی یکښې خوشحال نه دی
مرد دی یې هیڅ ده و زما په بوهه — که بې په جاه ودولت خوک سیال نه وی
« خوشحال خټک »

اضطراب به دې خلاص نه کاله قضا: — مستقل و ر ته په صبر و تحمل شه
« عبدالقادر خټک »

په تاڅکه راشی خاد ته لو یه — تېښته تسلیم صبر ته بوه
ته به یې دفع په صبرو کړی — نه په لښکر و به زر او زوره
« خوشحالی خټک »

صبر و نیسه په ختکښې که مراد غواړی — هیڅ کړی دغه کار په شتاب ندی
« عبدالرحمن مهمند »

ای حنیانه صبر وکړه مراد به موی — د فلك زر نده په وارده پس و پیش
« مرزا حنن »

خلاص به نه شی سرکشان له گوشمالی — چه فلك به جهان شته دی تلوار مکړه
« کاظم خان شیدا »

دا نا یې مه گڼه چه صبر نه لری — چه صبر نه لری حکمت به څه لری
سړی د صبر به کار کښی و زمیږه ! — چه صبر نالك وی هر څه به ښه لری
« خوشحال خټک »

صبر نا کو سره جور فلك نه کا — د فلك جور د چا چه سبکسار و
« خوشحال خټک »

ژوندی که گرځی خان یې ژړلی دی — تور زن د سر به وینو لړلی دی
چه صبر نه لری ظفر به نه موومی — ظفر له صبره سره تړلی دی
« خوشحال خټک »

شورش مکړه د گردون له کشمکشه — او مه کلکه کا مرغی له اضطرابه
« اشرف خان هجری »

٧ـــ د وخت اهمیت :

دو باره دې را تله نشته په د نیا — نن دې وار دی که دروغ کړی که رښتیا
هرڅه چار چه تروخت تېره شی عنقاشی — عنقانه نیولی په دام کښی د هیچا
تروخ تېری او به بیرته نه چاروزی — نه چاروزی تېر ساعت به بېرته بیا
تېر ساعت په مثال مړی د لحد دی — مړی چاری ژو ندی کړی نه ژړا
هره نېغه چه صحیح گڼه به زړه کښی — په عمر ور به هغه نېغه کړی نه خطا
په عمل د نیکو بدو فهم و کړه — چه به دا کښی دې بهبو د دی که بېدا
« عبدالرحمان مهمند »

چه بې وخته ارمان کاپه وخت ویده وې

که د پېره سعیه کوښښ کړی څه شی
که هر څو مېټ په بېړی ملاح کا

آبشاره ! ولې دا همې ژاړې !
که تل فریاد کړې په کاڼی سروهې !

کړل دی ویل دی دواړه اوان لري
چه کار د نن ورځي پر بېګه دی صباته

۸ ـ زړه

شه سړی پردی په دلاسا په نیکی خپل کا

یو زړه د خوشحال ندی چه جهان یکښې ایده شی

دواړه څکو نه لکه تن دی
زړه یې چون او ییچکو دی

خودی زړه خاندی خوله دې خندا کا
مدار د هري چاري په زړه دی

د ناز کډلو اطو ار مشکل دی
... هم یې نشته ګنډل یې هم لا

منبرو سوځه په اور کښې شراب وڅښه

که هزار ځله تقري پر هېز ګاری کړي

قلب د مومن ګوره ملقب په عرش الله دی

چه ذزړ تو د نیا خلو ... روا وي

و ګوری واړه کاروته خپل کا
خو کله چه آرام ګټي د شکو نام ګټي

د هغه عالمو ز پرې د و شکو دی
« عبدالرحمان مهمند »
په وخت چه نکړی بې وخته څه شي
په ژانګی چه کښېوزي پوري هاله شي
« عبد القادر خټك »
له چا فریاد کښړي خوك یسي غوادی
بیانه ر ا نشي او په نځه لاړه ي
« عبدا لقادر خټك »
چه وخت يې تېر شي افسوس ار مان لري
هو ښیار به نه وي دا خوی نادان لري
« خوشحال خټك »

کومه ښا غلیاده چه خوك بد کا زړه د یار خپل
« خوشحال خټك »
د هر چا زړه مر آت دی صفائي وراره بویه
« خوشحال خټك »
کار د تن جوړوي زړه
خوك دا غمو شه ګڼي زړه
« خوشحال خټك »
چه زړه دي ژاړی ستر ګې ژړا کا
زړه دی مفتی دی هر ه فتوې کا
« خوشحال خټك »
په دا به یوه شی هر چه عاقل دی
که زخمي شو ی د مینا دل دی
« کاظم خان شیدا »
در ته وا یم خود زړونو آزار مکړه
« عبدالرحیم هوتك »
شه دې نشته چه مدام دل آزاری کړی
« عبدالرحیم هوتك »
زار ذ ازار جوړو چه د زړه په بازار بلوسی
« دالپوری حافظ »
ترو که زړه د سړی پوسی څه پکار
« عبدالرحمن مهمند »
مردان هغه دی چه کار د بل کا
د خو زو زړو نو دارو به تل کا
« خوشحال خټك »

نه سړه سم دی و اړه مړو نه! — نه سړه سم دی دهر چا زړو نه
زړه هم هغه ګڼه چه اکثره غم شی — که بیا ئې راشی هزار غمونه
«خوشحال ختک»

مرهم به زړه زده په ډېر هارونه — دا نیا به ګل کړی نادان خارونه
په هره سوړه لاسونه مه منډه — یککښ به خوب کا خونی مارونه
« خوشحال ختک »

زړه دی دهر چا سره صفا وی — په چا ګرم مه شه که دې رضا وی
که څوک ئې ناحقه اغا پرخاش کا — اند وه ئې مکړه ظفر به ستا وی
«خوشحال ختک»

په بدن کښې د زړه اهمیت

زړه په مثل د پادشاه دی — هر اندام د ده سپا دی
قبول د ده فرمان بردار دی — دی پادار دوی خدمتګار دی
کل اعضا ئې مسخر دی — د ده حکم ته مضطر دی
په فرمان یې خوله ویل کړی — لاس نیول، ستر ګې کتل کړی
په بدن کښې ګوشت پاره ده — چه کوچنوټې ئې جثه ده
چه وی راست شی راست بدن شی — چه فاسد شی فاسد تن شی
پس چه شو صلاح فسا د ئې — تمامی په زړه بنیاد
تل مدام اصلاح د زړه کړه — په هیڅ وخت غفلت مکړه
زړه په مثل ګنجینه ده — د ګوهر و خزینه ده
ډېر پکښې دی جواهر — قیمتی نفیس نادر
اول عقل ښه ګوهر دی — د جمله نعمتو سر دی
بل ګوهر ئې معرفت دی — زیات ترنورو په قیمت دی
نور علمو نه حکمتونه — واړه دی اوی نعمتونه
چه زړه هسې خزانه ده — د ګوهر و ګنجینه ده
پس لازم ئې ده ساتنه — له جمله وغلو رهزنه
چه دښمن ئې تالا نه کا — جواهر ئې یغما نه کا
«حبیب الله کاکړ»

چه غرقاب شی نور مژګان په نم د زړه — نور خراب شی خانمان په د زړه
عبث وای غم د زړه وبو الهوس ته — چه پوهیږی هلکان په غم د زړه
په بل مخ باندې سوا د یار له مخه — ما تړلی دی چشمان محکم د زړه
چه یې عرش او کرسی لاندې تر قدم دی — بالا تر دی هسې شان قدم د زړه
د خلیل له کعبې ۱۰ کعبه ده اوچه — که آباد کا څوک ویران حرم د زړه
که نور خلق قدمونه ږدی په مځکه — ما دی ایښی په آسمان قدم د زړه
دامکان چه د آسمان مځکې ترمیان دی — یو خلوت دی دامکان سلم د زړه
زه مرهم د زړه له چا غواړم بې یاره — چه کړی نشی طبیبان مرهم د زړه
صورتی همدان ډېر دی په دنیا کښې — ولې نه مومې رحمان همدم د زړه
«عبدالرحمن مهمند»

همیشه په ځای دشکر شکایت کړي! منکر ښځي په عطا د سبحان و اي!
در ښځلي خدای ده رې چه رپ توان دی په ډېر توان کښې خپل ځان بولي نا توان ولي!
زده د نفس په پیروی در خخه لاړو د خبیث په لاس دي ور کړو قرآن ولي!
« رحمان »

بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره! خو یو مکړه آ زړه ده مسلمان زړه
«عبدالقادر»

مرده دل دي له ټره زړه بیرون کا یو ساعت په کور کښې نه پرېږدي خوك مړي
جمعیت چه لدنیا ید نیا غوا ړی هغه غړی په معنا د شګو بړی
«عبدالقادر»

هر خوك چه یو کا زړه خوله خپل دواړه دو یم به نیت شي ثابت له واره
که کمی ورغی په دین د نیا کښې تاوان یی واړه وزما به غاړه
«عبدالقادر»

هغه چه ستادی چه یی سائل نکړي ویره مې کېږی چه یی دیل نکړي
که دادي خوی دی دادي خصلت دی خپل به پردی کړي پردی به خپل نکړي
«عبدالقادر»

چه زړه له تا نه دچا ښه کېږی ښه کړه د عا ګټه د عا قبلېږی
ازار د هیچا د ا خستو نه دي ښېری د خوږ و زړو نو لګېږی
« خوشحال ختك »

اتو مه ګنج دزړه په ویرانه کښې ښر و ا نګر م د ښهر په عس
«شمس الدین کاکړ»

زړه ولاړ شو اوښی یو وار بسی ولاړ ی لکه چیر ته لښکر دروی د سلطان دوست
« مرزا حنان »

زړو نه مه ماتوه لعل د بد خشان دی بیا مشکل دی ر غول د شکسته ؤ
« خوا جه محمد بنګښي »

چه بهتر تر در ګوهر دی هغه زړه دی چه پراخ تر هر کشو ر دی هغه زړه دی
مکرم په مخلو قاتو کښې انسان دی په انسان کښې چه بهتر دی هغه زړه دی
کم یی مه بو له بیحد ه مشرف دی چه د خدای باندې نظر دی هغه زړه دی
دمکی حج خو موقوف په یوه وخت دی چه مد ام حج اکبر دی هغه زړه دی
که هر څو یی صفت و کړم څه به و کړم چه تر حد صفت بهر دی هغه زړه دی
د زړه شان خو یو بیحد ه عالی شان دی چه تر ډېر خوبو خوبتر دی هغه زړه دی
سرچشمه د معرفت د لوی در یاب دی چه محل د در ګو هر دی هغه زړه دی
څه سیالی به نیشکر ور سره کاندې چه شیرین تر نیشکر دی هغه زړه دی

دا د خولې په وېل حکم دقاضي دی
چه ظاهر وباطن دواړه پرې رو ښان دی
هیڅ اشیا یې لـه فتره بېرو ن نه دی
زه نبی به یې ټـن ڪم هر بیان کړم

چه مقبول دخدای په در دی هغه زړه دی
چه دا همتې بلند لـمر دی هغه زړه دی
چه د درست جهـان دفتر دی هغه زړه دی
چه منبع د هـر هـنـر دی هغه زړه دی
« عبدالنبی »

دلجو یـی به دي تمـام وګړی و کړی

کـه ته هم د د لجو ئی په جستجو ی شـی
« قلندر »

داپند له مـانه په زړه کښې یاد کړه
زړو نه د هر چا په احسان ښاد کړه .

خو دې لا س ر سـی مر و ت د اد ڪـړه
آز اد بنده ڪړ ه بند ه آز ا د ڪـړه
« عبدالقادر خټك »

۹ ـ ژبه

نولا دی تو ره وی که لو یه تېه !
ډېر يې بلا به د ر خخه وا و ړ ی

تر دا لا بـه ده بد ګـو یه ژ به !
ژبه که بده کـړ ي د پند طا لبه !
« خوشحال خټك »

پهواك چه نه اری په کـام کښې ژبه
په بده ژبه ځا ن ځی جهـا ن ځی

که ګـنګـك شی ښه دی په لو یه تېه
ایمـا ن لا هم ځی و ا وره طا لبه !
« خوشحال خټك »

خوږه مرې ده کـه خو ږه ژ به !
هنر هم دادی کـه دا هـنر لـري

چه خوږلا برې خپل کـړی زما صاحبه
چـار به دي تل وی تر سیـا ل غالبه .
« خوشحال خټك »

که هر څو ټېـر یې تـر صحبتو نه
لا به یه ژ بـه ډېـر فهم و کـړ ی

عـلـم اد ب لـر ي فصـا حتـو نـه
د ژ بې ډ ېـر د ی قـبـا حتـو نـه
« خوشحال خټك »

ژبه عـا دت ڪـړه په ښه و یلـو
که يې عـادت کړې په بد ګـوئـی

چه دې عـا د ت شـی هغه تـر تلو
مخ به دې تور کـا تر پر د و خپلو
« خوشحال خټك »

په مر هم دخوشامند سره روغ ښه

هغه زړه چه پکښې تیغ دژبان کښېني
« پیر محمد کـا کړ »

په مجلس کښې دمړورو ځنکه زاړی

شمعې هم ښکـا ره کو له بله ژ به
« عبدالله یوبلزی »

هر سـړې چه شي ګـو یا لڪـه قلم

سر به یې شی له تن جـدا لـکـه قلم
« عبدالله یوبلزی »

درست عالم به داخبره خبردار دی

چه بلبله خپلې ژ بې به قفس ڪړه
« خوشحال خټك »

سلامت کاروان به تیر کړی له رهزنه — که جرس رنګه نکړي په غوغا ژبه
«ملاجمعه»

که تازی ژبه هر ګوره ښه ده — فارسی هم دیره په خوند خوږه ده
چا یی پلو دجمال وانه خیست — پښتو لاهسې بکره پرته ده
«خوشحال خټک»

ژبه په تن کښې څه عجائبه ده — صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مې ځیر کړ ښه یې خبر شوم — جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده
«خوشحال خټک»

جنګ دهانی او مزری آسان دی — د خپلې ژبی آفت لا ګران دی
چه خپله ژبه یې په خپل فرمان کړه — هم یې رستم ګڼه هم لا لقمان دی
«خوشحال خټک»

که څوک نیکان دی که څوک بدان دی — بد ادنیا کښې چه په هر شان دی
مه یې ستاینه کړه مه یی غند نه — نه به یی څه کړي چه دخپل ځان دی
«خوشحال خټک»

د هوښیارو ژبه پټه وی په زړه کښې — راز به نه وایی اشنا و نا آشنا ته
لیز او دیر ویل به نکاندي بی ځایه — هیڅ باطل ویل به نه وایی و چا ته
«خوشحال خټک»

ژبه عادت کړه په ښو خبرو — خبرې ښې دی ښه تر شکرو
دخوند مثال یې شکری وایم — قدری دیر دی تر مرغلرو
«عبدالقادر»

لکه وهی له میدان ګوی داخه ژبه — نه یې شی ودای په تیره کړی شمشیر ګوره
«عبدالحمید مهمند»

که دین دنیا غواړی پرده پوشی کړه — فتنې له خولې پاڅی نو خاموشی کړه
که نه خاموش یی نه پرده پوش یې — بیخوده پر یوزه باده نوشی کړه
«خوشحال خټک»

سخی یی مه ګڼه چه نغن بی خوار نه وی — باتوری مه بوله چه پری پرهار نه وی
که دانشمند وی تفسیر به یاد لولی — چه پر ویل کا دی به هوښیار نه وی
«خوشحال خټک»

ښې خبرې در ګوهر خاموشی مهر — دانا تل ځکه په خوله دغه خاتم زدی
«عبدالقادر خټک»

د میرو میره دخانو خانه — د جهانبانو جان او جهانه
دارنګ لویی به هاله روزی کړی — که وي نیکنیته او نیک زبانه
«عبدالقادر خټک»

بحر خاموش دی سیلاب غرغر لری    سیلاب تش لاس دی سینه امن پرلری
دسیلاب گټه دکانړو دکه ده    بحر په گټه کښی قیمتی در لری

«عبدالقادر ختک»

لهخامی جوش وخروش څېژی لهدښګه    دی له خیلی پختگی پختگان چپ
په ابو بهدي دېوه شی دمراد بـله    کهصدف غوندي پهصبر کړي دهان چب
چه دانه پهخاورو پټه شی خوشهشی    په گو گـل دننه وساته ارمـان چپ
دبلبلو نـاري بڼي نـدی پر گلو    چه پهسر ولمبو کښی سوځی پتنگـان چپ
لـکه کـاه اوکـهربا چه سره بولی    هسي پټهخوله بلل کـاندي یاران چپ

«عبدالحمید مهمند»

سپین ویل دحق کـوه عبدالحمیده!    کهیه ژبه اویزان شي لـکه صبح

«عبدالحمید مهمند»

تماشا دزمـانې کـوه عظیمه !    مه له خولې نهځه وبـاسه مهځه وایه

«عبدالعظیم رانړیزی»

صـافدلان له گفتـگو په خفه کـیږی    شی نفس دآئینی پرمخ غبار سخت

«مرزا حنان»

۱۰ اخلاص:

گـوره څـه بلنـد مقـام دی د اخـلاص    چـه جهـان واړه غـلام دی داخـلاص
کهله ځمکې نـه اسمان تهخـاته گران دی    د اسفـر پـه پـوه گـام دی داخـلاص
چـه خبـر کـا مخلصا ن لـه علـم غیبـه    داهمـه واړه الهـا م دی د اخـلا ص
در واج د رسـم عمـر مـدام نـه وی    لـکـه عمـر چـه مـدام دی داخـلاص
بی اخلاصـه حـلاوت د اسـلام نشتـه    که اسـلام دی خو اسلام دی داخلاص
څهعجب دی کـهمستانوی تـري چـاپیره    هرساقی څخه چه جـام دی د اخـلاص
څه عجب دی که همـاې په دام نښلی    هر صیـاد څخه چه دام دی د اخـلاص
درحمـان کـلام په داسبب شیرین دی    چهیی هر کـلام کلام دی د اخـلاص

« عبـدالرحمـان مهمـند »

هربـاغی بوزي بنـده کـانـدي اخـلاص    هر بـی‌شرم‌شرمنده کـاندي اخـلاص
آب وتـاب‌یی عـالـمگیر لکه افتـاب‌شی    هرجبیـن‌چـه تـابنـده کـانـدي‌اخـلاص
هیـڅ پروایـی دحیوان پـه اوبـو نهشی    هغـه ژوی‌چـه ژنـده کـانـدي اخـلاص
هیڅ مقراض‌یی غوڅولی پـه خوله نهشی    هرپیوند چه پـائنـده کـانـدي اخلاص
هغـه کـار چـه سحر گر کـانـدي پهسحر    تـرهغـهیی څوچنـده کـانـدي اخـلاص
سمـد لاسـه زوړ کـافر دـلـو کـاا و    واسلام تـه خواهنده کـا نـدي اخلاص
دنفـاق له اهلـه ځـن ژغوره حمیـده !    پـهلبـاس بـهدي گـنده کـانـدي اخلاص

« عبـدالحمیـد مهمنـد »

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر باغي او هر سرشوخه هر بي شرمه — همه واړه شکسته کاندي اخلاص
په نيکنوم به عالمګير لکه افتاب شي — مغه څوك چه هميشه کاندي اخلاص
دنفاق دشپي تياره به رڼا ورځ کا — چه سحر غوندي خنده کاندي اخلاص
که بي پښو لره راتقي ملامت يم — که انسان له درنده کاندي اخلاص

« شمس الدين کاکړ »

## ۱۱ ــ راز ساتل :

چه بل خبر کړي د زړه ــ راز يه — هوښيار به څه يي و ماته وايه !
هر چه هوښيار دي هنر يي دادی — خبره نه کا چاته بي ځايه

« خوشحال خټك »

دباد شاهانو به راز خبر مه شه — که يري خبر شي ځان ته غاورمه شه
رازيي دزړه په صندوق کښي وساته — په ښکاروول يي چاته لږ برمه شه

« خوشحال خټك »

که چاته و کړي دزړه خبره — تا کبه يري و کړي چه وبي نغره
که دي خپل ځوي وي ګمان پري مکړه — چه به يي نه کا چاته ظاهره

« خوشحال خټك »

که پټخايه زر کي نه وښکي آواز — نه صبا د ځنې خبرو ، نه شهباز
سکه ليه دي خبر پهسي معلوم يږي — چه خپل صوت دي هر سړي لره غماز
دمنصور وحال ته ګوره حال ئي څه شو — خداى دي فاش دهيچا نه کاندي پټ راز
دربغه دريغه که وروستي عقل ړومبي واى — دانجام خبري نه شي په آغاز
چه منکر پري اعتراض کولي نه ئي — دا دشعر دی رحمانه ! که اعجاز

«عبدالرحمان مهمند»

ته چه مايوښتي ديار ليه حقيقته — څوك ديار خبري کاندي واغيارته

«عبدالرحمان مهمند»

خاص خلوت دښکاريو عام په وخت دخطشي — کم فوت سړی له هرچا سره راز کا

« عبدالحميد مهمند »

ځاى به ځاى به ستا دمال حساب کاوه شي — خپل اسباب د کاله مه ښيه مزدور ته

«عبدالعظيم رانړيزی»

هوښيار به هر کله زمانه سازوی — په دانائی به يي د کار اغاز وی
نادان به هيچيری په داخبر نه وی — په هرهر کار به يي پټخايه راز وی

« خوشحال خټك »

زړه پټخايه مه را باسه و بازار ته — وايه نشی به کو څو دخلوت راز

«عبدالله يوبلزی»

منصوز راز ظاهر او مسوئی ته وخوت — د خلا خبري کله به ملا شی ؟

« دالپوری حافظ »

۱۲– زر:

اوس پەدا دور ماولیدل خوازه دی
نورو چار وو ته څه کوري دا کوره
څکه څه‌چه د آسمان شایست پەزر دی
شاهزاده بی زرو کوښی تنها کرځی
زور، قوت، حرمت هوري درومی چەزروی
هرمراد چەدسړی وی په دنیا کښې

تر پدر تر برا در تر پسر زر
چه صاحب دمسلمان کا کافر زر
ستوری زردی آفتاب زردی قمر زر
دهندو سره روان کا اشکر زر
دپادشاه پەسر څوك کښېږدی افسر زر
دطلب په وخت یی ور کا دربر زر
«خوشحال ختـك»

په خالی کیسه به نرسی تر کامه

څه حاصل که بوعلی شی په قصو!
«خوشحال ختـك»

که هر څو مشکل کارونه در ته پیش شی
ماچه ولیده خوازه دی په دنیا کښې

فکر مکړه چه آسان به په زر نشی
خوسړی دې یی په مینه کا فرنشی
« خوشحال ختك »

که پټوی پە اوریخ کښې هم ترمیاشتی امر تېری کا

همه عالم خبر دی چه زر شه‌دی له درمه
« خوشحال ختك»

زردی چه ز پرمه دننگ وشرم کا
دپر گران کارونه په زر آسان شی

صحبت د هرچا و بله گرم کا
زر په فولاد کښېږدی فولاد هم نرم کا
«خوشحال ختك»

زردې هرچاته اعجاز معلوم کا
وینځه میرمن کا خادم مخدوم کا

معدوم موجود کا موجود معدوم کا
زر په سندان کښېږدی سندان هم موم کا
«خوشحال ختـك»

بادشاهان شه‌دی په ځوانو زر شندی
زر سردا دواړه تو گو د پر گران دی

ځوانان پري شه کا چه ورته سر شندی
یو یوی و شندی نه یی هر یو شندی
« خوشحال ختـك »

زرپه بده ورځ په کار وی
د زر دار بلا په زرو
چه سپروی گذار په سپر شی

هوښیار څکه ساتی زر
د نادار بلا په سر
چه سپر نه وی لاس شی سپر
«خوشحال ختـك»

چاوماته نصیحت کړ چه زرښه دی
چه په کور کښې خزانې لری دزرو
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نه‌وی
هر سړی چه په نام لوی په دولت کم وی
په‌مثال یی دهغې مرغۍ مثال کړه
کوره مادهغه څرنگ ځواب ور کړ
ماوی مرد لره خونام بویه نادانه

تو اول به کا دزرو چه خبر دی
هغه کس که یك تنهادی زورور دی
عاقبت ورڅخه تار پتار لبه‌کردی
په معنا بدر نگه ښځه سپین خادردی
چه سینه یی کشاده تن یی لاغردی
پري په بوه‌شی هر سړی چه‌دا نشوردی
نه دزرو تولول چه بد هنر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هندوخته انبار انبار مهران وی        په‌مهرانو به ښه نه شی مختصر دی
که په‌خره باندې‌دزروصندق بار کړی        خر به‌هیڅ پداښه نشی خر خوخردی
چه‌هنر یی دلویی وښویه لاس کښې        دهغه وجود پارس شو واړه زردی
«خوشحال خټک»

ځکه‌نوم یی دزهب وربانديې کېښود        چه‌دباد غوندې هردم کا گذرزر
«عبدالقادر»

که زړه سخی اری چه مال یی نه‌وی        په‌ځان مې وليد څه حال‌یی نه‌وی
که باز داواړه هنر د ښکار لری        ښکار به‌پېڅه کوی چه‌بال‌یی نه‌وی
«خوشحال خټک»

## ددولت اهمیت

ژبه هم ښه ویناکاندې چه‌یی وینه        دخاوند په‌لاس کښې‌زراو درهمونه
ژبور ور له ورځی وینا یی اوری        ددرهم خاوندان تل‌وی په ویاړونه
که‌درهم بی ځنی ورك شو شی نتلی        پر ړی یی وی په خړو پېژندونه
که‌بیای سونی (۱) وبولی خلق وایی        داوینا ده رښتیاینه له رښتو نه
که‌بې وزلې ووایی ر ښتیا خبره        نور خووایی دخوسونی‌دی تېرونه
هو، درهم ښندی هرچاله لویه برخه        ددرهم دخاوند هرځای پرتمونه
درهم ژبه ده که خوك ژبور کېږی
ده وسله که‌خوك به کاندې قتالونه
«ابو محمد هاشم ابن زیدالسروانی البستی المتوفی ۳۰۰ھ»

چه‌نیستګاره‌شی که‌ځوی داحمدشاه‌ئی        تر تازیات په‌دبدبه دی تا کرداس
«عبدالله یوپلزی»

* * *

۱۳ ـ خپل قام :

هرسردارچه دخپل‌قوم دبدوخیال کا        آئینه‌دې‌دخپل‌ځان حال‌دجمال (۲) کا
پرې کوی ترخپلوپښو لاندې‌ښاخونه        چه‌بدی دخپل‌عزیز په‌زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شی مردار پاتی        چه‌یی نفس دخپل بدوته لیوال کا
چه‌دبلو سرو مال وته هوس کا        ترهغه پخوا به‌ورك خپل‌سرومال کا
هم‌هغه به‌یکښې پر بوځی دامتل‌دی؛        چه وبل وته کوهی کښی وبال کا
دهغو په‌خونه پېښ جنگ‌وقتال شی        چه‌هوس دچا دجنگ و دقتال کا
چه‌له خپلو لاس و پښو شی بېمجاله        له‌غلیم‌سره به‌جنگ‌به کوم مجال کا
په‌پردو مړانه نه کېږی بی خپلو        له‌لحده داواز جمال‌جلال (۲) کا
چه‌تر خپله حده پښه غزوی وړاندې        زمانه به‌یی جمال غوندې پایمال کا
پردی نجره هیڅ‌انده خپله کړې        بلکه‌خپله به‌پرې بایلی چه‌داخیال کا
«عبدالحمید مهمند»

---

(۱) لغات ؛ سونی : دروغ
(۲) جلال اوجمال دوه نومونوته اشارت دی . «خادم»

## ١٤ ـ وطن :

د وطن ونې چنډې اګر دي
که سرای ونورو ته سنګر دي

خاوري يې واړه مشک و عنبر دي
کاڼي يې ماته واړه سره زره دي
« خوشحال خټک »

درزي لا ګزلري مقراض سوزن لري
کوچ يې اسان دی مشکل هيڅ ندی

بوجمدر ګوټي خوشحال خيرن لري
غم ديارانو درد د وطن لري
« خوشحال خټک »

هغه ورځ د هجر غم لره سرا شوم
ماهله ماتم د ځان و کړ په وينو
اوس به څه د وطن کاڼي بوټي ژاړم
بوناوک مې په دل لګ راووړله کوره
په محنت مې بورباض جوړ کړ په دهر
شين فلک به څه داسور شو له هوسه
بوبياړو به د کن نشبه چه مي دم کا

چه له ياره په ژړا ژړا جدا شوم
چه اتلک وته مې شاشو په ژړا شوم
د رخصت سلام مې کړی تري جدا شوم
زاروجار مې د باغ ونه کړ خطا شوم
لا مې ګل بوی کړی نه ځني سوا شوم
چه هوړی جبل په مخ زه ورته شاشوم
ګرفتار په کنج و کاو داژ دها شوم
« اشرف خان هجري »

## د وطن په ياد

ستا د عشق له وينو ډک شو ځيګرونه
ستا په لاره کښې بائيلي ځلمي سرونه
تاته را شمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې انديښني دزړه مارونه
که هر څو مې د دنيا ملکونه ډير شي
زه هېر نشي دا ستا ښکلي باغونه
د ډيلي تخت هېروم چه را ياد کړم
زه د خپلي پښتو نخوا د غرو سرونه
در قيب د ژوند متاع به تارپتار کړي
چه په تورو پښتنا نه کا ګذارونه
د «فريد» د «حميد» (١) دور به بيا راشي
چه زه و کاندم په هر لوری تاختونه
که تمامه دنيا يوخوا ته بل خوا يې
زما خوښ دی ستا خالي تش د ګرونه
(احمد شاه بابا)

خوار غريب او بې نوا وای
خوو طنه ! ستا په خوا وای
وا ته غواړ مه له هنده
چه وطن بسر خه زما وای
خو ژوندی يمه تر مرګه
هم هاغه آب و هوا وای
مېشته خوښ يم په وطن کښې
نه چه هند واړه زما وای
نه دي هند شي نه دي نوم شي
هما غه بېد بېد يا وای
چېر هار کښې کلا شيخ وای
رزق الله او مشغولا وای
« خواجه رزق الله »

بې وطنه نهاپروت يم په غربت کښې
نن له ماسره همدم د صنم غم دی
د هوا داشنا په ستر ګو لېده نشي
که په خوب را ته حاضر شي بس کرم دی
قاصدان له روهه رانغله مدت شو
سلام بادرا رسوی منت يې تم دی
« اشرف خان هجري »

---

( ١ ) فريد : شېرشاه سوري . حميد : سلطان حميد لودين

| | |
|---|---|
| پښتنی جونه دې زلفې بادنه نیسی | چه شمال یې بوی راوړی په رنتمبور (۱) کښی |
| | « اشرف خان هجری » |
| خو به فخر د کشمیر په دوشالو کړي | خو به خیال کړي په اطلسو د فرنګ |
| | « پیر محمد کاکړ » |
| نسیمه ور شه د « سرای » سواد ته | له هغه پسه افضل آباد ته |
| سلام م وکړه په دواړه لاسه | د رود پوارو ګل و شمشاد ته |
| | « کاظم خان شیدا » |
| که ګذر به خیر ابادو کړي نسیمه ! | یادې ګټ وشی د «سرای» د سیند په سیمه |
| په وار وار سلام زما ورته عرضه کړه | ور سره زما د لوریه څو تسلیمه |
| ابا سیند وته ناره و کړه په زوره | و لندی ته و ینا و وایه حلیمه ! |
| ګوندې وی چه پیامې ستاسې جام روزی شی | په ګنګا جمنا به نه وو له قدیمه |
| چه سرې او به دغره نشته په هند کښې | ترې توبه که واړه ډك وی له نعیمه |
| خدایه زړه مې په وصال دهغه خوښ کړي | داچه اوس ور څخه لرې دی دوه نیمه |
| همیشه به په هند نه او سی خوشحاله | عاقبت به عاصی ووزی له جحیمه |
| | « خوشحال خټك » |
| نورجهان سقر شو با ندې سرای دار القرار دی | کله به خوشحال دار القرار لره ور درومی |
| | « خوشحال خټك » |
| د خوشحال د زړه خوښی نشی بی سرایه | خپل وطن یې په هر چا باندې کشمیر کړ |
| | « خوشحال خټك » |
| دهواد یاران مې هر زمان یادیږی | چه نی مخ په خوب کی وینم ویادم |
| | «خوشحال خټك» |
| ښه په هند کښی چنبا ګل دی | تر دا ګل د وطن خار ښه |
| د سرای قدر نور چا نه زده | په خوشحال دی ترفر خار ښه |
| | « خو شحال خټك » |
| درزی لا ګزلری بیاتی سوزن لری | یو جهدر ګوتی خوشحال خبرن لری |
| کوچ یی آسان دی مشکل هیڅ ندی | غم دیارانو درد دو طن لری |
| | « خوشحال خټك » |
| ۱۵ ـ مسلمانی : | |
| په دا دوه حرفه مسلمانی ده | هر چه نه پسندې په ځان په چا مه پسنده |
| چه یی اوس به تو اولو نه مرېږي | همدا خپل دولت به و کا یه تا شنده |
| | « عبدالقادر خټك » |
| چه نه پسندې په خپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان | همداده که ته یې ګورې په صحی مسلمانی |
| نیکانو سره زیست روز ګار په مهر و محبت کړه | بدانو سره زیست روز ګار هم بویه لسانی |
| | «خوشحال خټك» |
| په قوت به داسلام کړي | د کفار انکار غارت |
| | « دولت لوانی » |

( ۱ ) رنتمبور دیو ځای نوم دی چه شاعر هلته بندی و « خادم »

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمسلم نښانه داده که يې و ښئي

په مسلمو کښې خاصه مسلم هغه دی

## ۱٦ ـ آزادی :

وهرچاوته چه وګورم فریاد کا!
په جهان بهیڅوك نه وی چه آزادوی
عقل وهوښ يې ور ی وته پیدا کړ

چه سړي شړومبی یی چښم په وخت داوړی

دحاتم دسخاوت خبري مه کړه

که یی ته په منت مومی وایی مخله

دمغل منصب مې پرېښود هسې خوښ یم
دانا دره عقیده لکه زما ده !
دمغل وته به هسې کار ښکاره کړم
آزادی تر باد شاهی لا تېرې کا

چه نوکری کا څوك ډېر ګنده کا
تر آزادی نه بهتر هیڅ نشته

طمع بلاده اصیل بنده کا !
ماډېر لیدلی دی چه طمع نه لری

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم

که دعقل څه اثر لري و سر ته
په نظر دهغو خاوره سره زر ګڼېږی
بی منته جام دزهرو شکلی ښه دی
دیوسف له حاله زده که دغه پسه
دی فلك وچاته هیڅ بخښلی نه دی
که له خدایه دوي خلقو ته مخ شی
همیشه به در په در ګرزی ر ټلی
ددي سست بدن منت په رحمان باندي

چه اول په شریعت دې استوار شی
« مرزا خان انصاری »
چه يې وشلاوه زنار ددی دنیا
« عبدالرحمان مهمند »

بوزه نه یم د جهان دی سینې خوږي
ځنې عشق اندوه بنده کړه ځنې لوږي
داچېچل دادل دیرانګ دی یادیږي
« خوشحال ختك »
بادشاهی داورنګ زیب زماه غړ که
« خوشحال ختك »
لا به دا کښې هم د طمع نیسا نه ده
« خوشحال ختك »
که د چا په باغ کښې بوټی د کیمیاوی
« خوشحال ختك »
لکه خلاص داو په بنده بند یوان شی
لاعجب که بل پیدا هسې افغان شی
چه راضی راځنې روح دفریدخان شی
چه بل د حکم لاندی شی زندان شی
« خوشحال ختك »
سړی ازاد وی خپل ځان بنده کا
چه څوك په کور کښې خپله دنده کا
« خوشحال ختك »
ښه ښه سړی وی دائی ګنده کا
په بادشاهانو پوري خنده کا
« خوشحال ختك »
که خزان را باندې را شی که بهار
« رحمان بابا »
لاس په سرمشه دهر ګیدی ودرته
هرچه نه لری نظر و سیم و زرته
نه هغه چه منت بارشی و کوثرته
وایه حال د زمانې وبرا درته
چه یې نه دی را پیرودی ځنې پرته
له فردوسه به دي مخ شی و سقرته
دا ستو ګنې ځای به بیانه مومی چرته
چه له خپله دره تلی نه شی بل درته
« عبدالرحمن مهمند »

زندگي که څوك يوهېږي حضورده دی    آینده و رفته کله دچا یاد وی
« عبدالرحمان مهمند »

نه خوښي کړم داحمق سړي دمدحې    نه مي زده مومی اندوه دده له ذمه
دزلفېنو تور حلقو دي عذار و ېنم    که نسرین دي دی په زلفو کښ صنمه
« عبدالقادر »

چه مې شا کړه وښا دېوو ته ښاد شوم    چې د زړه مرادمې پرېښود په مراد شوم
اوس څه غم نکړم له غمه بې غم کرزم    راضی من چه دازل دویش په داد شوم
چه مي طمع ددنیا ور څنې پرې کړه    هغه کس که کیکاوس زه کیقباد شوم
ځان بازید ولی کارونه دیزید کا    له شېخانو ځکه زه بې اعتقاد شوم
خدای مي بیا په کښ بندی مه کړه ترمرګه    احتیاج عظیم زندان وه ترې آزادشوم
هم یې ځان له غمه خلاص کړهم نیکنام شو    دېرمین په وروستنی ضرب دفرهادشوم
بادي بوی عبدالقا دره سحر راوړ    شګفته لکه غنچه په دغه باد شوم
« عبدالقا در ختک »

چه خوښ له ګمه دلګېرله خاره دی    عشق له دو سینه بې اعتباره دی
نه شکایت کړم لچا ، نه شکر    در دمی اه یاره در ېمان له یاره دی
« عبدالقا درختك »

له بېخونده آزا دی شو سه دسر وي    د ګنی پخیر پخو بنده بندی بیا
« عبدالحمید مهمند »

وزی تنږی بروت بخېل پوز کی ښه ئي .    نه په تخت دپاسه ناست دبل کره
دمنت پولاو دي زهرشه ! کي مومی :    دمحنت سوی مکړك له سا کټ سره
« عبدالحمید مهمند »

تخت وتاج ته به سر کوز د همت نه کا    چه په داد ددهر بوه آزاده مرد وی
« اشرف خان هجری »

دافقیر دو لت به مرګمه هسي هوس کا    لکه ستړی مسافر وخپل وطن ته
زنهار حلت په هسی ساعت ور کړه    چه دنیا وربانې نه وی وکفن ته
« دولت لوانی »

آزادی او کارو بار دی سره اېری    لاس له کار وباره وباسه که کار کړې
« عبدالرحمان مهمند »

هر ګدای چه آزا دهوی تري قربان شه    باد شاه'ن دشام دروم که دختن وی
ماتول دبت آسان دی مرد هغه دی    چه مشغول دخپل وجود په شکستن وی
« عبدالقادر ختك »

۱۷ _ انسانیت :

یوي اصل سره دوه او یامذ هبه    خدایه څه بنی آدم فریق فرینښو
« خوشحال ختك »

خلق نادیده دي په خبر و پسي تللي / جار تر عارفانو چه په حال دي پوهیدلي
دوه او یا مذهبه پکښې هومره قیل وقال / واړه سر هوا په خپل مطلب پسي دي تللي
د پردي کتابونه مشتمل په دپرش حرفونه / کل واړه که گوري له الفه دي تلوولي
سل بهي سل سیبه چه یې مات په یوه ځای کړي / سل به بلل نه شي سره یو دي مالیدلي
واړه نور ننمر دي هم دننه هم د باندي / هر چیرته دا نور دي په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال ختك یم د رندانو په مذهب کښ / نور ویل مې نزده مختصر مې دي ویلي
« خوشحال خټك »

## ب : بابیزه خویونه

### ۱ ـ بدعادات :

عدت لا پرشي عادت له سري نه / خدای دي نه کاندي په بدچار عادت څوك
« عبدالرحمان مهمند »
همیشه وي نرم چوب غذا د کرم / شیدا مشه مرد خالي له سیاسته
« کاظم خان شیدا »
ستر گي به سوزي دخس له نامردانو / که همه لکه ایري آتش نسب وي
« کاظم خان شیدا »

### ۲ ـ بی پته خویونه :

پو چه د پر خوري سو گندو نه / بل چه د پر کاندي پو رو نو
آشنائي ور سره کم کړه / دا بي پته دي خو پونه
« خوشحال خټك »

### ۳ ـ کوژتیا :

تر هر څه بد کجئي خطر دی ! / کجي به نه کا چه دانشور دی
الف چه سم شي کجي پسي نشته / ځکه تر نورو حروفو بر دی
« عبدالقادر خټك »

### ۴ ـ بدنیتي :

چه د بل په نامرا دي کښ مرادغواړي / دا سبب گڼه د خپلي نامرادي
« عبدالحمید مهمند »

### ۵ ـ بدگوئي :

چواړی د حلال خور په نامه بولي / له نو خلقو بدگوئي نده مه کنه
ته چه بد له خلقو واني زه و پرهیزم / چیري ي خپله بدي نکړي معینه
له هغو نه به رومبي ستا عیب څرگند شي / چه هر چا و ته دي کړیده خندنه
« عبدالرحمان مهمند »
مه پرچا غیبت تهمت وا یه مه نیوله / مه د بد نامه په هیڅ بندي آدم زده
« دوات لوانی »

٦ ـ بېکاري :

د جمله بلاؤ سرتن اسانی ده
فراغت د بېغمی په ملت کښ شته

لږ غوبی شی خرڅاوه په قصا نو
خه امید د بېغمی کړی طالبانو !
« عبدالحمید مهمند »

٧ ـ ډېراحتیاط :

کل وسواس له احتیاطه پیدا کېږی

زه له ډېري هوښیاری نه لېونی شوم
« عبدالرحمان مهمند »

٨ ـ تذبذب :

کمال د کفر تر ناقص دین ښه دی
چه کله د اشی کله هغه شی

یا درست گمان ښه دی یا درست یقین ښه دی
دا نا ته کله منذ بذبین ښه دی
« خوشحال خټك »

٩ ـ شخصیات :

دزړه غلا په زړه کښ غم ده
هر سر دار چه په زړه غل شی

لا په تېره د سردار
ځان رسوا کا خلق خوار
« خوشحال خټك »

١٠ ـ ظلم :

بازچه وینی د ځیگر خوری مرگ یی زروی
که تر خه دی هم شراب د قهر نغره

له دي وینو ځان ساته زما ځیگره !
ظلم وجور په چا مکړه ځیگر وره
« عبدالقادر خټك »

چه پېشوشی ډېره گیره پسی نریږی
ماشی مړ کاندي هاتی چه سره تول شی
لږي لږي او به تولي شی ملکوران کا

ډېر په ظلم کښ څوك مه کوه گبر گوره
په یوه وجود دي کي مه گړه ډېر گوره
په لږ جبر چېري نه شي داسې گوره
« عبدالحمید مهمند »

باز کرگس شاهین چوڼه تری په هوا شول
بلبلان طوطیان د فکر په تال ځانگی

چه ثابت د عندلیب شو په گلعذار حق
خدای کړ پورته ا دي باغه دمنار حق
« عبدالعظیم رانیزی »

خدای دي نکا چا ته وازی د آزار خولی
په گړ کښ بخته برج هسی میدان کړی
د یوي خولي له آراره وو پېر پېږه
چه پېري راشی د مظلوم د آه سېلی
چه قوصر د آه سر دور باندی لگی
چه اثر د مسیحا لری یې دم کښ
ورځ به شی د غم شپه بېغه خلقو

دغه خوله ده په آزار کښ دښامار خولي
یا تو بو بدی خولی دی یا دو یاډ خولي
که پیر دي دعا کا نه دي هزار خولي
کاله خاورو ابرو ډکی د مدار خولي
ور به نشی د هغه چا د پېر هار خولي
خوږ وی دي هغه خلق په گفتار خولي
چه پیاب بی بد دعا که هر سحار خولي
« عبدالحمید مهمند »

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه داغی یی سپین بشر په اور د ظلم        په لاس مه شه باز پرور د ظالمانو
د مومن د زړه آزار د خدای آزار دی        هم آزار دی پیغمبر د ظالمانو
چه نهال د ظلم کېږدی څنی لاړ شی        تریخ تر زهرو شی ثمر د ظالمانو
آزادی که دي پکار ده شمس الدینه !        له مجلسه کړه حذر د ظالمانو
« شمس‌الدین کاکړ »

هسی خوبښ د ظالمی په کار ولاړ دی        نه به وایی مرګ یې نشته تل به ژوی
« خوشحال ختك »

ر سید لی تر مطلبه به خود نه یی        چه خوږی د د مظلومو د سر وینی
« عبدالله یوبلزی »

١١ قهر :

ما نی مه کوه حنا نه صبر بو یه        جوړ کاروبه خشموران کاندي تلوار هم
« مرزا حنان »

همیشه غوته جبین یی دك له کینه        له خپلواو و کورو کلي مرور یی !
« ملا جمعه »

د جهان کینی غصی واړه تر شا کا        که سړی په وخت دقهر مرګ تر زړه کا
دا پیدا چه خو د بینی ور څخه نشته        د جهان ننداري څکه دوه اېمه کا
په کینه یه حسد هیڅ د چا و نشی        هر سړی چه حسد کاندی ځان او به کا
« خوشحال ختك »

١٢ ـ تعجیل :

دانا وران کاروبه جوړ په دانائی کا        په تعجیل سره نادان کاندي‌هم کار کږ
« عبدالقادر ختك »

په هنر هنر خبري کړه دلبره        تېزی مه کوه په هیڅ کار کښې د سره
« عبدالله یوبزی »

١٣ ـ حرص :

په غم د نورو و غم نه ساز مه شې        سیك و عالم نه به خپل آواز مه شې
سړی په طمعه د بل بنده شی        دعا به دا کړم اخته په آز مه شې
« خوشحال ختك »

١٤ ـ کبر غرور :

دغه زور به چلوي تر کو مه بوري        چه یوازې دي په ځان تمام جهان خوړ
تا چه تېز تېزه سمند د خو د را یی        ما دا ستا دیر بواته هله ارمان خوړ
« عبدالحمید مهمند »

چه کمال غواړی په کبر احمقان دی        په پلیتو اوبو نه کېږی او د س
سبره ! هیڅ به تیتو و نو لو یی مکړه        ستا به هم دغه قامت کاندي روزګار کږ
« عبدالقادر ختك »

۱۵ – بیوفائی :

چه یې نه وینې وفا به رنګ وبوی کښې
زر که څکه مینه نه کا و ګلزار ته
« عبدالحمید مهمند »

چه نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه
تو به و کا زه له یاره د بیوفا
« میرزا حنان »

که یې اوی دزړه په وینو لکه ګل کړي
هم هغه به یې زړه در کاندي شنه تانده
« عبدالقادر ختټک »

۱٦ – طمع :

څوك چه طمع له چا کا په حقیقت کښې
که بادشاه د درست جهان شي لا ګدا دی
« خوشحال ختټك »

نه دی نفس لره جلب د ورکړو لو
امو خته در باندې غل او کاسیر مشه
نور قیدونه و ته سهل دی حمیده !
خو یه غاړه دې د طمع زنځیر مشه
« عبدالحمید مهمند »

له هغو ترخه ویل شی د حق پاتې
چه په خوله کاندي خوږه حلوا د طمع
« عبدالحمید مهمند »

سړی توب به دي سپیتوب کاندي دا طمع
عزت و ساته په صبر که د انا یې
هسي چاري به حرص در باندي و کا
چه په هیچا شوي نه وی بینا به وا یې
« عبدالحمید مهمند »

کهدې زړه وی چه بیاي شې طمعه پرېږده !
څو دي طمعه چاته شته توا نګر نه یې
« عبدالقادر ختټک »

که یاس له حقه تحقیق حرام دی
یاس له مخلوقه د حق انعام دی
اصیل بنده کا خلاص شوی بند کا
طمعه له خلقو د خلقو دام دی
« عبدالقادر ختټک »

شرموی هر یو سړی د دنیا طمع
د سپی توب نامه حاصل کا په دا طمع
همت ناك سړي که خوار وی دو لتمن دی
خاخکی ګوره نه کوی له دریا طمع
د هغه د شرم بو زه په مخ نه وی
چه کوی د نس د پاره له چا طمع
لکه څوك لوبی په خپله حیا کا ندي
هسی ما و ته ښکار پېنږي دا ستا طمع
لکه یو سپی چه هیچرې څټي ال هغې
هسی ده د یو له بل نا صلا طمع
د هغو د عزت پښه د ه بنو پېد اسې
چه به دا زبېره له چا کا ندي بیا طمع
تل د خواست لاس به یې نیولی دی کوڅه کښې
محمدی چه څوك کا بل ته پیدا طمع
د حاتم د سخا وت خبرې مه مکړه
لا پیدا کښې هم د طمعی نشانی ده
« خوشحال ختټك »

۱۷ – ریا :

در یا عمل مې طوق شو را ته غاړه
لکه خپور شی په څیګر د ستار د چا
« شمس الدین کاکړ »

۱۸ ـ بدي :

چه په بدو په رشوت کاندي حکمونه
چه په طمع د دنیا مفتیان فتوی کا

نور مخونه د دوزخ ته قاضیان د رومی
شرمنده به د دوزخ په زندان د رومی
« مطیع الله پیرخیل »

## ج : نصایح

دا همه نا بوغی پیدا کیږی
پیر ځو ، شه سلوك ، لمانځنه ، او بل عدل
کبر جن حریص بی زړه چه دروغ وایی
که وعده یی قیامت وی د غو ښتنی
که طالع یی د دولت په شربت ډك کا

چه دخلقو نیکخواهی اری په زړه کښي
که یی غوږ د دانشمند په نصیحت وی
د ناصح په نصیحت به اصلاح نشی
د مردانو په معراج به ور تلی نشی
مختورن د دوانو کونو ندی خه دی
نیکبختان به اندیښنه کاندی د نیکو
په هغه هنر کښي تښنګئ او سه خوشحاله

په دوستانو تلطف کړه خو په تماشی
د نمانځه تر قضا ګران دا قضا ده
نورانی کا هغه ځای چه سره کښېني
چه په تشه تواضع کښي ګټه کیږی
که حاتم غواندي نرم کړي د مهرانو
خو بدانو سره بدشی هومره ښه دی
که دي سرځی کهدي مال ځی کهدي نور څه
په ظاهر باطن کفران د نعمت مکړه
که راحت غواړي په ځان محنت قبول کړه
که دارو په خواست موندل شی مه یی آخله
که آسمان دي درمری په خوله کښي ور کا
که ژوندون دی هم هغه دی په جهان کښي

خپل استاد و ماته ووي خو پند ونه
وي چه هره بدی کړه هغه بد مکڼه
که دي زړه وی چه بدنه موي له چا نه

خر خشي دعوي نا ساري شر و شور
کهدي دا خویو نه شته ځهغواړي نور
د یاری لایق نه دی دا خلو ر
دهو ښیار سړی به نه وی په کار پور
بیا آخر شی د کم عقل جام نسکور
«خوشحال ختك»

مبارك شه بادشاهی اری بهزړه کښي
خه عجبه آګاهی اری به زړه کښي
هر سړی چه تباهی اری به زړه کښي
که دسعی کوتاهی اری به زړه کښي
چه هر چاسره سپاهی اری به زړه کښي
ګمرا هان به ګمراهی اری بهزړه کښي
هر هنر چه سپاهی اری به زړه کښي
«خوشحال ختك»

د دښمن سره هم ښه کوه خلقت
چه قضا شی د خلور و مصلحت
دیرینه خلور هو ښیار په مشورت
هو مره سود نشته دډك طباخ دست
دیوي دمړی په چا مه زده منت
ولي عفوه کرم ډیر اری لذت
استو ار اوسه په کار د رفاقت
هوا خواه اوسه دخپل ولی نعمت
بی محنته هیڅوك نه مومی راحت
که دمرګئ و ته نژدي کاندي زحمت
دزمری په خوله کښي مه برېږده هت
چه یادیږی د سړی د خوی خصلت
«خوشحال ختك»

هر یو پندی مرغلري دی لا لونه !
چه دلاسه دي آزار شی دچا زړونه
اول ته پرېږده د بدو خصلتو نه

د شهوت په نغوته مه ځه شهوت اور دی
ته کینه، رخه، حسد له هیچا مه کړه
د هر چا سره د ښو سلوك بایده دی
د دنیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
د هر چا سره نری ملایمت کړه !
خپل پردی ته د خپل راز خبره مه کړه
خوشخوئی هر گوره ښه ده نه دا هومره
هغه کار چه په آرمی تر سره کیږی !
و هغو وته چه قهر کړي روا دی !
د هغو په مرگ ثواب گڼلی بویه
که دښمن دي ډیر زبون ته ځني ډار کړه
د دښمن په تملق غلطی مه کړه
عاقبت به خپل ورغوی په غاښ پریکا
چه دي لاس په دښمن برشی پري یې مږده
په خپلوانو باندي هومره خشم مه کړه !
د پادشاه په مهر مینه غلط مه شه !
پادشاهان چه په چا مخ کا د بندی
په هغي معشوقي څه باور د کړو دی
د بیلو پانېي خوره نه هغه پاستی
د بد خویه سره هیڅ بندی نه مه کړه !
د کمذات په ښو خبرو غلط مه شه !
په هر کار کښي چه در پیش شی ښېړه مه کړه
په رښتیا که په دروغو وی سوگند مه خوره
د حرص سترگي مړي په قناعت کړه
که هر څو دي علم ډیر چه عمل نه کړي
د ښه دین دپاره علم، دانش ښه دي
په جهان کښي که مردان دی هم هغه دی
چه بدانو سره ښه کړي قباحت دی
عاقبت به ملکگیری در ځني پریکا
که دي ورور وی که دي ځوی وی چه بد کار شو
چه بد فعل، او بد غرض په کوم ځای ناست وی
چه په کالو وی مشران ته یې حرمت کړه
په هغه کور کښي چه ښځه چړ که بانگ کړي
هرچه شرع فرمائي په هغه کار کړه
نیکو کار په فقراو خیر خیرات کا
که دي زړه له وینو ډك شي و دښمن ته

پیدا اور د ډېرو سوی دی گورونه .
دا زل په ورځ مقسوم دی قسمتونه
په بدی کښي څه فایده د کوم سودونه
تل جهان و چاته نه پریږدی مالونه
گنډي وی چه پداخیل کړي د چازړونه
د بخچی دننه ښه دی خپل رختونه
چه په باغ کښي دي خرتبزي وهي خرونه
څه حاجت چه رساوه شی تر جنگونه
چه اری د بدو فعل بد خو یونه !
چه پی سوځی له شامته غاړي غرونه
په یوه شجري و سوځی ښارونه
د رستم غوندي هم مړه دی په مکرونه
هر چه کار کا د دښمن په ورمونه
د مارانو په غارمه منډه لاسونه
چه پردی ورځني تښتی په منگونه !
زوروور په لږ گناه وهی سرونه!
و سپیڼدو ته تړل نه شی بندونه !
چه په هر لوری یاران لری زرگونه
چه بی خوری د نوکری په خوشرطونه
غلیمان ور له بس دی خپل خویونه
د گیدړ پر، ونه خوازه لری گلونه
په تلوار، سره ورانیږی جوړ کارونه
منافق وی چه ډیر ډیر خوری سوگندونه
چه په کور کښي دي انبار شی نعمتونه
نه حمار پېي په تنا انبلی کتابونه
نه پیدا چه پسري لوټي پردی کورونه
چه و سختی و ته و نیستی لاسونه
د بدانو خو هم تور ښه وی مخونه
چه په لاري تر تا ټپر دروی ستاملونه
په خپروی کازه کړه ور میږونه
د هغو د ناستی تښته په گرو هونه !
بیا هغه چه دي په ځای وی لکه ترونه
د هغو خونو نه ځی برکتونه
مه عمل کوه په رسمی دو دونه
هرزه کار په عمارت کاندي خرڅونه!
لږ و ډیر په زبان مه راوړه غمونه

به هر کار پسې لاس پوری په ځواني کښې    که طاعت که عبادت که نور کارونه
په ځواني کښې چه د کار نه لاسه ووزی    په پيری به دی ونه رسي لاسونه
هميشه او سه خو له پښه لکه ناوې    چه ضرور شي هاله وکړه دوه حرفونه
تر هغه به نه معقول په جهان څوک وی    چه هميش په خندا سپين اري غاښونه
که خبره که خندا کړی جګې جګې !    هره چار تر حساب مه کوه بيرونه
که دې زړه وی چه پټ عيب دې ښکاره نه شي    چا ته مه شماره د خلقو پټ عيبونه
که له تا نه په قوت د متو زيات وی    له هغه سره حجت مه کړه بحثونه
چه توانېږي د هغې خبري لاف کړه    او که نه په دروغ مه وهه لافونه
چه د ښمنو کښې د جنګو خرخشې وی    ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دې واوريدل چه بيا وبله روغ شول    نور به خپله وسله ووهه لاسونه
چه د ښځو نه بتر دی هغه څوک دی !    چه د ښځو سره کا مصلحتونه !
خدای هغه په دواړو کونه دی نما ځلی    چه به ورځ کا عدل وداد به شپه نځوانه
چه دزړه په تمامين دهغو نازوړه    ال نياز منو سره وړی دی نياز ونه
داصيل ښېوه خپل اصل نه ابياس دی    په زړبافو کښې پاتم وی پامړ ووه نه
« خوشحال ختك »
په پيری کښې چه هوس دی دناب کړې    بيهوده ګمان په صبح د مهتاب کړې
داسته ګناه کوې توبه وکا ږې    لکه بت هسې په غټو ستر ګو خواب کړې
علم وکړې بې عمل ورباندې نه کړې    لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړې
په شپه پروت بې دمغان په ميخانه کښې    او د ورځې مخ په لوری د محراب کړې
له خالقه دې نه شرم نه حجاب وی    له رحمان ګوښه ونيسي حجاب کړې
عبدالرحمان مهمند »
کرد ګلو کړه چه سينه د ګلزار شي    اغزی مه کره په پښو کښې به دې لاړ شي
ته چه بل په غشو ولې هسې بوه شه    چه هم داغشی به ستا په لور ګذار شي
کوهی مه کنه دبل سری په لار کښې    چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
ته چه هر چاته پخوار و ستر ګو ګورې    لا دوم بې به ستا صورت تر خاور وخوار شي
آدم زاد په معنی واړه يو صورت دی    هر چه بل آزار وی هغه آزار شي
که نه نه کوی نظر د چاو عيب نه    هر سری به ستا د عيبو پرده دار شي
دهقان کرپه اوږه مځکه باندې هکا    سر کوزی کوه چه پښ دی مرغزار شي
دمات لوښې او از کله ثابت څېږی    د هر چا عمل خرګند پخپل ګفتار شي
واذا حکمتم بين الناس راشه واوره    حق باطل سره جدا کړه معنې نغاړه
مدا ماچه لکه باز غوښې دقام خوری    عاقبت به شي بندی په پښو په غاړه
چوړ وی نوی قصر ونه خبر نه ئې    ان صبا دی ابا دی ويم ويجاړه
فکر و کړه وخت کو تاه دی وږ لو يږې    د دنيا پر لانده پانړ باندې ولاړه !
« مرزا حنان »

نن چه صبح دی رو شانه لار صحیح کا … نا گهان نه به دا صبح شب تار شي
لنړه ئي مه گڼه هر څو که ګناه لنړوی … چه لنړ لنړ و سره جمع کړی بسیار شي
که بل بد کا نه دی ته هم ورسره و کړه … هر یو نخل چه میوه لری سنګسار شي
تل و ښه و و ته آزار د بد و رسي … هر چنجی و نرم چوب و ته دو څار شي
هغه زده به له طوفانه به امان شي … چه کشتی غونډی د خلقو بار بردار شي
خدای دي بدله لاسه نه کا او که وی هم … در حمان دي له کل بد و استغفار شي

« عبدا لرحمن مهمند »

اي مدام د بل په کمه روا دا ره … نیکی نه کوی بدی لره تیار ره
قدم مه ږده پر عاجز میږی په ظلم … نه چه دغه پشه دی و مبتلی له مار ره
هر چه ودی صباح بي راودی لنړ که دیروی … دا چه نن یی پستم اخلی له خوار ره
کبر مه کوه چه کبر پر خدای شانی … چه رانده پدا شیطان شو له دربار ره
تکیه مه کوه پر مال فرزند بي بختۀ! … که دي مال که دی فرزند دی نا یکار ره
دا جل صیا د طلب د استاد روح کا … ته طلب د مال اسباب کړی نا قرار ره
که دا پند د حنان ونیسی په غور کښ … دی بهتر له هغه ګنجه بي شمار ره

« مرزا حنان »

ډیر به ستا په سبب خواب دراحت وکا … که دمهد پهشان ورك دځان ارام کړی

« شیدا »

پند دی سو دمن واوره تور زنه … اسا نه نده د سر بنند نه
مصلحت مه پر پنږ ده د خپله لاسه … هم به خپل راز لری د زړه د ننه

« خوشحال خټك »

همیشه وائی چه خدای مي پیغږ ندلی په یکی دی … که دی خدای وی پیغږندلی مینه مکره په باطله
په خپل حسن غره مه شه که په حسن لکه ګل شی … زمانه به دی خپره په یوڅو ورځي کا زائله

« خوشحال خټك »

د چا وخوان ته خالی کتل مکره … که تل دی خوان خوری منت په بل مکره
چه پری باور نحی هسی ویل مکره … چه مال د بل شی هسی بیا تل مکره

( خوشحال خټك )

منجم که در ته نحسه ادینه کا … یا طبیب و تا ته بدي کا شکري
په جمعه به و نمانځه و ته و نوزي … له شکرو به هم ګرزي لري لري
په قران کښي چه شراب دی منع شوی … ته یی واي لکه یی د مور نغري !

« خوشحال خټك »

عاقبت به یی زده ترلاسه کړي حنانه! … لکه زلفي دنګار تواضع خوی کړه

« مرزا حنان »

لکه ځان ژغوري برېنده تېرو تورو         هسې خپل سر له بېهرو دسحر ژغوره!

« عبدالحمید مهمند »

چه ظاهر غوړوي په باطن سپوروي         په ژبه خوږوي په زړه کښې شوروي
ور سره مه کښېنه تا به تبا ه کا         سپین زر که سپین وی اثر یې توروي

« عبدالقادر خټك »

له همه واړه عالمه صلح کل شه         وښو بدو خوشبویي ور ڪوه گل شه
تعلق په تېر ېد و نی هوس مکړه         په بهار کښې په نارو لکه بلبل شه

« عبدالقادر خټك »

خوك چه نرم ویل کا عمل یې گوره         تګان دم په خوله ویل کا نرم نرم

« خوشحال خټك »

خښتن مو مل دی         اوس مو یسر غل دی         هواد د بل دی
غازیانو گوری، خښتن مومل دی
توري تېري کړی، د ښن مو پرېکړی، منګلی سري کړی،
خله به تېښتو         خښتن مومل دی
که تېښګه کړو زړونه         بر برې یو نه         چه زمری یو نه
اسلام راخخه دی         خښتن مومل دی
غازیانو را شی،         تول شاو خوا شی         دشهاب په ملا شی،
دښن موغوځ کی،         خښتن مومل دی

« شیخ ملکیار فرشبن ستانه داشعر په یوه غزا کښې چه دسلطان شهاب الدین غوری سره ؤ ، د غازیانو د تودولو دپاره درجز په رقم ویلی دی . »

# دریم باب: پښتو او پښتنوالي

## ۱- میړانه او توره:

مرد به نه شي په گفتار ... خو پیدا نه کړي کردار
چه دې و ښکنځي مرد نه یي ... که له تا نه وي په دار
چه څه دي خو انتقام دی ... د مردانو کار و بار
عفوه هور ته ځای لري نه ... چه نه عیب وي نه یي عار
چه عزت و رڅخه نه وي ... هغه مرد نه وي پکار
هم مهره لري هم زهر ... ښه مردان دي لکه مار
چه هم تندر هم باران وي ... تر هغو ځوانانو جار
مرد به غم دخپل ننګ کا ... نه د زر نه د دینار
مرد به غم کا دخپل شرم ... د عزت د اعتبار
نا مرد فخر په نسبت کا ... مرد نه مور لري نه پلار
د خوشحال خبرې گوره ... لعل و در پیېي په تار

«خوشحال خټک»

یا د سپینې توري مرد شه یا عاشق شه ... چه یا د ښېزي په بد لو په سندرو
د خوشحال خټک خوښي په هغه وخت وي ... چه بر ښښا د سپینو تورو شي د زغرو

«خوشحال خټک»

د نامرد، د مرد په دا تفاوت و شو ... په نامرد، شرم آساندی په مرد گران دی
مست هاتیان خوني زمري توري وښکلي ... که د سروبره دی نه شي کار آسان دی
کاشکي ته په دا دنیا همیشه پایې ... په احتیاط احتیاط کښې د هر خلق طوفان دی
که د ځان که د ایمان بدخوامې دېردي ... ما په خدای باندې سپارلی ځان ایمان دی
ننګیالي چه د اخلاص توره په لاس کا ... د هر لښکري د همت پوري کاروان دی
په ښادي سره شریک دي اولسونه ... غم یوازې د خوشحال خټک په ځان دی

«خوشحال خټک»

مور دی نه شي باندې پوره ... چه میړه و نه د کار زار دی
څوک چه شته تر شرقه غر په ... د تورز نو خد متگار دی

«خوشحال خټک»

د رست پښتون تر قند هاره ترا تکه ... سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار
په داهسي وخت، چه وخت د نام وننګ دی ... دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا نابوه دي ... بې د توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دي ... که په پوهه پښتانه وای څه هوښیار!

«خوشحال خټک»

مېړنو له تېښتې شرم دی یو نسه !
د نصیب له پېښې ماڼوه چلب
« یونس »

څه سړی څه یې اند بېر !
که جهان شی تیر وتوره
بې تقدیره به و نه مری
بې اجله مرگی نشته
لکه کار د مړنی دی
د غازیانو شهیدانو
کل گټنه ده د توری
مړنی دی چه یا د پښتږی
چه په دروغ د توری لاف کا
توره نجره د خوشحال ده
تر اوو پښتږ یو پوری
دا د ځان ستاینه نه ده

هم هغه شی چه تقدیر
ستا به مرگ شی خلق خیر
نه په توره نه په تیر
تیغ و هغه مکره تقصیر
هسی کار نه دی د پیر
پیر وا نشته د سمعیر
که کابل دی که کشمیر
په سندر و هم په ویر
د هغو نه یم د لکیر
کال په کال خلق خبیر
واده مړه په تیغ و تیر
حقیقت وایم په ځیر
« خوشحال خټك »

چه په توره یې ځواب ور کړی مردیده
که وجوددی خوك آزار کاندی به چوب
« خوشحال خټك »

چه مین په وسله نه وی
لاس دی سره کا ستر کې توری
مرد دی نه وائی خپل ځان ته
ځان دی و جوړ وی ځوان ته
« خوشحال خټك »

باغ وی سرود وی نقل و شراب وای
مجلس د خاصو کتاب په مینځکښې
ښېښې دلبری ښه ښه احباب وای
نقل د تورو و خت د شباب وای
« خوشحال خټك »

د زنانو په حساب دی مردان مشه
شړی ور پښتون به سل په د که یوسی
چه له زیبه له زینته هم آغوش وی
کشمیری چه ښر گ شالونه یې په دوش وی
« خوشحال خټك »

د بلا نه د اختیار توره په لاس کښې
تند رهم زماله ذاته نه پیدا دی
وقضا وته تسلیم په شان د مړه یم
به سپین زړه که د باران سپینې اوبه یم
« خوشحال خټك »

چه جنگیالی وی دولت هغه موم
دا د واړه تو کسی سره تړلی دی
چه ننگیالی وی عزت هغه مومی
خوك چه محنت کا راحت هغه مومی
« خوشحال خټك »

چه ځان غواص کا گوهر هغه مومی
دا کا رمې خوځله به ځان را غلی
چه بې ننگی واخلی دلبر هغه مومی
له سر چه تېر شی ظفر هغه مومی
« خوشحال خټك »

ستا رقیب که له زما په مخ را تلای شي
د مړو و جنګ ته نه د رومي عورتي
«مرزا حنان»

چه نوري شي میاشت آخره شپه را خېژي
شي ورښمني جامي خوی دار تېنو دی
له یارانو اخلاص تللي دي حنا نه !
پټوه ځان له عالمه په افلاس کښې
د مېړه مړانه نه ځي په کرباس کښې
ګذران د زماني شو په لباس کښې
«میرزا حنان»

د میدان په ورځ چه تښته کا له جنګه
له میدانه تښته کار دی د زنانو
چه د تورو په برېښنا یې وار خطا شي
د ضرور په ورځ به تښته له ګیدړ کا
د عزت صدقه سر د سر د نیا ده.
یا تې هیڅ نشي باقي له نام و ننګه
مړ د به نه تښتي له غشي له تفنګه
مور یې مه وای په هغه غولا تي انګه
چه همېش کاندي خوښي له نای وچنګه
مړ نی به شرم سرور کا بید رنګه
«یونس»

## ملي وحدت

تو له یو دی که غلجي که ابدالي دی
چه عمل یې د نېکۍ وي مېړه هغه
ښه هغه چه یې ښېګڼه د زړه صفا ده
که اغوستي یې ګډ له د خامتا ده
«احمد شاه بابا»

۲ ـ ننګ او ناموس :

چه ننګ کا ننګیالی دی ورته ایښې دی دوه کاره
یا کام د ننګ حاصل کا یا د دوی مینه سپېرېږي
«خوشحال خټک»

چه د ننګ په چارو نه ندی خوشحاله !
که یې نر وینې په سترګو هم ماده دی
«خوشحال خټک»

کاشکي ځوان د پښتانه په ننګ کښې مړوي
چه د قام به ننګ کښې و مړ هغه ځو یه
نه چه ګور لره روان شوم له تلتکه
به عالم کښې د خیل پلار غاړه کا لکه
«خوشحال خټک»

څه یو ازې ننګ په ما را غلی نه دی
چه ښور وا خوري د مغلو وا ده سپي دي
ګور به هم په ژړا سر کړم که یې ور وړم
پښتانه نه د پر دي په غرو نه په سمو نه
د سګانو به خو له څه اخلم نو مو نه
زه خوشحال د زړه دا هومره المو نه
«خوشحال خټک»

چه د بل ننګ و ناموس ساتلی نشي
و به نه ساتي خو ك خیل ننګ و ناموس
«عبدالحمید مهمند»

د خپل رنځ د درد علاج را څخه نه شي
د ګلو خو به هوس شپې ر نه و مه
تلخ ویل پر رقیب شو کوي و ما ته
په حکمت که ارسطو و افلاطون یم
امو خته لکه شبنم په د اشبخون یم
آخر زه شمس الدین ننګی لرم پښتون یم
«شمس الدین کاکړ»

خو وا نخلی له غلیمه انتقام — مرد نه خوب کا نه خواړه کانه آرام
چه د ننګ او د ناموس اندوه یې نشته — د هغه سړی به نه وی احترام
« خوشحال ختک »

نام و ننګ افغانی مې ولاړ بر هم شو — انصاف نشته د خوبانو په بازار کښې
« عبدالله پوپلزی »

واړه ننګ د پښتانه دی ګدا نه ځی — حال یې ورځ په ورځ زبون دی ستا په غم کښې
«خوند ګدا »

په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره — یا به وخوری ککری یا به کامران شی
« خوشحال ختک »

ننګیالی د ننګ د پاره — په هر څه لګوی اور
سر په باد د سری پرېوزه — چه یې نه وی ژوند ندون نور
چه په نام و ننګ اند نه وی — که تل ژوی مخ تې تور
د جهان بلا دې کل وی — خو دې نه وی دیې (۱) سپور
« خوشحال ختک »

سر په دار لاړ شوی ښه دی
نه لاړ شوی په پیغور

۳ ــ ټینګښتیا

قول و بول په ژوندون نشی بدلولی — ځکه ځان په جهل وژنی پښتانه
«عبدالحمید مهمند»

ځان به مړ د عشق په جهل کړم ناصحه! — وا به نودم زه حمید هسې پښتون یم
« عبدالحمید مهمند »

د دنیا ناوې به بیا به نکاح نکړم — که پښتون عبد العظیم یم په نسب
«عبدالعظیم رانیزی»

زما څه بې اعتقاد ده عقیده ده — چه له عجزه پر ملا خم و چاته نشو
« شمس الدین کاکړ »

د مرد چه نه وی وینا محکمه — په ده به نه شی در غلیمه سمه
چه یوی ژبه وی یو خبره — خلاص وی له همه خلاص وی له غمه
« خوشحال ختک »

٤ ــ ښه ځوانی :

جار شم قربان شم دپلار له پنده — راته یې ووې زما فرزنده !
لذت دور کړې تر ساتل ډېر دی — خوی خیر ندی ممسك له خونده
« عبدالقادر ختک »

دلو یې به مقام به هاله کښېنی — که د ور کړې دمړانې په وزرځې
«عبدالقادر ختک»

---

(۱) دیې : لفظ ، کلمه .

د خپل ځان دپاره یم درم اسراف دی    چه په بل خونه ښندي بی اسرافی ده
« عبدالقادر خټک »

تراول کښېول دزرو ښځې کاندې    ور کول بازل بی خوی خصلت دنرو
« عبدالقادر خټک »

چه شجاعت کا دنیا په کف اری    نوم به دنیکو په هر طرف لری
هر چه حاصل کا دا د واړه خوی به    هغه میراث دشاه نجف لری
« عبدالقادر خټک »

که څوا نمردی بل آزار مکړه په گلو    ځان دښو دبدو تیرو ته کړه هدف
« عبدالقادر خټک »

چه کښل خورول بخښل کا ځوان هغه    چه تو ره لری د توري خان هغه
کان دلعل ودیا قوت و گوهر څه دی    چه احسان تري پیدا کیږی کان هغه
چه ئی ته په گړه وخوري حیطه شی    د مجلس سره چه خوږ شی خوان هغه
که دمال دی که دملك دی که د لبچو    چه ئي توان دچا یکار شی توان هغه
په تما مه شپه په ورځی مباشتی کال کښي    چه د خدای په یادو در ومی آن هغه
چه دخوك دوږ اندی روستوځی داخه شی    په تنها وجود چه شان شی شان هغه
و نور چاوته وران مه وایه خو شحاله !    چه قول عهد وران شو وران هغه
« خوشحال خان خټك »

که پښتو ن شی گدا گر د کل جها ن    غگ ئي تلملی دی ودی دی ترېو نان
هسی شه مهما ن نوا زه خلك نشته    لکه خدای چه پیدا کړ یدی افغان
که بهردرته مرزی شی خوپه کور کښي    له ادبه ځان میر ئی کړی تابه خا ن
ده رچا ځای له چه ور شي بي تکلیفه    کټ پو زی در ته تیار وی آش و نان
« میر احمد شاه رضو انی »

## ۵ ـ د پښتو نولی غرور :

زه له ځایه د ماغی په جهان را علم    ماد هسې د ماغ سر ندی زا وړی
له اصلی فو لاده هله تیغ ر غیږ ی    پهوار وارچه څنې لاړ شی و سنپخړی
« خوشحال خټك »

که زه گوری درد آشامو سره شماریم    خوار هغه چه ئي له ما سره آهنگ دی
هر ملځی دسر بازی هنر څه زده    چه په دا هنر کښي سر ښندی پتنگ دی
لا تر او سه ئی ماغزه په قرار ندی    چا چه ما سره و هلی سر به سنگ دی
د گیندیو په ځیگر کښي ئي گولی دی    که لیدلی چا دما د ښکار تفنگ دی
لا په خوب کښي په لرزه پر یوزی له کټه    چه دچا ترغوز زما د توری شرنگ دی
که په دا د رومی گو ري هغه زه یم    چه مي داغ په خاطر ایښی داورنگ دی
در ست جهان می ومغل و ته خیر کړ    ځای په ځای ئي پښتانه وته فلنگ دی
ځنی څه اوپه دعوی لرم په زړه کښي    ولي څه کرم چه پښتون واړه بي ننگ دی

خو طالع را سره‌هسې مدد نه کا
گڼه تېر تر فریدونه مې فرهنگ دی

دخو شحال دزړه دحال ننداره وکړه
که به تخت دپاچه کښېنی هم ملنگ دی

« خوشحال ختک »

چه زما د در ویزې به کچکول تحیر شی
دحاتم به‌زړه به سهم د سوال پرې پووت

« عبد الحمید مهمند »

هسې رنگ له دې ځا له تنها خوښ یم
چه مدام لکه وحشی به صحرا خوښ یم

تر هغه چه خشک طینت د صحرا و یښم
لکه موج او اوه به دریا خوښ یم

چه شاه به بی له اقمې و زې مگس شی
کله زه د هغه خوان به صلا خوښ یم

چه به شان د آفتاب نده گرم رویه
ستا به سر که به سایه د هما خوښ یم

چه به قید یې د قفس کړم لکه زر که
تر دا هسې خنداازه به ژړا خوښ یم

که بیدار لکه تصویر له خوا به نه شو
به دا حال له خپله بخته شیدا ! خوښ یم

« شیدا ختک »

جهان شرم نام و ننگ دی
که دا نه وی جهان رنگ دی

چه وفا و رخه نشته
گل به څه کړې چه خوشرنگ دی

چه یې عشق تر سره کړی
نور خو ک نشته خو پتنگ دی

یه شا قلیو جهان اورت دی
په غږ و لیو باندی تنگ دی

چه خو شحال باندې ناستې کا
دا یو زی ندی او رنگ دی

« خو شحال ختک »

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه سره زر وو
په خیل دور واړه و ښه تېر کړ خپل وار

اکوړی ، یحیی ، شهباز واړه زمری وو
زه هم نه یم د گیدړو په قطار

« خوشحال ختک »

د حاتم غوندې مې خیل و حشم نشته
په عطا کښې له حا تمه برابر یم

سخاوت مې به تقلید په رسم ندی
زه له ځا یه د سخی بابا پسر یم

به و گړی مې خبری د مردی شته
به همت کښې به هرلوری نامور یم

« خو شحال ختک »

هر چه کاندی نوکری د باد شاهانو
خا مخا به د در بانو منت بار وړی

« عبدالرحمان مهمند »

مطیع الله له موره بلاره هم سوال مکړه
سل بلا شر منده گی دی به سوال کښې

« مطیع الله پیر خیل »

در و یزه له در و یزه گرو ناکسی ده
د فلک کچکول ته مه نیسه ، کچکول

چه رښتینی سیده صاف نه وی حمیده !
بولی بولی عا قلان دا هسې بول

« عبدالحمید مهمند »

هسې فخر شمس الدین کاندی به عشق کښې
لکه فخر کړی پښتون به خپل نسب

« شمس الدین کاکړ »

دروغ ویل هغه کاچه بی وېره وی یا طمع
خوشحال به‌دالدنه‌دی حق به وایی خوی یې سرشته

« خوشحال ختک »

روهي گلونه (۱۹۲۰) ... سردار محمد : ح : سراج الدین : ر : محمد امین ن : رجبعلی : ه ، اجرا ، پښتو ټولنه ۲۶-۲-۲۷

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**